
خوست - ویب
WWW.KHOST-WEB.NET
ژن شپه او ښکي توییږي
Ketabton.com
ليکوال : کورس ( بابايي )
ژباړن : سيد نظيم ( سيدي )

ketabton.com - The Digital Library

لیکوال: کــــــورس ( بابایي )
ژبــــاړن: سید نظیم ( سید ي )

## دکتاب ځانګړني:

دکتاب نوم: نن شپه اوښکې تویېږي
لیـــکوال : کورس بابایي
ژباړن : سید نظیم ( سیدي )
خپرندوی : صمیم ادبي ټولنه
لړ : (۲)
چاپ شمېر: زرټوکه
چاپ نېټه : ۱۳۸۲ لېږدیز_لمریز
کمپوزګر : امان الله (عابر )
www.khost-web.net

چاپ ځای: دنورمطبعه

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

خپلې ډېرې درنې مور او ډېردرانه پلار ته يې په ټوله کولتوري اوفرهنګي مينه ډالۍ کوم چې په شپږ کلنۍ کې يې د قلم او کتاب سره اشنا کړم.

( سيدي )

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

دانړې او ځمکه هغه خوږونکې هدیره ده چې تل یې د انسانانو مړو ته خوله خلاصه نیولې وي او تل یې د ځمکې پرمخ نېک او شریف انسانان خوړلي دي.
د دې نړۍ رڼا هم نوره پیکه او تته شوې ده چې پس له دې به د ژوندون څُمارغځونو ته پرې نږدي.
ننني انساني قانون هم هغه ړنده او کڼه محکمه ده چې د بډایه او ظالم په غاړه او لاسونو کې یې د ګلونو هارونه او ګېډۍ ورکړي او د مظلوم په غاړه او لاسونو کې د دار کړۍ او ولچکې.
د اوسني ډېری انسانانو د تربیت او تهذیب ولکې د هغه بې قېزې آس په لاس کې ورلوېدلي چې تر دې دمه یې بې وسه او بې کسه انسانان ترپښو لاندې کړي او د زمانې د تاړاکونو په نامه یې دل او دُل کړي دي.
په دې نړۍ کې د انسانانو د پیدا ښت نېټه له نېټه لیک ( تاریخ ) څخه رانیولې بیا تر نن پورې هېڅ کله داسې انسانان پیدا نشول چې حتیٰ په سلو کې دوه سلنه یې هم دخدای ( ج ) قانون په اره توګه پلې کړي او په واقعیتونو سترګې پټې نکړي ،
ځکه دا یوه زبات شوې خبره ده چې د درد نغمه ، دناچارۍ او بې کسۍ سندره ، د زندانونو غروبونه او ټول هغه وچ او سپور اوازونه چې سل ډول څړیکې او دردونه په کې نغښتي دي په احساس لرونکي او دردلرونکي زړه باندې اغېزه وښندي.
د نړۍ په ټولو انسانانو کې به داسې څوک پیدا نشي چې تراوسه پورې یې د درد ښکه نه وي کړي او د زمانې په پنجو کې نه وي رانښکېل شوی.
که انسان هرڅومره لوی شي او هرڅومره د خدای یۍ دعوه وکړي ، بیا به هم غم او درد ورباندې راځي او هرومرو به د مرګ ترخه زهر تر ستوني تېروي.

ketabton.com - The Digital Library

دا دې ځوک نه وايې چې مهال به تل د ده په واک کې وي او تل به د دغه عېش اوعشرت څخه خوند اخلي. دخدای (ج ) غونډال ( نظام ) ډېر ټینګ او تل پاتې دی ، دخدای ( وېش ) او ورکړه په یو ډول او مساوي توګه ده ، هېڅ کله به څوک د خدای ( ج ) په قانون کې تېری او ظلم پیدا نکړي ، هرډول تېری اوګډوډی انساني قانون کې دي او د هر ډول ستونزو زېږېدونکي په خپله انسانان دي ، ځکه که چېرې د خدای ( ج ) په غونډال کې دمال او دولت له پلوه اوچتوالی او برتریت وای نو نن به ټول پاچایان او پانګوال د سرو زرو په کفنونو او تابوتونو سره خاورو ته سپارل کېدل او تل به یې په قبرونو پیرې کېدلې. هېڅکله داسې ونه شول او حتیٰ کفارو هم دا کار ونکړ ، ځکه څو ځوځلې یې دا کارونه تجربه کړل او ...

سره ددې چې د هر ډول ستونزو او فسادونو زېږنده انسانان دي ، خوبیاهم یو ډول انساني عاطفه او مینه په کې ژوندۍ ده چې کله ناکله د انسانانو ولکې تخنوي او د نیلي آس څخه یې را کښېباسي.

انسان اړ دی چې د ټولنې رنګینۍ اوښایست لپاره مینه هم وکړي او د دې مینې مراندې دومره وغځوي چې په کې ورک شي او ټول مینه مینه شي ، نو که هرکله یو انسان د مینې په ارزښت پوه شي او په ریښتینې توګه مینه وکړي ، نو ټولنه جوړه ده او د هېڅ ډول تشنج زمینه به برابره نشي.

په هر حال خبره نه اوږدوم او دلنډېدو درشل ته یې ځم ، دغه ناول هم دیوې رښتینې مینې زېږنده دی چې د دوه زړه بایللو د ژوند او د زړه د مراندو د کلکوالي او نږدېوالي استازي کوي او ...

زه نه غواړم چې دناول د سکالو او منځپانګې په اړه وغږېږم او یا پرې قضاوت وکړم ، خو دومره ضرور ویلای شم چې ډېر څه په کې شته او همدغې شیانو اړ کړم چې وېې ژباړم او ستاسې درنو مخې ته یې کېږدم ، څو په خپله پرې قضاوت وکړئ او سمه ګټنه ترې پورته کړئ.

په پای کې د دوو خبرو یادونه اړینه بولم او هغه داچې لومړی د ډېر لوی او متعال خدای ( ج ) شکر پر ځای کوم چې دومره وخت یې راکړ دا ناول وژباړم او ګرانو مینه والو ته یې وړاندې کړم او دویم داچې د غزني ډېر محترم او په کولتور مین والي ښاغلي معراج الدین پټان څخه مننه چې زما ددې کتاب د چاپ چارو مالي لګښت یې په خپله غاړه واخیست.

ketabton.com - The Digital Library

دغه راز دګران لیکوال او شاعر عطاالله حیران څخه هم یوه نړۍ مننه چې زماد ډېر ډېر ګران استاد څېړونکي ، لیکوال ، شاعر ، ادیب ، ناقد او ... استاد محمداصف

( صمیم ) په نامه یې ټولنه جوړه کړه او بیایې ماته دا ویاړ راوبخښه چې د درانه استاد دټولنې له خوایې راته دا کتاب چاپ کړ چې زه یې د احسان او مینې څان پوروړی او منندوی بولم.

خـدای (ج ) دې حیران صاحب ته ټولنه بریالۍ او قلم تېره لري.

په درنښت

سیدنظیم سیدي

کابل پُل آرتل

۲۲/۱۲/۱۳۸۵

# لومړی څپرکی

کله چې له ما جلا شوه ویې ویل: زما ښایسته ګله ،که سل کاله وروسته مې قبر وسپړې او زړه مې شته وي نو وبه ګورې چې پرې لیکلې وي یوازې له تا سره مینه کوم.

دشپې وروستۍ شیبې وې چې چا ټلیفون کې راته وویل: دسپند په واټ کې مړی شوی اوبې له دې چې نور جزیات راته ووایي ،غوږۍ یې کېښود .

خومخکې له دې چې غوږۍ کېږدې سمدستي مې ترې وپوښتل : آیا دپولسیو مامورینودوژنې خبر تائید کړی دی ،نوموړي دهو ځواب راکړ ، بې له ځنډه دخپلې

ketabton.com - The Digital Library

ورځپاڼې د عکاس او موټر سره د پېښې ځای ته ورغلم ،سره د دې چې لا سهار نه و را دبره شوی ، خوبیا هم ډېری خلک چې تازه له خوبه راپاڅېدلي وو له هغې کور سره یې ( چې مړی پکې شوی و ) ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه ،او د پېښې په اړه یې خبرې کولې ، د سیمې دیوه اوسیدونکي له خولې خبر شوم چې یو سړي خپله مېرمن وژلې او په خپله تښتېدلی دی ،په دې وخت کې دولتي امبولانس چې ډاکټران په کې ناست ول ،د پېښی ځای ته راغلل اوورپسې د جنازې پولیسو موټرهم ښکاره شوچې جنايي کسان په کې ناست وو ،ډاکټران ،جنايي پولیس اونورعادي پولیس ټول په بیړه د مړي کورته ورننوتل ،ترلږ ځنډ وروسته زه هم کور ته ورپسې د خبر چمتو کولو لپاره ورننوتم ،کورډېر ښکلی نه ؤ ، د کورپه غولي کې یوه مړه ښځه په ځنګ پرته وه ،چې په غاړه اودبدن په نورو ځایو نو یې شنې چاپې له ورایه معلومېدې ، ترلږ ځنډ او خاموشۍ وروسته ډاکټرانو د مړي په کتلو پیل وکړ او دایې مالومه کړه چې هغه تر داوو او دنګلو وروسته زندۍ شوې ده وژونکي ( قاتل ) دهغې دژوندۍ پاتې کېدو ټولې هیلې په خاورو لړلې وې ، دډاکټرانو له کتنو معلومه شوه چې مقتوله نشه او مسته وه او دخولې څخه یې دشرابو بوي راتلو، د ډاکټرانوترڅېړنو وروسته سمدستي جنايي مامورینو خپلې پلټنې پیل کړې ، دا چې قاتل تښتېدلی و، نو پولیسو دګاونډیانو څخه پوښتنې او ګروېږنې پیل کړې ، څو ګاونډیانو یې پولیسو ته وویل دمقتولې نوم ( شهلا ) دی او په دې کور کې یې له خپل یوه زوی او مېړه سره ګډ ژوند کاوه ، دنومړې ښځې دمړینې څخه څو ورځې دمخه یې زوی دکور په حوض کې دلویدلو له کبله په حوض کې مړ شوی و ، په داسې حال کې چې دشهلا مېړه هم په مسافرت کې شپې سبا کولې ، مګر یوې ښځې چې ددې ګاونډۍ او دیوال شریکه وه جنايي پولسیو ته وویل: تېره شپه (( بهمن )) چې دمقتولې مېړه دی له مسافرته راغلی و او تر وژنې څو دقیقې ترمخه مې دهغوی شور او زوږ واورید ، نومړې ښځې زیاته کړه له کومې ورځې چې دغه خلک دې سیمې ته راغلي دي تل یې په کورکې شوراوزوږاوربدل کېده،اوپه غالب ګومان بهمن هم دهمدې شخړو له امله خپله ښځه وژلې ده ، په همدې شېبو کې چې جنايي مامورینوڅېړنې پای ته رسولې پولیسو خبر ورکړ چې وژونکي خپل ځان دپولیسوحوزې ته تسلیم کړی دی او اعتراف یې کړی دی چې خپله مېرمن شهلا یې زندۍ کړې ده. خو دمړینې لامل یې نه دی ښودلی ، د دې خبرې په اورېدو سره جنايي مامورینووویل مړی دطبي څېړنو لپاره عدلیې روغتون ته یوسئ ، څو دقیقې وروسته یې دشهلا مړی دخلکو دګڼې ګوڼې او ها ها څخه راوویست او

ketabton.com - The Digital Library

دروغتون پرلور يې بوت ، پوليسو دخلکو ګڼه ګونه خوره کړه او د شهلا دوژنې دځېړنې په موخه دجنايي څانګې پر لور روان شول،دساتونکي دخونې په يوه کونج کې دلرګينې څوکۍ پرسريوښايسته ځوان چې په څېره کې يې له ورايه دخپګان او ناکرارۍ نښې ښکارېدې او په لاسونوکې يې زولنې پرتې وې ناست و ، دجنايي افسر درانډنوتلو سره سم دنومړي ددرناوي لپاره له خپله ځايه پاڅېده او بې له دې چې څه ووايي په خپل ځای کې کښيناست ساتونکي افسر جنايي پلټونکي ته دنومړي دوسيې د ورکولو په ترڅ کې وويل: چې قاتل دخپلې مېرمنې دوژنې په جرم اعتراف کړی دی خو تر اوسه يې دوژلو د لامل په توګه څه نه دي ويلي او دتحقيق په ټولو پړاونو کې يې خو له چوپه وه، جنايي پلټونکي سمدستي دساتونکي له خونې ووت او بلې خونې ته ولاړ او امر يې وکړ چې بهمن راولئ.

نږدې يو ساعت نومړي له بهمن څخه پوښتنې اوګروېږنې وکړې خو نومړي تورن يوازې يوه خبره کوله چې ما خپله مانديڼه وژلې ده او نور څه په دې اړه نلرم چې تاسې ته يې ووايم ، جنايي پوليس فکر وکړ چې وژونکی رښتيا نه وايي نو امر يې وکړ چې بهمن دمحکمې زندان ته بوځي ، جنايي مامور دځېړنو له خونې راووت او پوليسو بهمن په داسې حال کې چې په لاسونو کې يې زولنې پړقېدې دمحکمې دزندان پر لور روان کړ.

زه دقتل دخبر ا وتصوير تر لاسه کولو وروسته دورځپاڼې دفتر ته لاړم او په داسې حال کې چې تر دې دمه مې ددې پېښې په اړه فکر او سوچ کاوه خبر چمتو او دورځپاڼې مسوول مديرته دچاپ لپاره وسپاره اوپېښه له ټولو جزياتو سره چې دپوليسو پوښتنې او دبهمن يا قاتل چوپتيا ،دکليوالو شور او غوغا راپور مې مسوول مدير ته وسپارل او ددې ورځې په مازيګر ورځپاڼې کې چاپ شول ، ددې مينه وال وم چې دالړۍ او پېښه وڅارم ځکه تر اوسه داسې پېښو سابقه نه درلوده چې يو څوک دې لومړی قتل وکړي او بيا دې په داسې ساده ګۍ اقرار هم وکړي له جنايي مامور نه مې په ټېليفون کې څوڅو وارې وپوښتل چې تورن څه ويلي اوکه نه؟ خو هغه راته وويل څوڅو ځله مې څېړنې ځنې وکړې خو هغه بد بخته هماغه يوه خبره کوي او دقتل لامل نه په ګوته کوي او يوازې دګاونډيانو څرګندونې يې دي چې په دوسيه کې ليکل شوې دي

ددې لپاره چې دپېښې موضوع ښه روښانه شي نومړې دوسيه سترې محکمې ته وړاندې کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

دپېښې څخه څو میاشتې تېرې شوې وې چې دمعمول سره سم دورځپاڼې دفتر ته لاړم مسوول مدیر راته وویل ټاکل شوې چې دبهمن محاکمه په دې نږدې ورځو کې ترسره شي او ته بویه هغه څه چې په محکمه کې تېرېږي کټ مټ ورځپاڼې ته ولیکې نو ورته مې وویل سمه ده ، زما هم ددې پېښې روښانتیا ته نوره تنده زیاته شوې وه او ځیروم چې دبهمن محاکمه به څه وخت پیلېږي ،خبر شوم چې دراتلونکې اونۍ په خالی ( شنبه ) ورځ به دمحاکموله تالارنو څخه په یوه تالارکې محکمه کیږي.
دخالي په ورځ محاکمه پیل شوه او د پیل نه خلک خورازیات راغلي ول،خونومورړي په ټولوپړاونوکې چوپتیا غوره کړې وه ترڅومحکمې اعلان وکړچې سبا محکمه خپله پریکړه اعلانوي او دتورن په اړه به نهایي تصمیم نیسي،سبا خبرشوم چې وروستۍ غونډه ده اودخلکو به هم ګڼه ګونه ډیره وي نو ترنورو ورځو لږ څه دمخه دورځپاڼې دفتر ته لاړم له مسوول مدیراویوڅوتنونوروکارکوونکوڅخه پرته نورڅوک نه وو راغلي ،جریان مې مسوول مدیرته ووایه اوله عکاس اوډریور سره یوځای دمحکمې پر لور روان شوم کله چې دجنایي سالون مخې ته ورسېدم ،نودخلکوګڼه ګونه مې ترسترګو شوه ،داسې ښکارېدل چې دخلکودزیادت له امله خلک ددروازو ترشا ولاړدي، زه له عکاس سره یوځای دخبریالانو په ځانګړیو څوکیو کښېنا ستو ، پولیس هم د دروازې ترڅنګ ولاړ ول چې دزیاتوخلکودراننوتولومخه ونیسي،شاید د جنایي پېښوپه محاکمه کې دخلکوداډول اله ګوله بې سارې وه ، د وره تر شا خلک به هرو مرو پښېمانه ول چې ولې وختي نه راتلل چې څوکۍ یې نیولای وای خوبله چاره نه وه باید دمحکمې ترپایه همداسې دوره ترشا پاتې وای.
دا داسې محاکمه وه چې یو تورن دوژنې په تورمحاکمه کېده اوبرخلیک یې ورټاکل کېده زه هم په یوه کونج کې دخلکو ترمنځ منتظرناست وم،مخامخ راته قاضي ناست وچې په رسمي کالیو کې دریاست پرګدۍ ناست دی اوټول دده دامر انتظار باسي.
ترلږځنډه وروسته دقاضي د څټک وچ غږ دخلکو په منځ کې انګازې جوړې کړې اوخلک یې اړویستل چې چوپ شي ، ټول خلک منتظروو چې دداسې یوچا محاکمه ده چې په ټولوتحقیقاتوکې یوازې په قتل اعتراف کاوه اونورڅه یې نه ویل نن یې برخلیک ته ډیرخلک په تمه وو.
وروستي ځل لپاره دقاضي د څټک غږ د خلکوساګانې په مرۍ کې زندۍ کړې او یوې غلې چوپتیا دمحکمې فضا محاصره کړه او غږ غوږ ورک شو ، دمحکمې ریس په جګ

ketabton.com - The Digital Library

اواز وویل : ( د ۴۴۹ نمبرقیدي .... ) یو جګ سړی دخپلو جړوبړو ویښتانو سره د تورنو له ځایه راجګ شواودویم ځل لپاره بیرته بې له دې چې څه وواییي کښېناسته، یوه عجیبه هاها دخلکوپه منځ کې تاوه راتاوه شوه ، ښځواونجونوبه ویل چې غریب ته وګورئ له ځبرې خوېږې نه معلومیږي چې قاتل وي په دې وخت کې قاضي خلکوته ګواښ وکړ چې شوربند کړي اوبیا یې مخ دمجرم پرلوروااړاوه او ویې ویل : ددوسیې داسنادو او شواهدو ستادګاوندیانودشهادت اوستا د خپل اعتراف له مخې ته مجرم یې ځکه څه موده وړاندې دې خپله بډایه اومالداره مېرمن وژلې ده ،آیا ته په خپلو خبرو معترف یې ؟
قیدي دقاضي دخبرو پروړاندې لاخپل غبرګون نه وو ښودلی چې مدافع وکیل له خپله ځایه را جګ شو ویې ویل : دمحکمې ښاغلی ریس صاحب ددې خبرې په پام کې نیولو سره چې نن دمجرم دمحاکمې وروستۍ غونډه ده اجازه غواړم یوڅو خبرې عرض کړم.
په داسې حال کې چې دروند اولړزیدلي اواز یې انګازې کولې داسې وویل : څرنګه چې تاسې پخوا لاخبر شوي وئ چې څوک په قصدي توګه څوک ووژنې دقانون له مخې اعدامیږي ، نو د ټولنې نظام ایجابوي چې قانون دمجرم په اړه خورا په جدي توګه پلې شي ترڅو د نورو لپاره عبرت وګرځي چې له داسې جنایتونو څخه ځان وساتي ،له دې امله ښاغلي قاضي صاحب څخه هیله کوم چې قانون په سمه توګه پلې کړي ،ځکه داکوم قاتل چې په ډېرې بې رحمۍ اوشقاوت سره یې خپله ځوانه اومعصومه مېرمن وژلې ده .نوموړي دمحاکموپه ټولوغونډوکې په خوله مهرلګولی واوچوپتیا یې غوره کړي وه او د وژنې په اړه یې هیڅ هم نه دي ویلي.
ټول پوهیږي چې دمجرم چوپتیا ټولو محکمو کې دښاغلي قاضي صاحب حوصله تنګه کړې ده اوزه یقین لرم چې نوموړی غواړي چې قاضي ته وښایې چې ګواکې هغه لیونی دی او دلیونتوب له امله یې چوپتیا غوره کړې ده موږ دمحاکمو ددوسیو په ترڅ کې ډېر مجرمان ولیدل چې دځان ژغورنې په موخه داسې کارونه کوي او بهمن هم دغه لاره غوره کړېده او ښکاره ده چې دا ځل به هم خپله چوپتیا ماته نکړي وړاندیزکوم چې دښاغلی قاضي صاحب دې قانون سم پلې کول په پام کې ونیسي اودټولنې داصلاح لپاره دې امر صادر کړي اوپه ضمن کې دې پاملرنه وشي چې مجرم باندې دقانون عمومي مجازاتو له مخې داعدام حکم صادر شوی دی مدافع وکیل چوپ شو اوپه خپل ځای بیرته کښېناست ، دټولو ګډونوالو سترګې دمجرم پر لور وروا وښتې څرنګه چې دمجرم مسلسل غمونو په زړه کې څپې وهلې، یوه عادي اوله ملنډو ډکه موسکا یې پر شنډو خوره شوه پدې

ketabton.com - The Digital Library

وخت کې چې غم ځپلې سترګې يې دقاضي په وجود کې ښخې کړې وې په ارامۍ سره له ځايه راپاځېداومطلقې چوپتيا فضا نيولې وه ،تورن په داسې حال کې چې په لړزېدلي اواز يې څوبې جاجه غونډلې ( بې مفهومه کليمې) دشونډو لاندې دژبې پرسر راوړې ،شونډې يې په ژبه لمدې کړې اوبيايې په کراره او شمارلي غږپه خبرو پيل وکړ :( ښاغلی رئيس صيب ،قاضي صاحبانو، زه يو ځوان يم دهغې ټولنې ځوان چې تاسې ښاغلي قاضي صاحبان او ګډونوال يې هم يوه برخه اوغړي ياست ، زه اوس مهال دوژنې په تور دعدالت پرووړاندې ولاړيم اودعدالت دپرښتې دسروزرو وزرې په خپلو سترګو وينم چې ماته ګواهي اوزيرى راکوي،عدالت تل ژوندى دى. عدالت !

هوکې عدالت ژوندى دى او زه هم له هغو کسانو څخه چې دقانون اوعدالت درونډ پيټې يې په اوږو دى غواړم چې خبروته مې غوږونيسي اوپاملرنه ورته وکړي وروسته بيا خپله پرېکړه (فيصله ) وکړئ او عدالت وچلوئ.

زه سوادنه لرم ،البته داپه دې مانا نده چې ګواکې ماهېڅ درس ندى ويلى ،نه داسې نده ،بلکې زه غواړم ووايم چې زما زده کړې ستاسې په پرتله چې حکم صادروئ په هغه کچه ندي،حق هم لرم،ځکه چې ښوونځى مې په نيمايي کې پرېښود ،خو همدې زده کړو په وسيله مې هم په اجباري توګه خپله دفاع په خپله کوم او دمحکمې په وروستۍ غونډه کې خپلې خبرې اودفاع کوم.

زه له خلکو شرمېدم او خجالت مې ويستو چې حقايق راوسپړم خواوس احساس کوم چې داهرڅه اشتباه وه ځکه خلک هم دهمدې ټولنې جز دي ،دهغې ټولنې چې په ډېر لږوخت کې يې زه له ښوونځي څخه په تېښته کړم اوزما ټولګېوال يې په کراتو کراتو له ما څخه پورته پوړيوته ورسول،اوکه رښتيا ووايم نوداهغوى حق هم دى ځکه هغوى درس ويلى اومانه دى ويلى ،اوبويه(بايد ) چې خپله سزا ووينم.

ماوروسته ترمدرسې خپلې زده کړې په همدې ټولنه کې چې تاسې تشکيله کړې ده ترسره کړې اوهمداټولنه وه چې زما ملايې راماته کړه اوزه يې په خپلوپولادينو پنجو کې ورک (نابود )کړم.

ماپه همدې ټولنه کې دبې وزلواوبې ګناه خلکوغږونه واوريدل اودهغوى سره هم غږى شوم ،هوډ مې وکړ چې دهغوى ټولګيوال شم اوورسره يو ځاى درس ووايم.

مګر دادرس داسې درس نه وچې ښوونکي اويا ښوونځي ته اړتيا ولري ځکه ستر ښوونکى يې پخپله ټولنه ده.

ketabton.com - The Digital Library

زه اوټولګیوال چې په ټولنه کې مې پیدا کړي ول ټولو یوه موخه درلوده چې دځوانۍ رنګین او پسول شوی مرغه ته حقیقت بخښل ول. زموږزړه هم غوښتل چې دبډایه او مېړه لرونکو خلکو غوندې د ژوند ټولولذتونو (خوندونو ) څخه برخمن شو .
موږ هم غوښتل چې موټر،پیسې اوټولې اسانتیاوې چې بډایه خلک یې لري ولرو .
خوافسوس چې موږګناهکاران وو اوګناه مودپیسواومیلمستیاوو نه درلودل ول . په غالب ګومان که ما دغه څیز درلودای نن به زما ځای دتورنو په کتارکې نه و.
او د سرو زرو هیلې اوارمانونه به مې نن نه خاورې کېدل. ځینې په دې ګروهه دي چې په ژوند کې برخلیک وجود نلري اوانسان چې هرڅه کوي پخپله یې خپل ځان ته کوي ،خوکه داتریوې کچې سمه وي نوسل په سلو کې سمه نه ده ، مېړی چې د شل ځله ښکته اوپورته راتللو څخه وروسته غنم خپلې ځالې ته وړي اونه ستړې کیدونکې هلې ځلې کوی څو چې بریالی شي ،خوکه همدامېږی په یو ډېر بد اوطوفانې حالت کې راښکیل شي څه کولای شي ؟
ښکاره ده چې هېڅ یې له لاسه نه کیږي !
زه هم اوس په یوه داسې اکر کې راښکیل یم چې یوه خواشینونکي توپان راپه مخه کړی یم اوهېڅ هیله مې دژوندي پاتې کیدونشته ،زماژوندي پاتې کیدل ،دمیږي دژوند په څېردی چې په یو توپاني اکر کې دتصادف له مخې دکومې تختې پورې نخښلي اوله مرګ نه بچ کېږي.
ماهم دټولنې له سین یا توپان څخه دمرګ نه خلاصون موندلای دی ،خولکه څنګه چې ګورئ نن د یووژونکي په توګه محاکمه کېږم.
له تاسې څخه غوښتنه وشوه چې خپله قطعي رایه صادره کړئ اوما محکوم کړئ ، ولې ؟
ځکه ماچوپتیا غوره کړې ،آیاکه څوک ونه توانېږي چې خبره وکړي باید سمدستي یې داعدام حکم صادرکړئ ؟
تاسې ماته وواياست ،آیا دهرچا چې ژبه بنده شوه اودخپلې ابرواوعزت دخوندې ساتلو لپاره له ځانه څخه دفاع ونکړه نوباید دځمکې په تل کې استوګن شي اودهېرېدونکي ( فراموشۍ ) تیره یې پرمخ کېښودل شي.
تاسې تل خبرې او نارې سورې دعدالت کوئ، خو په دې نه پوهېږئ چې نارې سورې وهل دعدالت په نامه پخپله یو ډول بې عدالتي ده.
عدالت ! ! !

ketabton.com - The Digital Library

رښتیا څه ښایسته او ګلورین ویی دی، خو په تاسف سره چې دهېڅا په وجود کې په خپله رښتینې او واقعي مانا نه پیدا کېږي او بشري قانون هېڅکله نه شي کولای چې پخپله رښتینې مانایې پلې کړي !

اې عدالته ستا په پار تیره سینه وهي نارې او سورې کوي خو هېڅکله نه حاضرېږی چې اعتراف وکړي او دغه راز دعدالت په نامه څه جنایتونه نه دي چې نه کېږي.

او څه کارونه نه دي چې نه تر سره کېږي !

نن هم دعدالت په نامه وغوښتل شول چې زما په اړه داعدام حکم صادر کړي او مسلماً داعدام دحکم په صادرولو سره به ستاسې په اند عدالت پلې شوی وي.

ډېر وویل شول چې داعدام په حکم به دجنایاتو شمېره را ټیټه شي ، خو هېڅکله داسې ونه شول دورځې یو تن اعدام شي خو دشپې بیا بله وژنه وشي.

نن ورځ دنړۍ دېرمختللیو هېوادونو په قانون کې داعدام حکم منسوخ شوی او زموږ قاضي صاحبان دې هم دې ټکي ته پاملرنه وکړي.

ټول هغه کسان چې دوژونکو یانې قاتلانو په نامه په محکمو کې محاکمه کېږي دپیدا ینبنت نه وژونکي نه وي.

زه نه وایم چې داعدام حکم مه پلې کوئ ، زه وایم په دې اړه پوره څېړنه وکړئ وګورئ دوژنې لامل څه دی؟

تاسې چې دعمومي مجازاتو دقانون له مخې دهر وژونکي لپاره داعدام غوښتنه کوئ ایا کله مو داسې سوچ هم کړی چې شاید تاسې ته هم کوم وخت غوسه درشي او و نه شئ کولای خپل اعصاب کنترول کړئ او په یوې خپېړې څوک ووژنئ !

ایا په دې صورت کې باید تاسې اعدام شئ؟

البته دا وایم چې دوژنې ټول اړخونه ښکاره او بربنډ شي تر څوسمه او بشپړه څېړنه تر سره کړئ.

زما په اند قانون باید واقعي او رښتیني وژونکولپاره پلې شي نه هرهغه چاباندې چې دقاتل نوم پرې ایښودل کېږي په داسې حال کې چې ګناهکاران هم نه وي !

ښه به داوي چې دداسې ځانګړو مواردو لپاره په قانون کې له سره بیا کتنه ( تجدید نظر ) و شي او ددغو ستونزو لپاره بشپړې څېړنې وشي ، ځکه زه یو ازې تورن په وژنه نه یم چې په دې محکمه کې محاکمه کېږم مسلماً له ماورسته او ترما دمخه داسې محکمې هم شوي او وبه شي.

ketabton.com - The Digital Library

تاسې ټول منتظریاست چې زه په خپله دوژنې لامل تشریح کړم په داسې حال کې چې داستاسې دنده ده چې بویه په دې اړه بشپړه او په رښتني توګه څېړنه وکړئ ، بې له دې چې ماته کومه اړتیا پیدا کړئ. تاسې دقانون پلې کول دعدالت په نامه ستره کامیابي ګڼئ بولی آیا کله مو داسې سوچ هم کړی که اشتباه وکړئ څه به وشي.؟
نه ، هېڅ کله هم نه !
هر ګوره څنګه چې رایه صادره شوه نو نوردپای ته رسېدو اړتیا نشته او .... زه که داخبرې په ژبه راوړم نو دځان لپار یې نه وایم ، بلکې دهغه چا په پارېې وایم چې په ګانده کې به په دې محکمو کې محاکمه کېږي ، باید دهغوی په فکر کې واوسو ! ! )) په دې وخت کې مدافع وکیل دعتراض په ډول له خپل ځایه راجګ شو او په جګ اوازېې مخ دمحکمې رئیس پر لور واړاوه اوویې ویل:
(( ښاغلی رئیس صاحب تورن له آرې سکالو بهر وځي ، ښه به داوي چې دحاشیو پر ځای آر مطلب ته راشي ! )).
تورن په بې پروایۍ مدافع وکیل ته وکتل او ویې ویل:
(( نه ، زه دسکالو نه بهر نه یم وتی ، آره سکالو ( موضوع ) هم په همدې خبر وکې چې مې یا دې کړې نغښتې او څرخي ، مګرزه تورن نه یم ، دیوې وژنې په جرم نه یم تورن شوی ، داحق بویه ماته راکړل شي چې له خپله ځانه دوروستي ځل لپاره دفاع وکړم ، نو په دې اساس بویه دومره آزادي خو راکړل شي چې دښاغلي قاضی صاحب. ذهن دهغو پېښو په هکله چې هره وژنه په یوه لامل ترسره کېږي روښانه کړم ،په دې اساس هغه څه چې تاسې ورته دحاشیې نوم ورکوئ په بشپړه توګه زما دخبرو سره تړاو لري او زه باید په جدي توګه ووایم چې زه دسکالو نه بهر نه یم وتی.
په هرحال دښاغلي قاضي نه هیله کوم هر هغه څه چې زه یې وایم ورته پاملرنه وکړي، په حقیقت کې دا زما تېر شوی ژوند ( سرګذشت ) دی چې زما دمېرمنې له وژنې سره په بشپړه توګه تړاو لري او زه یې دوروستۍ دفاع په نامه محکمه کې څرګندوم. په داسې حال کې چې دګډونوالواو قاضي صاحب لپاره به دیو داسې چا داستان وي چې نن یې ژوند تباه شوی او باید دژوند تر وروستیو شېبو پورې دخپلو خاطرو سره ژوندی واوسي
.

ketabton.com - The Digital Library

اولس کلن وم او دلیسې په پنځم ټولګي کې مې زده کړې کولې ، راتلونکي ته ډېر هیلمند او لیوال وم چې یوه ورځ ځان سوکاله احساس کړم ، زړه مې غوښتل چې ډېر ژر دغه دوه کاله تېر کړم او پوهنتون ته لاړ شم.

ژوند راته ښایسته او سینګار شوی ښکارېده دښوونځي چاپېریال او ښکلا نه مې خوند اخیست او له دې چې احساس مې کاوه وروسته تر زده کړو به د هېواد والو لپاره دچوپړ جوګه شم ، ډېر خوشحاله وم او له ځانه سره مې نقشې جوړولې ، په هغه وخت کې ماته دښوونځي ټالۍ ( زنګ ) دنړۍ ښایسته او ښکلې مو سیقي وه ، په ځانګړې توګه دسهاري ټالۍ چې زموږ تر ښوونځي ښکته دنجونو ښوونځي ټالۍ هم ورسره سمه اوربدل کېده ، دغرمې موده به چې کله دهلکانو او نجونو ښوونځي رخصت شول نو په پیاده رونوکې به عجیبه غوغا او هاها جوړه وه ، ما به دنجونو له لیدو څخه خوند اخیست ، خو تل به مې نا خود آګاه کوښښ کاوه چې دنجونو څخه ځان لیرې وساتم. سره ددې چې خوش ټیپه هم وم او په ضمن کې ملګرو مې هم څوڅو ځلې ویلې وو چې دنجونو ؛ په منځ کې محبوبیت او جذابیت لرم ، خو هېڅ کله مې کوښښ نه کاوه چې دنجونو سره ملګری شم په یاد مې دي چې څوځلې موقع مساعده شوه چې دنجونو سره دوستي پیل کړم خو خپله مې داکار ونه کړ ! کله به مې چې ټولګیوالو دنجونو دمینې په هکله خبرې کولې ما به پرې ملنډې وهلې ، هغوی ته به مې تل ویل چې په دې پېر (( دوره )) کې مینه او عشق مانا نلري ، هغوی به چې زما داخبرې واورېدې او پوه به شول چې ددوی هم ژبې نه یم نو نور به یې ماته دنجونو به هکله هېڅ نه ویل خو کله به چې همدغو هلکانو سره جونو بې وفایي وکړه او یا تر دوی بل کوم بډایه ، ښایسته او خوش ټیپه هلک به یې ولید او دهغه سره به یې دانې وځغلولې نو زما خواته به راغلل او په داسې حال کې چې فوق العاده به غوسه ول زما خبرې به یې تائید ولې.

رښتیا داوه چې ماښځینه کول او مینې ته یې هېڅ ګروهه نه درلوده ، په همدې اساس په هغه وخت کې ماته دمینې غونډلې غیر دملنډو بله مانانه درلوده !

با لاخره دبرخلیک اوتقدیر لوبې دیو ځایه پېلېږي چې انسان یې پخپله هم سوچ نشي کوای ، دغه لوبه ماته هم دیوې وچې یخې ورځې نه پیدا شوه او ...

هغه ورځ وروسته ترغرمې دفوټبال لوبې لپاره لوبغالي ته تللی وم تر ( ۸۰ ) اتیاو دقیقو مې دفوټبال لوبه ولیده خو نپوهېږم ددې دومره مینې سره سره چې دفوټبال سره مې درلوده ولې وروستۍ لس دقیقې ایسار نشوم. دګډونوالو دګڼې ګونې نه راووتم او لږ

ketabton.com - The Digital Library

شپه وروسته په داسې حال کې چې دګډونوالو دهڅونې نارې ، سورې مې تر غوږو کېدی دلوبغالي له وره ( دروازې ) راووتم.
په لوی واټ کې داوچتواوچتوګامونو په پورته کولو سره دکور پر لور روان شوم څومره چې به وړاندې تللم په هماغه کچه به مې سوچونه زیا تبدل ا ودراتلونکي لپاره مې ځانته نقشه کاږله. نا څاپه مې خپلو کتابونو ته پام شو چې په ځمکه راخښه لوېدلي دي ، کله مې چې سر د سوچونو له نړۍ او چت کړ نو څه ګورم چې یوه نجلۍ مې کتابونه راټولوي ، له ځانه سره مې وویل شاید خوب وینم ، خو ښایسته ، پاسته اوزړه راښکوونکي اوازېې زه له سوچه رابهر کړم. دبخښنې په غوښتنې سره یې وویل: زما دتقوې ( تقویتي ) ټولګي درسي ساعت چې په دې واټ کې دی پیل شوی ځکه مې منډې وهلې چې ګواکې درس ته ځان ورسوم په دې اساس پوه نشوم او له تاسره مې ټکر وکړ ؟
دا داسې نجلۍ وه چې دښایست پرې تمامه وه ،زېړ اوږده ویښتا ن او شنې جذابې سترګې یې درلودې ، سم نه پوهېږم چې څه اکر مې درلود . خبرې مې نکولې په مات او اوتره توګه مې بې اختیاره دهغې سترګوته وکتل،هغې په ډېرې تیزۍ کتابونه راټول کړل او ماته یې په لاس کې راکړل. خدای په اماني یې وکړه او لکه برېښنا څو ګامه وړاندې ودانۍ ته چې ټولګی یې و ولاړه او له سترګو مې پناه شوه.
دهغې ښکلا او جذابیت پرما ډېره اغیزه ښندلې وه چې له ځانه یې بې خوده کړی وم پښې مې وړاندې نه تللې ، ګومان مې کاوه هغه څه چې راته لږه شېبه وړاندې پېښ شوي و تر خوب راته ډېر ارزښت او اهمیت نلري ، غوښتل مې چې ویې څارم خو وخت تېر شوی وو ، په کراره ارامه او لړزېدلي ګامونو دکور پر لور روان شوم. کله چې کورته ورسیدم نو نږدې غروب و بې له دې چې دمعمول په څېر دمور خونې ته لاړ شم اوله هغې سره روغبړ وکړم ، خپلې خونې ته لاړم او دوره له بندیدو وروسته په سوچونو کې لاهو شوم. په هغه شپه مې چې مورهرڅومره ټینګار وکړ چې ډوډۍ وخورم ومې ونه خوړه . سم نه پوهېږم چې څه حال مې درلود ،مورمې که هر څومره ټینګاروکړ چې ما په خبرو راوړې خوګټه یې ونکړه په پایله کې مې ورته د درواغوپلمه وکړه چې ډېرستړی یم اونشم کولای دډوډۍ خوړلوخونې ته لاړ شم ،مور مې بېرته ولاړه اوزه دویم ځلي په سوچونو کې ډوب شوم !
داسوچونه ټول دهماغې زېړو ویښتانودرلودونکي جنۍ سوچونه ول اوهغه څه چې پېښ شوي و په یادمې راوړل ، په پایله کې دساعتونو سوچونو وروسته بیاهم بریالی نشوم چې له یاده یې وباسم نوهوډمې وکړچې هرڅنګه کېږي باید پیدا یې کړم !

ketabton.com - The Digital Library

ډېره عجيبه شپه وه هغه چا چې تل په مينه ملنډې وهلې اوس په خپله ديوې نجلۍ دمينې له کبله خوب نه ورړ،هغه شپه د ډېروګډو وډو اومشوشوسوچونووروسته خپل پالنګ ته ولاړم اودهمدې نجلۍ په ياد ويده شوم.
سهارلږ څه وروسته دمعمول له مخې راپاڅېدم ،دسهارچاى ترخوړلووروسته مې په دروا‌غوځان خوشاله خوشحاله کاوه او دشپې ، دستړياله کبله مې له مورڅخه بخښنه وغوښته.کتابونه مې راواخيستل او دښوونځي پرلوررروان شوم.خوښوونځي ته لاړنشوم اوپه کوم ځاى کې مې چې هغه پرون ليدلې وه لاړم ،فکرمې وکړ چې شايد کوربې په همدې نږديوکې وي اوممکن هغه وګورم،خودا اندبې ګټې و اوما هغه ونه ليده !غرمه مې کورته ټيليفون وکړ چې دفوق العاده ټولګۍ له امله نشم کولاى غرمې ډوډۍ ته راشم او وروسته ترغرمې هم هلته پاتې شوم خوبيا مې هم ونه ليده.
دغروب پرمهال غم ځپلې اوناکراره مې دکورلاره راونيوه ،هغه ورځ دلومړي ځل لپاره ښوونځي ته نه وم تللى له همدې کبله مې په ټوله لاره له ځان سره داسوچ کاوه که چېرې زموږ کورته يې دښوونځي له خواکومه دغيرحاضرۍ پاڼه رالېږلې وي ،ابروخوبه مې لاړه شي ،خوآخرمې دحل لياره پيداکړه هوډمې وکړ چې پُست راوړونکي ته به يو څه پيسې دبډې په توګه ورکړم چې دغير خاضرۍ پاڼه ماته راکړي ، په دې توګه دهغې ورځې پرمازيګر وختي کله چې پُست راوړونکي زما دپلار لپاره پاڼه راوړه نوپنځه تومانه مې نوموړي ته ورکړل اوهيله مې ترې وکړه چې دغيرحاضرۍ پاڼه ماته راکړي ، هغه ومنله له خپل دې کارڅخه ډېرخوشاله وم ،ځکه که وروسته تردې يوڅوورځې نورهم ښوونځي ته نه واى تللى نو باک يې نه درلود.
بله ورځ بيا هم هماغه ځاى ته ولاړم خوچې هرڅومره يې منتظرکښېناستم رانغله ، د مازيګرپرمهال هغې ودانۍ ته ولاړم چې دشپې ښوونځي زده کوونکي ورته راتلل ،زما ستونزه داوه چې دهغې ټولګي سهي (صحيح ) پته راسره نه وه نو ځکه بيامې هم پيدانکړه اوزمالټون بې پايلې شو.درېيمه څلورمه ،اوپنځمه ورځ هم تېره شوه خوزه ونه توانيدم چې هغه پيداکړم بلاخره دشپږمې ورځې ترغرمې لټون وروسته په هماغه ساعت کوم چې څوورځې دمخه مې هغه په کې ليدلې وه په هماغه ځاى کې وليده،خومخکې تردې چې زه کوم غبرګون ښکاره کړم هغه يوې کتاب اوکتابچې پلورنځي (قرطاسيه فروشی ) ته ننوته ،منتظر کښېناستم ترڅود دوکانه رابهرشي.

ketabton.com - The Digital Library

# دویم څپرکی

بې اختیاره مې بدن ریږدېده یو عجیبه اکر مې درلود ،زړمې په سینه کې درزېده ،روح مې ترشونډولاندې یوه سندره زمزمه کوله ،چې دهغې نغمې ماته بې جاجه وې ،ښایي دغه زمزمه دمینې زمزمه وه ، ځواني وه ، شوراواحساسات و ،په هرحال نږدې و چې له خوشالۍ نه لیونی شم ،خپله مې هم دهغه منقلب حال نه چې پیدا کړی و تعجب کاوه.
له ځانه سره مې سوچ کاوه چې کله له دوکانه رابهر شي څه ورته ووایم اوځنګه ورسره دخبرولړۍ پیل کړم،په همدې شېبه کې هغه له مغازې راووته،ژبه مې بنده شوې وه،هغه زما پرلور را روانه وه،اوس نوسوچه له ماسره نږدې شوې وه ،ماهم دهغې څېرمه ( فرعې ) واټ په دیوال تکیه وکړه په کوم چې هغې غوښتل وروګرځي
جرات مې ترینګلی کړ او ورته مې وویل: سلام !.
په داسې حال کې چې موسکا یې په شونډوخوره شوه ویې ویل: سلام ! په دې اساس له ډېره هیجانه لړزېدم ترې مې وپوښتل :یوازې یاست ؟ (هو !) ، ( اجازه راکوئ چې یو څه خبرې سره وکړو ؟ ) وموسیده اوڅه یې ونه ویل.
دهغې چوپتیا درضایت مانا درلوده ،له همدې کبله یې څه ونه ویل اوهغه وخت په لاره روان شوو ، زموږ ژبه په لومړیو کې یوازې یوبل ته لیدل ول.....
ترلږځنډوروسته دهغې په وړاندیز قهوه تون (قهوه خانې ) ته لاړو.
ښایسته سینګارشوې وه،شنوسترګواو زېړو ویښتانویې زه سوچه مجذوب کړی وم ،صورت یې دګلویوې ښایسته اویوې جوړې شوې ګېډۍ ته ورته واوشونډې یې دیوې نرۍ او شرابي نجلۍ اکرغوره کړی و.
لکه ځنګه یې چې دحُسن اوښکلا په تماشا کې ډوب وم په خبرو راغله او ویې ویل: ولې خبرې نه کوې ؟ مګرتاسو میلمنه نه ده دعوت کړې ،ولې نه پوښتئ چې څه کړون ( میل ) لرئ ؟ لکه څوک چې نوی یودم له درانه خوبه راویښ شي اوترشوم او ورځخه مې ښښنه وغوښته اوبیا مې پرشرمیدلي ګړدود ( لهجې ) ورته وویل:
وبښئ ،ربښتیاڅه کړون لرئ ؟
( هرڅه چې ستاسې خوښه وې )
( تاسې څه کړون لرئ ؟ )

ketabton.com - The Digital Library

( زه معمولاً یو گیلاس قهوه څښم )
زه هم همداسې !
هغه وخت مې د دوه گیلاسو قهوې غوښتنه وکړه اوڅوشیبې وروسته گارسون دوه گیلاسه قهوه راوړه ،په حین وخت دڅښلوکې مې دخبرولړۍ پیل کړه اوورسته دمتفرقه خبرومې ترې دملګري یا کوژدنې په هکله وپوښتل ،هغې ماته وویل ،یوهم نه لرم ما هم ورته په خوشالۍ ددوستۍ وړاندیز وکړ.
چوپ شوه اوڅه یې ونه ویل ،ماورته ټوله کیسه وکړه چې څنګه څوورځې ښوونځې ته نه یم تللې اودهغې دپیدا کېدوله کبله مې انتظار کړی !
سترګو یې دشوخۍ اکر غوره کړاو په موسکیدلي اکریې زما په ځواب کې وویل: دناروغۍ له امله څوورځې ښوونځې ته نه ده راغلې او څرګنده یې کړه چې هغه هم دهغې ورځې دټکرله امله په سوچونو کې وه ، په دې غونډلو سره مې په زړه کې دهیلو رڼاګانې وځلېدې اویوه نوې دریڅه په کې پرانیستل شوه ،اوس مې نودزړه دربارپه خپله هم په جګ غږاوریده، زما لپاره داسې شیبې چې تراوسه دنجلۍ سره نه وم اشنا شوی خوندورې وې او زړه راښکونکې وې،داسې دخوشالۍ احساس مې کاوه چې تردې دمه مې هېڅکله دداسې سوکالۍ احساس نه وکړی.
سترګو یې بریښنا کوله،ځانګړې بریښنا ،داسې چې وژنه یې کوله،ښایي مخکې تر وژل کیدو سوځول او ایرې کول یې ، هغې زما لپاره فوق العاده هرڅه کول، تتوونکې ښکلایې د سحر او جادو ډکه وه چې سړی یې ماته وه.
زما او دهغې به یو ساعت کېده چې په قهوه تون کې موسره خبرې کولې یودم ځیر شوم چې رنګ یې واوښت ، سترګو یې خپله ارامي له لاسه ورکړه اوداسې شوه لکه په زړه یې چې درد وي دمارپه څېرتاوېده راتاوېده، رګونه یې ټول پړسېدلي ول او دبدن سوروالی یې ټول تګ شین خاپې شو.
بې اندازې ناکراره شوم او ترې مې وپوښتل: (( حال موښه نه دی ! ))
په شنه زوریې موسکا پرشونډو خوره کړه اوویې ویل: (( نه ، نه ښه یم ولې )) یوازې مې په زړه لږ درد دی او هغه وخت یې بخښنه وغوښته او له خپله ځایه جګه شوه ، دلاس وینځلو ځای پر لور روانه شوه او چې کله بیرته راستنه شوه نو حال یې تر یو ځایه ښه وو، په داسې حال کې چې دهغې حال له تغیره متعجب شوی وم ګومان مې وکړچې شاید یا

ketabton.com - The Digital Library

ښايي دقهوه تون دسالون هوا پرې بده اغېزه کړې وي او په دې حال شوه نو وړاندېز مې ورته وکړ چې بهر واټ ته ووځو او لږ سره قدم ووهو .
ويې منله او وروسته دقهوې پيسوله ورکولوڅخه دقهوه تون نه بهر شو . دڅو واټونو څخه واوښتو څو شېبې وروسته په يوه څېرمه واټ چې له ودانيو ډک و ورسيدو ، واټ تش و او زموږ دګامونو غږونو په کې انګازې کولې.
هغه ورځ زما دژوند يوه خورا ښه او نېکمرغه ورځ وه ، ځکه ما داسې حس کاوه چې دهغې دپيدا کېدلو سره سره ما رښتيني نېکمرغي تر لاسه کړې ده .
دهغه چا لپاره چې په مينه به يې تل ملنډې وهلې داصحنه يو خوب او يا هم دنه منلووړخبره وه .خو په هر حال اوس راغلې وه . په داسې حال کې چې زما زيږو او سوزونکو لاسونو دهغې پاسته او تک سپين لاسونه منځل هغې يوازې موسل او بس.
ما په داسې حال کې چې دهغې خوږې موسکا کې مې سترګې ښخې کړې وې ورته وويل درسره مينه کوم ، ډېره زياته ، حتی د دې مينې له کبله حاضريم چې خپل ځان هم درنه قربان کړم ، هغې هم اعتراف وکړ چې راسره مينه کوي او ماهم دهغې دې خاطرې لپاره چې مې تل په ياد وي په زړه کې ، ځای ورکړ او هېڅکله يې نه هېروم.
بې سابقې شور او زوږ مې په وجود کې څپې وهلې ځکه چې دخپلې ګاندې لپاره مې نجلۍ ( مېرمن ) پيدا کړې وه ، بې کچې مې دخوشحالۍ احساس کاوه . هغه اوس زما لپاره دنمانځلو يوبته وه.ما اوهغې ډېرې وختونه په واټونو کې چکرې وهلې او کله به چې شپې وغوښتل خپل تور پړونې په شنه اسمان وغوړوي نوزه به دهغې په خوښې ورڅخه جلا شوم.
زه چې ددې نا څاپې بلدتيا څخه ګنګس او اوترشوی وم حتی هېرمې کړل چې نوم يې وپوښتم ، خو دخدای په امانۍ پر مهال يې په خپله داسکالو زما په ياد کړه او ويې ويل زما نوم (( رويا )) ده او دحقوقو پوهنځي دلومړي کال زده کړياله يم ، ما هم ځان وروپېژند او ورته مې وويل زما نوم (( بهمن )) دی او تر اوسه لا په ښوونځي کې زده کړې کوم ، هغه وخت مو لاسونه سره ورکړل او تږې سترګې مو په يو بل کې ښخې کړې او يو څو شېبو چوپتيا نه وروسته مو دکړون برعکس له يوه بله جلاشو په داسې حال کې چې دسبا دليدلو ژمنه مې ورسره وکړه دکور پر لور روان شوم خو دهغې ورځې نه هېرېدونکې خاطره مې تراوسه په زړه کې پاتې شوه.

## دريېيم څپرکی

ketabton.com - The Digital Library

دهغې ورځ په سبا زه ښوونځي ته لاړنشوم او درويا دليدلو لپاره دپوهنتون پر لوررهی شوم. په لياره کې مې دهغې ورځې ټکر باندې سوچ کاوه او له بله پلوه دې سوچ وړی وم چې هغه دپوهنتون په لومړي ټولگي کې وه نو معمولاً يې عمر تر ما زيات دی خو ما دې شيانو ته ډېر اهميت نه ورکاوه ، او که رښتيا ووايم نو داشيان ماته سوچه بې ارزښته ول.
ما احساس کاوه چې (( رويا )) سره مينه لرم او داراته مهمه نه ده چې هغه تر ما مشره ده او که کشره ، په داسې حال کې چې په همدې سوچونوکې ډوب وم نيم ساعت وروسته دپوهنتون رخصتی، څخه دپوهنتون وره ته ورسيدم ، زده کړيال ( محصلين ) دمړی، خوړلو لپاره روان وو، ښه مې دا وکتله چې دپوهنتون د وتلو وره ترځنگه چې درويا پوهنځي سره نږدې و ودريږم.
دانتظار په هماغه شېبو کې وم چې نا څاپه مې يوه نه باور کېدونکې صحنه په خپلو گناهکار سترگو وليده ، په دې وخت کې يوسور رنگی شخصي موټر چې دپوهنتون نه دوتلو په حال کې و بريک وکړ،ما گومان کاوه چې گوندې اشتباه کوم نوځکه يې زما پاملرنه هم ځانته واړوله.
نومړي موټردوه سورلی، درلودې يوه يې يو نا بلده ځوان چې تورې چشمې يې په سترگو وې او دويم يې ما ښه پيژندله غير زما له مينې ( رويا ) نه بل څوک نه وه ! کله چې يقيني شوم اشتباه نکورم له دې چې ((رويا )) مې په يوه شخصي موټر کې هغه هم دناپيژندل شوي ځوان سره وليده نو ژوند راته تياره او اور ښکاره شودڅو شېبولپاره مې داعصابو کنټرول له لاسه ورکړحتی دومره حال مې نه درلوده چې هغوی مې خارلي وای. يوازې دومره وتوانېدم چې دموټر شمېره يې وليکم ، وروسته مې هوډ وکړ چې هر څنگه کېږي دپېښې هر اړخيزه څېړنه وکړم.
په همدې اساس کله چې زده کړيالان له پوهنتون څخه بهر شول،اوپوهنتون په غولي لړه څه گڼه گوڼه کمه شوه نو پوهنتون ته ننوتم او راساً د رويا پوهنځي پر لور روان شوم دڅو پوښتنو او گروېږنو وروسته دښنبو په تر لاسه کولو سره وتوانېدم چې درويا ټولگی پيداکړم کله يې چې ټولگي ته نږدې شوم نوديوه سپين ږيري چپړاسي نه مې دنومورې په اړه پوښتنې وکړې.
زوړ چپراسي چې زما دپوښتنو او گروېږنو نه په تنگ شوی و گډو وډو ځوابونو په راکولو يې پيل وکړاوپه آخره کې لا په غوسه هم شوخوکله چې مې ورته دتو ما نو يو څوگون په ورغوي کې ورکېښود ويې خندل او ويې ويل:

ketabton.com - The Digital Library

(( وبخښی زه سم ستاسې پوښتنو ته ځیرنشوم هر څه چې غواړئ وپوښتی ښاغلیه ترکوم ځایه چې معلومات لرم درته یې وایم اولارښوونه درته کوم ))
د((رویا )) نښې مې ورکړې اوپوه شوم چې دا رویا ښه پېژني هغه وخت مې ورته ځان د رویا مرکچین ښکاره کړ چې ګواکې زه رویا سره واده کوم او مخکې له واده غواړم دنومورې په باره کې څېړنه وکړم نو تاسې چې هرڅه دهغې په باره کې پوهیږئ راته ووایئ.
چونکه ناکراره اوکنجکاو وم لومړی مې کوښښ کاوه هغه ځوان چې رویایي په موټرکې سپره وه وپېژنم او د دې لپاره چې ترهرڅه دمخه دغه سکالوماته روښانه شي . زاړه چپړاسي ته مې وویل : رښتیامااوس رویاپه یوه شخصي سور رنګي موټر کې ولیده ((دغه شخصي سور رنګه موټردچادی؟))
تریوې شېبې چوپتیاوروسته یې راته وویل ښاغلیه هغه ((احمدف)) درویا ټولګیوال دی، پلاریې دښاریولوی بډایه دی اوخپله یې هم ښه قوي ځوان دی.
په داسې حال کې چې دشونډولاندې مې یوڅوبدې ردې احمدف ته وویلې،دخپلې رویاپه هکله مې ترې یوڅوپوښتنې او... وکړې،یوه دملنډو ډکه موسکا یې وکړه اوویې ویل : ((لکه څنګه چې خلک وایي رویا داحمد ملګرې ده اوهغوی هم ډېری ورځې ساعتونه،ساعتونه سره یوځای تېروي.اوازه وه چې احمد پوډري و او رویا یې هم له ځانه سره په دې ناولي عمل روږدې کړې،رویا هم ددې لپاره چې له احمدف څخه پوډر واخلي دمجبورۍ ورځې ورسره ملګرتیاکوي ،احمدتېرکال دبد فعله ملګروسره دهېوادڅخه بهر په پوډرو روږدی شو ،پلاریې چې خبرشونوده ته یې دپوډرولپاره پیسې نه ورکولې احمد اړشوچې دمخدره توکو له بانډ سره کار وکړي اوکله چې دپوهنتون پازه وال (مسوولین) پرې خبر شول نواحمدیې له پوهنتون څخه وشاړه خوپلاریې دخپل ابرو اوعزت خوندي ساتلوپه پارنومړی دپوډریانوددرملنې روغتون ته بوت او بستریې کړ ترڅوښه شو او دویم ځلي یې دپلاراوپوهنتون سره ژمنه وکړه چې بیابه داکار نه کوي اوخپلوزده کړوته یې ادامه ورکړه.
خوبیا لړاوډېره اوازه ده چې احمد بیا پوډري شوی او رویا یې هم په همدې ناولي عمل روږدې کړې ده،دزاړه چپړاسي دخبرو په اورېدوسره مې ټول بدن ولړزېد پښې مې سستې شوې احساس مې وکړچې ګوندې پرځمکه ولو وېدم، په بیړه مې دزاړه چپړاسي سره خدای په اماني وکړه اوزنګېدلی ،زنګېدلی له پوهنتونه رابهرشوم.

ketabton.com - The Digital Library

ښایسته نرۍ بادرا الوته د ونو له پاڼو تېرېده اوزماپرمخ لګېده ،اوس نوزه دیوېږ دمه اوسست سړي په څېر شوی وم چې هره ګړۍ مې دلوېدو شونتیاوه .په هرې خوارۍ چې و ماځان واټ ته ورساوه دیوې شېبې لپاره مې دلومړۍ ورځې ملاقات راپه یاد کړ،نوی پوه شوم چې په هغه ورځ د رویا اکرپه قهوه تون کې ولې تغیر وکړ،نوهغه پوډرۍ شوې ده اوزه پدې نه پوهېدم .احساس مې وکړچې درویا ژوند په خطرکې دی اوهر څنګه چې کېږي هغه باید وژغورم ، ماله رویا سره دزړه له تله مینه درلوده اواوس داشونتیا وه چې هغه له لاسه ورکړم او راځخه پناشي،اوس چې په حقیقت پوی شوی وم بې له دې چې هغه پوه شي باید زه یې وژغورم.

اوس نوهره شېبه دهغې ژوند په خطرکې و او ډېرژر یاوروسته به دمرګ غېږې ته ځان تسلیم کړي ،اوپدې صورت کې زه هم باید مړشوی وای ،په همدې سوچونوکې ډوب وم چې کورته ورسېدم.

له کوره مې رویاسره ټیلیفوني اړیکه ټینګه کړه هغه په کور کې وه ،زه بې له دې چې دپوهنتون دتللو په هکله ورته څه ووایم ورسره مې وټاکله چې سبا دمازدیګر په څلورو بجو دتریایي واټ په سیمه کې دضیا شاعر په واټ کې سره وګورو ،وروسته له ټیلیفون څخه په سوچ کې ډوب شوم.په عجیبه او ډېرخطرناک سوچ کې چې دپوډرو زهروپه هکله و او رویایې ګواښله،زه یې ډېرځورولم،هرڅنګه چې وخو ترسبا مازیګرڅلوروپورې مې صبر وکړ،سبا په ټاکلې وخت په یوه ټکسي کې د تریایي قهوه تون ته ولاړم.

رویا ځوشېبې وروسته راغله،زه هم له خپله ځایه راجګ شوم اوپداسې حال کې چې کوښښ می کاوه له ناکامه وخاندم دکښېناستوبلنه مې ورکړه ،هغه هم کښېناسته ،ورته مې وویل:

(ځنډ دې وکړ؟)

(ښنه غواړم کارمې درلود ځکه ځوشېبې وځنډېدم )

(ښه څه خورې ؟)

(ایسکریم )

ډېره ښه ده

ګارسون ته مې د ایسکریمو وویل،وروسته رویا خبرې پیل کړې اوزما دحال یې وپوښتل،ددې لپاره چې زما خفګان (ناراحتی) ته ځیرنشي نو د نومړې پوښتنوته مې عادي ځوابونه ورکول،ګارسون ایسکریمونه راوړل اودواړوپه خوراک پیل

ketabton.com - The Digital Library

وکړ.ایسکریم مې په بې کړونې وخوړ،کله چې خلاص شوورته مې وړاندیزوکړچې بهرووځو،لږچکرووهوا وپه ځنګ کې یې لږې ازادې خبرې هم وکړو ،ویې منله د تریا دقهوه تون نه بهرشوو او د رامسترپه واټ کې ورسم شوو.لمرخپلې وروستې په وینولړلې وړانګې دغاړه غړې غرونوترشا پناه کولې اوغروب هم په خپل خوند ور او زړه راښکونکې ځپپاو ولولوسره رادبره کېده .زه اوهغه په ماتواوګوډوګامونوپلې درامستروا ټ څخه ثریا واټ پرلورې وګرځیدو.زماپه زړه کې سوزونکې لمبې بلې وې .داسې حس مې کاوه چې په رویا مې زړه سوځې خوداز ړه سوی نه ؤ،بلکه دهغې سره مې مینه وه اوهمدامینه وه چې زه یې اړکړې وم ترڅو رویا له دغې جهنم څخه وژغورم . له ډېرو سوچونووروسته مې داهوډوکړچې داخبره په خپله رویا سره مطرح کړم که ګوندې دهغې په مرسته ددې بد مرغې لپاره کومه دحل لیاره پیداکړو ،کله چې مې ورته حال ووایه نوماته او نا هیلې شوه،اوښکې یې په سترګو کې وځلېدې اوساه یې په ستونې کې زندې شوه ،اوداچې پوه شوه زه په ټولو شیا نو پوه شوی یم ډېره بده خواشینې شوه ،خوماورته ډاډورکړورته مې وویل ما ځکه داخبره له تا سره شریکه کړه چې مینه درسره لرم اوغواړم مرسته درسره وکړم ،ژمنه مې ورسره وکړه چې دژوند ترورستیو شېبوپورې هم ورسره دټولوناخوالوپروړاندې ولاړیم .اوددې په ځنګ کې مې هیله هم ترې وکړه چې له دې وروسته دې نوره داحمدف سره په موټرکې نه سپریږي ،او دخپلې اړتیا دپوره کولو په موخه دپوډروله کبله دې داحمد سره ملګرتیا نه کوي.

هغې له ماسره ژمنه وکړه چې وروسته تردې به داکار نه کوي او داخبره یې ماته مستند اسناد شول ، وروسته له هغې ورځې رویا په محسوسه توګه خپله کړنلاره بدله کړه او کومې پوښتنې او څېړنې چې ما وکړې، رویا داحمدف سره خپله ملګرتیا خلاصه کړې وه، په داسې حال کې چې څو ځلې داحمد له خوا ګواښل شوې هم وه ، خو لکه څنګه چې رویا پوډرې وه او خوشې کېدل ( ترکول ) یې په داسې اسانې شوني نه وه نو کومې پیسې چې پلار ورکولې په ټولوبه یې پوډر اخیستل اوڅکول به یې،خوماډېرکوښښ کاوه چې هره ورځ یې پرې لږ،لږکم کړم ترڅو په اوډلې ډول یې پرې پرېږدم زه دکوم اکر(حالت ) نه چې په مخه راته ډېرخوشحاله وم اومطمین وم.کوم اکرچې رویا غوره کړې دی ډېرژربه پوډرترک کړي اوهغه وخت بیا کولای شو په خوشحالې ژوند پیل کړو.

زموږددې دومره ستونزو اوکړاونو ګاللو سره سره بیا هم احمد غلی پاتې نشو اودخپل غچ اخیستلوپه موخه یې د رویا پلارته شیطاني وکړه،درویا پلارهم یوبډایه اوکنجوس

ketabton.com - The Digital Library

سړی و ، اصولاً تردي ورځې يې هېڅ کومه پاملرنه د رويا ژوند ته نه وه کړې ، هغه داسې يو پيسه دوست سړی و چې ترهرڅه به يې کارته ډېر ارزښت او اهميت ورکاوه، فوق العاده مستبد انسان و او کله چې دلور روړدېدو نه خبر شو نو لکه په زرهاوبې پاڼه پلرونو غوندې يو ازې پخپل لور ورځنې جيب خرڅ بند کړ او...

داسړی د دې پرځای چې درويا دبچ کېدلو په خيال کې واوسي دخپلو پيسو په غم کې وو او داسې ګومان يې کاوه چې هر ګوره په دې کار به يې لور د روږدېدو څخه خلاصې ومومي !

کله چې رويا ماته داجريان ووايه نوورسره مې ژمنه وکړه چې که هر څنګه کېږي او له هر ځايه کېږي هېڅ کله به يې بې پيسو نکړم او په دې اساس کومې پيسې به چې ما رويا ته ورکولې بس کېدې يې او دپلار پيسو ته يې اړتيا نه پيدا کېده. پلار لوده يې هم ګومان کاوه چې ګوندې په دې ډول يې لور د پوډرو له روږدېدا څخه خلاصی ومومي.

اوس مااو رويا ډېرې ورځې دبېکارۍ پرمحال سره کتل اوسره يو ځای کنښېنا ستو ورځې اومياشتې مو سره يو ځای تېرې کړې ،اود ازموينوموسم موراورسېد ما د رويا په هڅونې اوټينګار ډېر زيارګاللوچې خپلې ستونزې اودرسونو وروستوالی بشپړ کړم ، رويا هم له ماسره په درسونو کې خورا ډېره مرسته وکړه چې په دې توګه ما وکولای شول په خپلو کالنيزوازموينوکې بريالی شم او ښه نمره واخلم

کله چې رويا زما له بريا ليتوبه خبره شوه نو د ډېرې خوشحالۍ نه په جاموکې نه ځايده ،ځکه اوس زه او هغه دومره سره نږدې شوي ووچې غمونه اوخوشحالۍ مو سره يو ول،زه او هغه د دوو بدنونو يوه ساه (روح) وو. څو اونۍ وروسته د رويا ازموينې هم بشپړې شوې او هغه هم په ښو نمروبريالۍ شوه اوس نوزه دهغې او هغه زما په برياليتوب خوشحاله وو !!

کله چې د اوړي ګرميو رخصتۍ پيل شوې او د رو يا پلارچې ګومان يې کاوه د پيسوپه نه ورکولو دخپل لور د روږدېدو درملنه کولای شي،هوډوکړچې دخپل کاردلابرياليتوب په موخه اودخپلې لوردپام غلطۍ لپاره نوموړې خپل بڼ ( ميګون ) ته دنيا کره ولېږي.

کله چې رويا داخبره ماته وويله ډېر خوشحاله شوم ځکه ما هم کولای شول چې خپلې رخصتۍ په ميګون کې دخپل تره ( کاکا ) کره په ښکليوښهوښوکې تېرې کړم اوهلته بيا کوای شم چې ډېری وخت له رويا سره ووينم.

ketabton.com - The Digital Library

په پایله کې همداسې وشول زه اوهغه دڅو ورځو لپاره میګون ته لاړو ،دهغې ورځې له سبا وروسته مااورویا ډېرې ښې ورځې سره یو ځای تېرې کړې،هرسهاربه دنوردې غره ، بڼوڼو ،دهلکانو او نجونو یو ځایې لوبواوخلاصه بېلابېلو لوبو او ځایونوته تللو او په دې توګه، مومینه هره ورځ دبلې ورځ په پرتله زیاتېده داوړې ډېرې اوږدې اوګرمې ورځې تېرې او ورځې بیرته په خپل آر ( اصلي ) اکر شوې، یوه ورځ یې ماته خبر راکړچې پلارمې تهران ته غوښتې یم ، ما هم خپل کالي راټول ، او له رویا سره مې خدای په مانی وکړه زما دبدرګې پرمهال رویا غټې غټې اوښکې تویېولې،زه مجبور شوم او ورسره مې ژمنه وکړه چې دهمدې ورځې په مازیګر که هر څنګه کېږي بېرته راځم او په همدې ژمنه له هغې څخه لاړم ، کله چې له میګون څخه تهران ته ورسېدم ترو خپل کورته لاړم هلته وضع بل ډول وه هرشي له پخواسره توپیردرلود، زموږ ډېری خپلوان زموږ په کور کې ترسترګوکېدل ټول ماتم وهلي ول، او دټولو سترګې له اوښکو ډکې وې،دلته زه دیوه ترخه حقیقت سره مخامخ شوم اوډېرژرپوه شوم چې مورمې دتل لپاره سترګې پټې کړې دي ، دمور دمرګ دخبرله اورېدو سره مې ډېر وژړل حتی دومره مې وژړل چې څوځلې بې خوده شوم چې خپلوخپلوانو بېرته را په صد کړم،اوس نو ما خپل خورا نږدې کس دلاسه ورکړی و اونه پوهېدم چې وروسته تردې به زما برخلیک څنګه کېږي !

دمورمړینې زما وضع بل ډول کړه او زما لپاره یې رابدله کړه ،دمورله مړینې وروسته زه نورښوونځي ته لاړنشوم او لکه څنګه چې زما پلار هم شپږمیاشتې وروسته دبلې ښځې سره واده وکړ نوزما ژوند نورپه هغې کورکې تنګ شو او هغه کور راته دوزخ ښکاره شو ، شاید که زما پلار دمورپه ژوندونې بله ښځه کړې وای دومره به یې نه وای ځورولی، خو کله یې چې دهغې له مرګ څخه شپږمیاشتې وروسته دا کار وکړنو یوه عجیبه او وېرونکې کرکه مې ورته په زړه کې پیدا شوه !

اوس نو په نړۍ کې زما یوازنۍ هیله او امید رویا وه ، دهمدې کبله مې هوډ وکړ چې برخلیک مې هسې هم دمورله مرګه وروسته بدل شو ، ښه داده چې له رویا سره واده وکړم او دهغې دعمل پرېښودوڅخه وروسته یو ښه سوکاله او آرام ژوند پیل کړم. دهمدې هوډ له کبله مې له پلار څخه په داسې حال کې چې کرکه مې هم ورځنې کوله دیوه کار پیدااکېدو غوښتنه وکړه ، څواونۍ وروسته یې راته کار پیدا کړاودهغه په غوښتنه دیو ودانېزې(ساختماني)کارخانې دحسابدارۍ په برخه کې وټاکل شوم .زه له خپله کاره راضي وم او کوښښ مې کاوه چې دکار خانې پازه وال هم راڅخه راضي واوسي،دهمدې

ketabton.com - The Digital Library

کبله مې صداقت داري او امانت داري کوله چې په ډېر کم وخت کې مې وکولای شول واده وکړم اودصندوق رئیس شم،خپل سرو سامان مې هم جوړکړاوتنخواه مې هم دیوې کورنۍ دجوړېدو لپاره بسیا وه،کومې پیسې مې چې دتنخواه په نامه اخیستې هم مې رویا ته ورکولې او هم ما لګولې.اوس نوزما ستونزه یوازې دراویا پوډري تو ب و، ددې لپاره چې له هغې سره واده وکړم نو په کاروه چې هغه دې خپل روږدېدل پرېږدي، یوه ورځ چې زه اوهغه بهر دچکروهلو په موخه وتلې وو ورته مې وړاندیز وکړ چې یوه ځانکړې روغتون ته لاړ شو او ورسره وګورو چې ددې عمل دپرېښودو لپاره څومره لګښت ته اړتیا شته رویا ومنله اوپه مشوره یوه ځانکړي روغتون ته لاړو دروغتون مدیر چې ددې برخې ځانګوال ( متخصص ) هم وو ویې ویل لس زره تومانوته اړتیا شته تر څو دا روغه شي،ماډېرکوښښ وکړچې پیسې څه کمې کړي خو ویې نه منله، او زیاته یې کړه چې په روږدېدویې ډېر وخت تېرشوی اوموږ اړیو چې وینه یې بدله کړو.نورنو ټینګارراته ښه ونه ایسېده اواودځانګوال سره مو خدای په اماني وکړه اوله روغتونه رابهر شو په لاره کې له ځانه سره دیوې لنډې محاسبې وروسته ځیرشوم چې ددغو پیسودپیدا کېدولپاره زه باید حداقل دوه کاله زیار وګالم ترڅو دغه پیسې چمتو کړم او په دې دوه کالو کې شونتیاوې شته چې څه نوې پېښې راپیدا شي او ممکن زه او رویا سره جلا شو په همدې موخه مې له ځانه سره هوډ وکړ چې هر څنګه کېږي او په هره توګه چې کېږي زه باید دغه پیسې پیدا کړم او خپله مینه وژغورم.

# څلورم څپرکی

دهغې ورځې له سبا څخه ما خپلې خوارۍ دپیسو پیدا کېدلولپاره د رویاددرملنې په موخه پیل کړې،هرچېرې مې چې وکولای شول لاړم اوهرصمیمي او کلک ملګري مې چې درلود ورغلم خوله ټولو ناهیلې راغلم په دې وخت کې مې ذهن ته راغلل چې یو ځل خپلې مشرې خورکره تهران ته ولاړ شم کېدای شي ستونزه مې اواره کړي ، خور مې په شېراز کې پیژندل شوې او بډایه ښځه وه هغې کولای شول چې دادومره پیسې ماته راکړي ښالي ( دخور مېړه ) مې درې کاله ترمخه په یوه ترافیکی پېښه کې مړشوی واولکه څنګه چې هغوی اولادونه نه درلودل او په څنګ کې یې کوم وارث هم نه درلود نوټول شته او پانګه یې زما خورته په میراث پاتې وو . خورمې دخاوند له مړینې وروسته بل واده ته زړه ښه نکړ اوپه یوازې توګه یې په شېرازکې ژوند پیل کړاوله

ketabton.com - The Digital Library

کومو پیسو څخه چې دې ته له خاوند څخه په میراث پاتې وې او کومه ګټه یې چې ورته کوله کولای شول ماته زما دا ړتیا لپاره یې راکړي.

دا ترټولو خورا ښه لاره وه په دې توګه ماټیلیفوني رویا ته اطلاع ورکړه او وروسته ترهغې د شېرازپرلورد خورکره روان شوم ، کله چې هلته ورسېدم نږدې سهاروله موټره ښکته شوم هوا ډېره یخه اوباراني وه تورو وریځو په اسمان کې غویامنډ جوړ کړی و ، په غم ځپلې زړه ، خواشیشتی دخور دکور پر لور رهي شوم ، په خیال کې مې رویا لېدله چې دواده په سپینه جوړه کې مستي کوي او خپل سپین مرغلین لاسونه یې زما پر لور اوږده کړي دي. او موسکی موسکی کېږي ، زه هم په ډېرې خوشحالۍ ورته زیری ورکوم چې ډېر ژر به یې له دغې ناوړې او وژونکې ناروغۍ وژغورم ، ښه مې نه دي په یاد چې څومره به په دې سوچ کې ډوب وم چې نوی ځیر شوم دخور کورته مې رسېدلی یم نږدې پنځه بجې وې چې زه دخور کور دوره تر شاه ورسېدم په کراره مې خپل ساړه لاسونه دپطلون له جېبه راوکښل او دکور ټالۍ مې ووهله د درېیو دقیقو لپاره مې همداسې ټالۍ وهله تر څو یوه غټه پېړه او سړه پړه مزدوره یې له خوبه راوېښه شوه او ور یې پرانیست.

زه یې وپېژندلم اوسلام یې راکړ په داسې حال کې چې زما له ورتګ څخه په هغه وخت کې اوتره شوې وه دکور بلنه یې راکړه، بې له دې چې دنوموړې اوترېدوته کوم اهمیت ورکړم ترو دخورخونې ته ورغلم هغه چې هم دټالیو په اواز راوېښه شوې وه راته ډېره خوشحاله شوه او په غېږکې یې ونیولم ، وروسته له روغبړه او پوښتنو مې ښه ونه ګڼله چې ورته ووایم ، هغه دکور د ټولو له احواله خبره شوه او زه یې ستړی ولیدم نو په بله خونه کې یې راته ځای جوړکړ چې یوه سترګه خوب وکړم سم نپوهېږم چې څومره خوب به مې کړې وي خو چې کله له خوبه راوېښ شوم نو نږدې دولس بجې وې له ځایه پاڅېدم او وروسته دمخ له وینځلو مې ډوډۍ وخوړه دخور په غوښتنه مې دمیلمنو کوټې ته دخبرو لپاره لاړو ، ما دلارې په هکله دیوې لنډې سریزې وروسته د اړې سکالو په اړه ورته وویل او ورته مې شرح ورکړه چې ځنګه له رویا سره اشنا شوی یم او ځنګه وضع اوس لري او کومو پیسو ته مې چې اړتیا لرله ورته مې یا دې کړې ، خور مې لومړی مسکۍ شوه زه هم خوشحاله شوم چې ښایي رایې کړي خو نا څاپه یې څېرې بدلون وموند او ویې پوښتل : (( ریښتیا څومره پیسو ته اړتیا لرې ؟ ))

(( لس زره تومانو ته ! ! ))

ketabton.com - The Digital Library

په داسې حال کې چې حق په جانبه څېره یې غوره کړې وه ویې ویل: ته زما وروریې او زه لیواله یم له تاسره مرسته وکړم خو په تاسف سره دا کومه شمېره چې ته یې غواړې دستي ساعت راسره نشته دي ، خو که غواړې درې زره به درته او س درکړم او پاتې به شپږ میاشتې وروسته درولېږم ، غیر له دې زه هم بله چاره نلرم او داشونتیا له ماسره نشته چې ټولې یو ځل درکړم.

دخور په خبرو نږدې و چې لیونی شم په دغې ځواب سره یې چې ماته راکړ ټولې هیلې او ارمانونه مې په سین لاهو شول ، زه په ډېرې هیلې او امید هغې ته ورغلی وم خو هغې زه ناهیلې او زړه تورن کړم ، دلته و چې دبډایه خلکو سره مې کینه او حسد پیدا شو زړه مې غوښتل چې زه هم بډایه واوسم او په خپلو پیسو باندې خپل ټول ارمانونه پوره کړم خو افسوس او بیا هم افسوس چې ما پیسې نه درلودې او زه مالداره نه وم ، په زړه کې مې خدای (ج ) ته وویل ( ولې یو شمېر دومره پیسې لري چې ټولای یې نشي او یو شمېر بیا دومر ه محتا ج او مسکین دي چې حتیٰ بیګاه ته د ډوډۍ روپۍ هم نلري او وږي تږي دسلهاو سوچونو سره په بړستنې ننوځي خو حتیٰ ددې پوښتنې لپاره مې هم (( قانع کېدونکی ځواب پیدا نکړ په ډېرې نا هیلې دپوچو او ګډوډو سوچونو سره او دهغې خیالونو سره چې کله شېرازته ننوتم ترې راووتم او رورسته دیوې وچې او یخې خدای په امانۍ دخور او مزدورې سره یې بې له دې چې دپاتې کیدو ست ته یې پاملرنه وکړم له کوره یې راووتم ، یو څو شېبې بې موخې دشېراز په واټونو کې وګرځېدم راوګرځېدم او په پایله کې په ناهیلۍ په داسې حال کې چې نه پوهېدم څه راپېښېږي دتم ځای پرلور روان شوم او په داسې حال کې چې خورا ډېر ناکراره مغموم او غوسه وم په یوه زاړه او مات ګوډ موټرکې راسپور شوم او دتهران پر لور مې حرکت راوکړ ، کله چې تهران ته ورسېدم ناوخته و او زموږ شرکت دسهارنۍ حاضرۍ ډېر وخت تېر شوی و دهمدې کبله مې دخپل مشر ( رئیس ) سره ټیلیفوني اړیکه ټینګه کړه اوورته مې پلمه وکړه چې نن سهار دکلکې ناروغۍ له امله ونه توانېدم خپل کارته راشم ، پس له غرمې به انشاالله خپل سهارنی پاتې شوی کارهم بشپړ کړم وروسته له دې چې غوږې مې کېښود ، په تهران کې ټولو ملګرو او یارانو ته ورغلم که ګوندې پیسې ترې واخلم خو په تاسف سر ه باید ووایم چې ټولو ملګرو څخه بیا هم بېنوا راغلم.

ketabton.com - The Digital Library

نا هیلۍ مې ټول بدن لکه خوږونکي ځناور سوری کړی و او داسې حس مې کاوه چې نور نو روح مې په تن کې په تنګ شوی او ډېر ژر به دهوا څپو سره ګډ شي او بدن به مې لکه د سلګونو جسمونو په څېر په فراموشۍ لاهو شي.

خو نه هېڅکله هم داسې ونه شول زه مړ نه شوم او مقاومت مې وکړ او کوښښ مې کاوه چې اخر به بریالی شم زه ځکه ژوندی پاتې شوم چې پنځ ( طبیعت ) زما په برخلیک نورې لوبې هم کولې او هر ډول برخلیک یې چې زړه وغواړي را په برخه یې کړي. دهغې ورځې له غرمې وروسته بیا هم په ډېرې بې اوسلګۍ ( حوصلګۍ ) شرکت ته ولاړم او دخپلې خونې په کرسۍ کښیناستو مې د سلګونو سوچونو سره په کار پیل وکړ دا چې د شېراز یون ( سفر ) له امله مې کارونه وروسته پاتې ول نو تر ناوخته پورې مې خپل کارونه وکړل ترڅو چې کار بشپړ شو که څه هم نور کار کوونکي لا څو ساعته دمخه تللي وو.

کله مې چې کار بشپړ شو غوښتل مې له خونې ووځم چې په دې وخت کې یوې مرموزې او زړه راښکوونکي قوې راباندې یرغل وکړ او دصندوق په لور یې راښکودم ! دصندوق په منځ کې روپیو له ورایه راته سترګکې وهلې په سوچ او خیال کې مې رویا ولیده چې په همدې پیسو له مرګه ژغورل کېږي او ماته سوري وهي چې ما وژغوره که هر څومره کوښښ مې وکړ چې دغه مرموز غږ مې په ضمیر کې غلې کړم خو ونه توانېدم ځکه پیسې راته مخامخ وې خو د راخیستو جراات مې هم نه درلود ، له ځانه سره مې سوچ وکړ که دا پیسې واخلم نو یوه ستره رسوایي او بدنامي به ترې جوړه شي او دا کار زما لپاره چې دشرکت د مشر اعتمادي سړی وم خورا ستونزمن کارو ، خو په پایله کې چې په یوه داسې ستونزمن اکر کې راښکېل وم داکار مې وکړ او دخپلې اړتیا وړ روپۍ مې ترې را واخستلې او له شرکته رابهر شوم. له ځانه سره مې سوچ کاوه چې زه خپله دصندوق مسوول یم کوای شم تر یوې اونۍ دا سکالو پټه وساتم او څوک راڅخه خبر نشي او په څنګ کې هیله من وم چې په دې یوې اونۍ کې که هر څنګه کېږي داپیسې پوره کړم او بېرته یې په خپل ځای کې امانت کېږدم او همدارښتیني یا دروغجنه هیله وه چې زه یې دصندوق غلا ته اړکړم. سبا ه ډېر وختي په وېرې او اُمید له پیسو سره یو ځای خپل صمیمي او کلک ملګري (( حمید )) کورته ورغلم.

حمیدمې یو له کلکو ملګرو څخه وچې پلار یې ډېر بډای او ځمکې دتهران داطرافو په سیمو کې درلودې او حمید دغه جایداد کنټرولاوه ، هغه ډېری وختونه له ماسره مرسته

ketabton.com - The Digital Library

کړې وه او حتیٰ کله چې ما ترې د رویا دبسترېدو له کبله پیسې وغوښتې نو ډېرې هلې ځلې یې وکړې چې له پلار څخه یې واخلي خو بریالی نشو.
زه او حمید ډېر کلک ملګري وو ، دهماغه وړیکتوب نه به مو سره یو ځای لوبې کولې او له یو بل څخه به مو مشوره اخیسته حمید په ظاهره ډېره ښه هلک و خو په شدیده توګه یې دپلار خبرې منلې او که دپلار خبرې یې نه وای منلی نو ښکاره وه چې پلاریې یوه روپۍ هم نه ورکوله ، خو ددې ټولو خبرو سره سره هغه ماته یو خورا ښه او مهربان ملګری و.
دهغې ورځ په سهار وختي چې کله ما دحمید دکور ټالۍ ووهله ، مزدوریې راته ور پرانیست او سلام یې وکړ ، زه یې د سلام له ځوابو لو وروسته تر و دحمید خونې پر لور روان شوم هغه تا زه له خوبه راویښ شوی و زما په لیدو سره یې تعجب وکړ ، ورته مې وویل یوه ډېره مهمه سکالو راته پېښه شوې ده او بې سرېزې مې ورته موضوع تشریح کړه ، حمید دکیسې له اورېدو وروسته ډېر ټینګار وکړ چې پیسې واپس په خپل ځای کې کېږدم او له سره یې ژمنه وکړه چې په ډېره کم وخت کې به دغه پیسې درته چمتو کړم. ما هغه ته ډاډ ورکړ چې دپیسو دپیدا کیدو پورې کولای شم دغه سکالو پټه وساتم او چې کله دې پیسې راکړې نو بېرته به یې پخپل ځای کې کېږدم ، حمید ډېر ټینګار وکړ چې پیسې بېرته کېږدم ځکه شونتیا لري داخبره په ډاګه شي او هغه وخت بیا تا دیوه غل په نامه حوزې ته وسپاري ، ما بیا هم هغه ته ډاډ ورکړ چې خبره به دومره نه شړېږي ، ځکه که ته ( حمید ) هم ونه توانېږې چې تر ټاکلې مودې پورې پیسې راکړې نو زما پلار به دخپل ابرو او عزت خوندي ساتلو په خاطر دشرکت مشرته پیسې ورکړي ځکه هغه یې ملګری دی او خبره به پټه پاتې شي.
خو حمید راته وویل ته لیونی یې ، ته غواړې دیوې پوډرۍ ا وبې اندېښنه نجلۍ له کبله خپل موقف او عزت په خطر کې واچوې ، ښه به داوي چې داکار ونکړي !
زما چیغې دحمید خبره په نیمایي کې ورغوڅه کړه او ورته مې وویل ما داکار کړی او له خپله هوډه په هېڅ وجه نه اوړم ، حمید چې کله زما بې کچې ټینګار ولید له خپلې خبرې واوښت او نوریې هېڅ ونه ویل.

ketabton.com - The Digital Library

# پنځم څپرکی

بله ورځ په ډېرې وېرې او خپګان شرکت ته ولاړم او بې له دې چې څوک ماته ځیر شي یا پر ما شکمن شي په خپل کار مې پیل وکړ ، کله چې شرکت رخصت شو او خلک لاړل نو راساً رویا ته ولاړم هغه تر ټولو ورځو ښایسته او جذابه ښکارېده کله مې چې سترګې دهغې سترګوته ځیر شوې نو احساس مې وکړ چې زړه مې له ډېر ه هیجانه لړزېږي چې ګواکې ته به وایې دهغې په مینه کې بریالی شوی یم له ځان سره مې وویل د رویا ددې دومره معصومیت او محبت پروړاندې ځان هم ارزښت نلري په خوشحالۍ مې دهغې په ویښتانو لاس راکش کړ او وروسته مې دپیسو چمتو کولو په هکله له ځانه یو لوی داستان جوړ کړاو ورته مې وویل چې داپیسې مې له خپل یو نږدې ملګري څخه واخیستې په داسې حال کې چې په شکمنه توګه یې ماته کتل ډېرې پوښتنې او ګروېږنې یې راڅخه وکړې چې رښتیا ورته ووایم خوم مایې ټولې پوښتنې په یو ډول او بل ډول ځواب کړې ، هغې ته چې هم نورې پوښتنې بې ځایه ښکاره شوې نو تسلیمه شوه او نورېې څه ونه ویل، پرېکړه مې وکړه چې دهماغې ورځې په مازیګر له حمید سره یو ځای

ketabton.com - The Digital Library

ځانګړي روغتون ته چې ټاکل شوې وه ، درویا درملنه په کې وشي لاړ شو اودکارونو اوډنه ( ترتیب ) ورته ووایو . په داسې حال کې چې رویا ډېره خوښه وه له ماېې مننه وکړه له دې چې رویا مې ډېره خوښه او هیله منه ولیده نو په خپل غلط کارمې حتیٰ یوه کوچنۍ پښېماني هم ونکړه . ځکه دهغې خوشحالۍ ماته یوه نړۍ ارزښت درلود . ما او هغې کولای شول د روږدېدلو له درملنې څخه وروسته یې یوښه او نوی ژوند پیل کړو ، له دې خبرو وروسته چې غرمه نږدې وه وړاندیز مې وکړ چې ډوډۍ په یوه رستورانټ کې وخورو ویې منله او په ډېره مینه یوه رستورانت ته لاړو او ډوډۍ مو وخوړه ، وروسته سینما ته لاړو او بیا مې رویا کورته ورسوله او وټاکل شوه چې رویا به وروسته له غرمې خپلې کورنۍ ته درواغ وایي چې نوموړې دخپلو ټولګیوالو سره یو ځای دیوه جمعي ګرځیدو او علمي پرکتیک په موخه دیوه اوږده وخت لپاره دهېواد بېلا بېلو سیموته ځي او وروسته بیا باید دهماغې سینما مخې ته ودرېږي چې یو ځای په ګډه ځانګړي روغتون ته لاړ شو .

ساعت په شپږو څرخېده چې په عجله مې خپل کالي واغوستل او حمید ته مې هم ټیلیفون وکړ ، چې کوم ځای کې موچې له رویا سره ژمنه کړې راشې او وروسته له هغې دکوره رابهر شوم .

کله چې نوموړي ځای ته ورسېدم رویا تر ما دمخه راغلې وه خو دحمید لا درک نه و په دې وخت کې دیوه مات ګوډ ټیکسي چې رنګ یې هم شړیدلی و دبریک وچ غږ دفضا چوپتیا وشیرله او شېبه وروسته حمید ترې راښکته شو . درویا او حمید له ورپېژندلو وروسته درې واړه دروغتون پر لور چې په هماغه نږدېو کې و روان شوو دپنځو او شپږو بجو شاوخوا کې موږ روغتون ته ورسېدو ، داطلاعاتو مسوول تن موږ دانظار خونې ته بوتلو او اړوند ډاکټر ته یې ټیلیفوني اطلاع ورکړه څو شېبې وروسته ډاکټر راغی او موږ یې خپلې کوټې ته بوتلو ، له ډېرو خبرو وروسته زه او ډاکټر دې پایلې ته ورسېدو چې رویا همدلته بستر کړواو وروسته مې بیا ددرملنې پیسې تحویلې کړې او په څنګ کې مې لږې روپۍ رویاته هم ورکړې چې ویې لګوي او په ځان تنګسه تېره نکړي ، په ډاکټر مې ټینګار وکړ چې درویا خیال وساتي ډاکټر هم ژمنه وکړه چې تر خپله وسه به کوښښ وکړي . او رویا به خوشحاله وساتي او په څنګ کې یې ډېر ژر به سیستماتیک ډول درویا درملنه وکړي. او دغه راز رویا به دتل لپاره له دې وژونکي ناروغۍ څخه وژغوري.

ketabton.com - The Digital Library

په دې وخت کې ډاکټر مونږ هغې کوټې ته بوتلو چې رويا په کې بستربده ډاکټر ووت او حميد هم په يوه پلمه له کوټې بهر شو. زه او رويا يوازې په خونه کې پاتې شو کله چې يوازې شو نو رويا ناڅاپې خپل ځان زما په غېږکې راغوځار کړ او په شټکوشټکو يې وژړل او دلومړي ځل لپاره يې شونډې زما پر شونډې کېښودې او دمينې په نړۍ کې سره ورک شو ، بدن يې سوزونکي ګرمي درلوده ، او سترګې يې له اوښکو ډکې وې څېرې يې يو ه عجيبه اکر درلود . داشپبه زما لپاره هم دنه زغم وړوه او داسې احساس مې وکړ چې زه هم ژړېږم ، کوښښ مې وکړ چې ځان په واک کې کړم خوبې اختياره مې اوښکې توېدې ، زما اوښکې دهغې په صورت او دهغې اوښکې زما په صورت تويدې ، يو بل مو ښکلول ځکه دجدايي او بېلتون زغم مو نه درلود .

ډېر وخت په همدې ډول تېر شو څو عادي اکر ته راغلو او چې کله عادي شو نو دخداى په امانۍ او وداع وخت رارسېدلی و . په دې وخت کې حميد هم کوټې راغی ددې لپاره چې ډېر په تکليف نشم رويا له ما غوښتنه وکړه چې ډېر ژر له روغتونه لاړ شم ، سره ددې چې اماده نه وم روغتون پرېږدم او لاړ شم خو درويا ټينګار اړ کړم تر څوورسره خداى په اماني وکړم او وروسته ترې دحميد سره يو ځاى دډاکټر له خونې راووتو، رويا زمونږ دبدرګې لپاره دکوټې تر وره راووته او په ديوال يې تکيه وکړه او زمونږ پر ګامونو کې يې سترګې ښخې کړې.

کله چې دهليز ختم شو او غوښتل مو چې له نومونړي ځايه ووځو چې درويا غږ په دهليز کې انګازې جوړې کړې ، بهمنه زما پوښتنه ژر ، ژرکوه ، زما پوښتنه ژر ، ژر.... نور ژړا مهلت ورنکړ او خپلې کوټې ته ننوته مايې چې کله دوره دبندېدو غږ واورېده نو نه پوهېږم چې څه حال به مې درلوده او دحميد په مرسته له روغتون څخه بهر شوم ، کله چې له روغتونه رابهر شو نو شپې خپلې وزې خورې کړې وې او ستورو هم په سترګک وهلو پيل کړی وو . زما صميمي ملګری حميد چې زما وضع ته ځير شو ی و ډاډ او زړه ور توب يې راکاوه ، هغه شپه ماته ډېره سخته او دردونکي شپه وه ، په داسې حال کې چې درويا له بستربدو څخه مې زړه راضي و خو خپل ځان مې هغې غلا له کبله مسکين حس کاوه .

اوس نو زه په يوه خراب اکر کې وم نه پوهېدم چې پايله به يې څنګه وي يا څنګه کېږي ځکه پلارمې دې شرکت ته ورپېژندلی وم ، نه پوهېدم چې که داخبره بربنډه شي څه به کېږي ، دهغه چالپاره چې ټول ژوند يې په ابرو او عزت کې ژوند کړي وي ، ښکاره ده چې دداسې کس لپاره غلا ښه نه ده . زه پخپله هم پوهېدم چې ديو انسان ژغورنې لپاره مې

ketabton.com - The Digital Library

غلا کړې ده خوداډلیل دټولنې لپاره دمنلو وړ او معقول نه و ځکه غلا ، غلا ده که دیو انسان دژغورنې لپاره وي او که دژوند تامینو لو لپاره.
دغې افکارو زه بې کچې زورولم خو څه مې کړې وای چا ره نه وه ، او باید ځان مې دبرخلیک لوبوته تسلیم کړی وای ، زما لپاره چې په دې وخت کې څه راپېښ شوی ویوداستان و چې هېڅوک یې په پای نه پوهېده !په همدې ګډو وډو افکارو کې ډوب وم او بې موخې خوشې په واټونو کې ګرځېدم راګرځېدم، حمید غریب که هرڅومره نصیحت راته وکړ خو پرمایې لږ اغېزه هم ونکړه اخر مې له حمیده سره مخه ښه وکړه او بېرته دکور پر لور ستون شوم ترو خپلې کوټې ته ولاړم او ډېرې ستړیا او نا ارامې له امله په کټ کې وغځېدم او په سوچونو کې لاهو شوم ، سوړ باد له ونو راتېرېده او په کړکیو لګېده، زه بې حاله اوله وېرې سره سوچونو وړی وم او په پایله کې له خپلو سوچونو ستړی شوم او دهمدې سوچونو سره خوب یووړم.
په دې ورځ لږ څه دمخه دنورو ورځو په پرتله را پاڅېدم او په ډار او وېرې شرکت ته ولاړم کله چې شرکت ته ورسېدم او دننه شوم غیر له ساتونکو، نور څوک لانه و راغلي ، خپل دفتر ته ننوتم بې سابقې وېرې مې زړه رامحاصره کړی و له ځانه سره به مې ویل هره ګړۍ دا شونتیا شته چې دشرکت مشر له ارې سکالو خبر شي او ما زندان ته ولېږي.
ددې سوچ له کبله چې ما به زندان ته لاس تړلی بوزي ډېر وېرېدم حتی لړزې هم پسې را اخیستی وم ، خو چاره څه وه ، ځکه ما پخپله خپل ځان برخلیک ته سپارلی و او دا دبرخلیک خوښه وه چې څه یې زما پر سر راوړل ، زه یوه داسې څپه وم چې غاړې ته په رسېدلو سره له منځه تللم ، او نابود کېدم، په دې اساس ما باید ځنډ ایستلی وای چې په دې وخت کې برخلیک زما په سر لوبه پیل کړه او په دغه جوارۍ یانې لوبه کې برخلیک کامیاب شو !
نږدې غروب و چې دشرکت یوه مشر دیوه مهم قرار داد لپاره زما څخه دصندوق دپیسو غوښتنه وکړه، زه ګونګ او ګنګس شوم نه پوهېدم څه وکړم، دستي مې دحمید کور ته ټیلیفون وکړ خو بیا هم له بده مرغه چې هغه نه و ، یو څوک مې دپلار پسې ولېږه خو پلار یې زما پیدا نه کړ، بالاخره کومه بدبختی او رضالت چې ما پخپله په ځان راوړی و دشرکت خاوند پرې خبر شو او لکه څنګه چې نوموړی زما دپلار ملګری نو په هماغه شپه یې زما پلار شرکت ته راوغوښت او دغلا خبره یې ورته وکړه ، پلار مې هم په ښکاره دشرکت مشر ته وویل: لکه څنګه چې زه مې د زوی معرف یم نو پولیسو ته یې وسپارئ تر

ketabton.com - The Digital Library

ځو ورتل شي او خپله سزا ووېني ځکه نوموړی غل دی او څوک چې غلا کوي باید سزا ووېني ولو که زما زوی هم وي.
کوم ځواب چې زما پلار د شرکت مشر ته ورکړو نو هغه هم اجباراً زه پولیسو ته وسپارلم او زه په داسې حال کې چې د پولیسو ټولو پوښتنو ته بې ځوابه وم دوسیه یې راته جوړه کړه او د محاکمې په موخه یې زندان ته وروستم.
درې میاشتې وروسته یې زه د محاکمو په یوه محکمه کې محاکمه کړم، هغوی ټینګار کاوه چې زه ورته د غلا لامل ووایم ، خو د خبرې له سپیناوي او حقیقت څخه مې سترګې پټولې ځکه داسې ونه شي چې خلک زما او رویا له داستانه خبر شي.
په همدې دلیل د قاضي پر وړاندې غلی او بې ځوابه ودرېدم او چوپتیا مې غوره کړه ، کله چې قاضي ځیرشو چې زه غلی یم او په هېڅ وجه ورته د غلا لامل نه وایم نو مجبور شو زه یې لس زره تومانه د غلا په تور په یو کال بند محکوم کړم.
مهمه نه وه چې زه یې د غلا په تور د یوه کال لپاره محاکمه کړم او محکوم شوم او دې کار راته کوم اهمیت نه درلود چې زه د غله په نامه پولیسو ته وروپېژندل شوم او تریوه کاله پورې هلته بندي واوسم. بلکې زما لپاره مهم او اړین درویا ژغورل و چې ما دزړه له تله د هغې د ژغورلو لپاره دا کار وکړ او د هغې دروغتیا لپاره مې دا قرباني ومنله او یو کال زندان مې په پراخه تنده ومانه.
په هر حال هغه مهال ما چوپتیا غوره کړه اودا پړه مې په ځان ومنله که رښتیا ووایم هغه وخت اصلاً زه هیڅ په خپل حال نه وم ،یوازني شي چې ماته ارزښت درلود ، درویا صحت او روغتیاوه او د همدې کبله مې هم دا پیټی په خپلو اوږو واخیست اونړۍ ته مې ځان دغله په نامه وروپېژانده خو خپل وجدان اوضمیرته نه وم پړځکه ما دخپلې مینې لپاره قرباني ورکړې وه اودغه قرباني مې دزړه له تله ومنله اویو کال زندان ته مې ټټرودرزاوه.
په زندان کې و چې زه د ژوند ترخه حقیقت سره آشناشوم اوداحس مې هلته وکړچې رښتیاهم آزاري څومره خوند لري .ځکه اوس نو آزادۍ اوزندان ترمنځ یوه جګ دېوال وجوددرلود.له دیواله هاخوا آزادواونېکمرغوخلکوژوند کاوه اوهم دخپل ژوند دجوړېدوپه هلوځلو کې ول ،خوله دېواله دېخواکیسه بل ډول وه ،بس یوازې ورځې دشپې اوشپې د ورځې په نامه سباکېدلې ،ترڅومحکومیت یاکومه سزاچې ورته ټاکل شوې وه بشپړه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

انسان په زندان کې دځينوزندانيانوله روحيې څخه سخت په تعجب کې کېږي چې ښه ښېلګه يې هغه شمېر زندانيان دي چې داعدام ياابدي حبس حکم پرې صادرشي خودوی هېڅکله خپل اُميد له لاسه نه ورکوي او هېڅکله دخدای له درباره نه ناهيلې کېږي.
دوی چې هريو ډېر بداوناوړه برخليک لري هېڅ کله نه غواړي چې خپل خوږژوند يې په داسې ځايونو( زندان ) کې په حبس تېرشي اوډېری يې نه پوهيږي چې ولې برخليک په يوه داسې برخليک اخته کړل اوهمدارازهغوی په دې ګروهه دي چې انسان په هرځای کې چې وي او په هرپېرکې چې وي بويه ناهيلی نشي.
کله چې قيديان زماله بنده خبرشول نوټول راڅخه راټول شول اوراته يې وويل خوشحاله اوسه ډېر نېکمرغه سړی يې ځکه ته يوازې يوه ورځې دلته يې اوبېرته آزاديږې ،رښتياهم چې خبرې يې ماته له تعجب ډکې وې خوچې کله يې بشپړه توضيح ورکړه نوهغه وخت پوه شوم چې دوی رښتياوايي ځکه هغه څوک چې دابدحبس يااعدام په حکم محکوم شوي هغوی ته يوکال يوازې يوه ورځ ده اوبس او هرڅنګه چې وي دايوکال تېريږي اوپه پايله کې قيدي آزادېږي خو څوک چې دابدي حبس يااعدام په حکم محکوم شوي وي هغوی ته بيايوکال او اوولس (۱۷) کاله کوم ځانګړې ارزښت نلري، خوددې سره سره بياهم هغوی هيله لري چې ګوندې يوه ورځ عمومي ښښنه اعلان شي اودوی دابدي حبس يااعدام څخه خلاصی ومومي.
خو پخپله دطبعي غريضې له پلوه هرانسان ته ځان خوږدی او دې ته چمتودی چې دزندان د دېواله ترشاه هره ورځ مړشي اوبياژوندی شي خوهېڅکله نه حاضريږي چې اعدام شي!!
دغه ډله خلک سره ددې چې پوهېږي مرګ حتمي دی اويوه ورځ نه يوه ورځ سړی مړکېږي خوبياهم بې کچې زيارکاږي چې په اسانۍ مرګ ته تسليم نشي ، ددوی په اند ددوی مبارزه بايديوه پنداوعبرت وي دهغه چالپاره چې په خوراوړې اشتباه ځان معدوم شوی حس کوي!
کله به چې ماهغوی ته درويايه اړه خبرې ويلې اوکله به مې چې خپل احساس اومينه درويايه هکله دوی ته وويله نوهغوی به راته وويل ، ناهيلې مه اوسه مبارزه اومجاهده وکړه ،موږهم مور ،پلار، خور،ورور،ښځه اوبچي لرو،خو په زندان کې مو هېڅکله هغوی هېر نه کړل اوهېڅکله ناهيلي نشو، ددوی خبرو به ماته نوی ژوند راوبخښه اوهيله من کولم به يې او کله به مې چې له ځانه سره سوچ وکړ چې زما په بندي کېدو دبل انسان

ketabton.com - The Digital Library

ژوند له خطره بچ کېږي او له مرګه ژغورل کېږي نو دخوشحالۍ احساس به مې کاوه ، رویا زما لپاره هر څه وه او دهغې له کبله زما زنداني کېدل ماته هېڅ ډول ارزښت نه درلود .

ژوند په زندان کې له بهر سره غیر له محدودیته دومره توپیر نه درلود ، په دې مکان کې چې په واقع کې یوځانګړی ښار و دځګو دېوالو تر شاه یې یو شمېر انسانانو دخپل ژوندي پاتې کېدو له کبله یوازې ژوند کاوه ، زه هم ددغې انسانانو په منځ کې دیوې ښې ګاندې په هیله وم او دزندان شپې او ورځې مې سبا کولې زندان ته غیر له حمیده نور مې نه هېڅ خپلوان او نه ملګري پوښتنې ته راغلل او یوازې هماغه و چې زما پوښتنه یې کوله او په څنګ کې یې زما او رویا ترمنځ اړیکه هم وه ما حمید ته دنده سپارلې وه چې هرځنګه کېږي زما دبندي کېدو څخه رویا ته څه ونه وایي او هغه هم راسره ژمنه کړې وه چې خپله پوره وسه به وکړي چې دا خبره ترې پټه وساتي او رویا ترې خبره نشي. سره ددې دومره ډاډه کېږنې چې زندانیانو ماته راکولې خو بیا هم ماځان یوازې بې له رویا مړ ګڼه ، په ورځو به مې سوچ کاوه او په شپو شپو به بې خوبه وم داسې ونه شي چې رویا ماله یاده وباسي. خو لکه څنګه چې مې په خپله مینه باور درلود نو داسوچ به مې ډېر ژر له سره لاړ او... له بله پلوه تریوې اندازې مې خیال هم ارام وځکه حمید ته مې دنده سپارلې وه چې رویا ته ووایي زه یې په اجباري توګه یو اوږده مسافرت ته لېږلی یم او دا باید تر راستنېدو پورې انتظار وکاږي ، خونه پوهېږم چې ولې هر وخت په زندان کې درویا په سوچ کې وم او بې دلیله مې زړه درزا کوله ، ډېر ځلې مې داهیله کوله چې ای کاش درویا رخصتیدو پرمهال ( له روغتوون څخه ) زه هم آزاد وای او تر کوره مې بدرګه کړی وای ، او یو بل مو په غېږ کې ټینګ کړی وای او ښکل کړی مو هم وای.

او دغه راز ما ورته د پوډرو دترکېدو مبارکي هم ورکړی وای ، زړه مې غوښتل چې وروسته له روږدېدا څخه یې یونوی اوسوکاله ژوند سره یو ځای پیل کړو او نېکمرغه واوسو خوافسوس چې هېڅکله مې داهیله ترسره نشوه ، ځکه زما لا تازه پنځه میاشتې په جېل کې تېرې شوې وې چې رویا له روغتون څخه رخصت شوه ، خو زما چې دوه میاشتې په محاکمه او درې میاشتې په زندان کې تېرې شوې نو بویه چې پاتې اووه میاشتې نورې هم په زندان کې تېرې کړی وای.

ketabton.com - The Digital Library

په هر حال دې سکالو زه خورا ډېر زيات زورولم په داسې حال کې چې مطمئن وم حميد زما په غياب کې په خورا ښه توګه درويا پالنه کوي تر څو له زندان خلاص شم نو په دې وجه ډېر کلک دخپلې او رويا راتلونکي ته په تلوسه کې وم.

يوه ګونګ او مبهم احساس شپه او روځ په زندان کې زورولم ، کله به چې غروب پيل شو او ورځ به مړه شوه نوزه به په يوه کونج کې کښېناستم او په سوچ کې به ډوب شوم.

ښايي تاسې باور ونکړئ ، خو په جرات ويلای شم چې غم لړلی او خپه کوونکی غروب دزندان غروب دی ، ټول شيان په زندان کې دغروب پرمهال رنګ الوتي او مړه ښکاري ، حتیٰ غړونه هم د ورځې په دغه وخت کې محزون تر غوږو کېږي دجېل غروب ددغې ځانګړتياوو په درلودلو سره زه اور تـــــه راکاږلم او په خورا سرعت سره يې زه غم ځپلې او خپه کولم ، په داسې حال کې چې وايي خورا غم لړلی غروب دژوند غروب دی ، خو زه په دې ګروهه يم چې دزندان دغروب څخه بل غم لړلی او غمګين غروب وجود نلري.

دژوند له غروب سره سړی دتل لپاره دخاموشۍ نړۍ ته ځي خو په زندان کې دغه ځان وژونکې او دردونکی غروب هره ورځ تکرارېږي.

په واقعيت کې دجېل دغروب پېلېدل زما دغمونو ، رنځونو او تر خو اوښکو پيليد ل ول.

دغروب ژړا مې دزړه يوه تياره سلول ته آرامي بخښله ، کوښښ مې کاوه چې ځان دجېل له چاپېريال سره عادت کړم او خواه ناخواه لکه څنګه چې انسان په ژوند کې له هرشي سره عادت کوي ماهم په پايله کې دزندان له چاپېريال سره عادت وکړ. کله به مې چې زړه تنګ شو او د رويا يادونه به راپه زړه شول نو لکه ماشوم او ښکې به مې تويېدلې خو بيا به مې هم زړه ته تسکين ورکاوه ، ځکه يوه ورځ نه يو ورځ به له جېل څخه خوشې شم او بيا به خپلې محبوبې رويا سره کښېنم او مجلس به کوم. خو افسوس چې انسان هېڅ کله دخپلو هيلو او غوښتنو په خلاف هغه څه چې پېښېږي فکر نه کوي خو په حقيقت کې انسان بويه هېڅ کله په دې هيله ونه اوسي هغه څه چې غواړي هرومرو رښتيا شي. هرڅوک بويه دا ومني هغه پېښې چې اټکل يې هم نه کېږي ممکن هره شېبه دانسان مخې ته راشي او دژوند لاره يې وربدله کړي. لکه ماته چې په اټکلي توګه راپېښه شوه او مايې په خوب کې هم اټکل نه کاوه.

دهغې ورځې نېټه ليک (تاريخ) مې سم په يا دنه دی خو تقريباً دوه مياشتې مې آزادۍ ته پاتې وې چې يوه ورځ حميد مې دحال پوښتلو ته راغی ، څېره يې دمخکې په څېر نه وه ، له ورايه ښکارېده چې په کوم کړاو کې راښکېل دی ، کله مې چې ترې دورپېښې شوې

ketabton.com - The Digital Library

ستونزې په اړه پوښتنه وکړه ، نو لومړی یې پر ما ژمنه ( قول ) وکړه چې خپه نشم ، ما ورسره ژمنه وکړه ، نو په لړزېدلي اوازيې داسې بې له سريزې ( مقدمې ) پیل وکړ : (( بهمنه: رویا غواړي چې په مسافرت ولاړه شي ! ))
ددې خبرې په اورېدو مې تیندک ( ټکان ) وخوړ او بې اختیاره مې چیغه کړه.
((ولې ؟ولې حمیده ؟ دڅه لپاره غواړي ولاړه شي ؟ ))
حمید په تاسف سره سرو خوراوه ویې ویل: ما ډېر کوښښ وکړ چې دهغې ( رویا ) مانع شم خو هغه له حقیقت څخه خبره نه ده او داسې ګومان کوي چې زه ورته دروغ وایم او تا هغه دتل لپاره پرېښې ده ، ځکه خو یې پرون له ما څخه ستا دځای ځایګي پوښتنه هم وکړه او ویل یې چې زه لیک وراستوم ، خو ما بیا هم هماغه زړه خبره ورته تکرار کړه او منفي ځواب مې ورکړ ، نو ځکه یې دمسافري هوډ وکړ او چې کله مې ترې لامل وپوښت ویې ویل : ته په هرڅه پوهېږې او ماته دروغ وایې ، زه بهمن دتل لپاره خوشې کړې یم که نه هېڅ شونتیا نلري چې هغه دې په دومره وخت کې زما پوښتنې ته رانشي او ته ددې لپاره ماته دروغ وایې چې حقیقت زما دخپګان لامل ونګرځي او زه هم په اجباري توګه مسافرت ته ځم ؛ څو لږ ارام وکړم. سترګې مې په ډېرې نا هیلۍ دحمید پر لور ورواړولې او ورته مې وویل: حمیده که هغه نه پوهېږي چې زه چېرې یم نو ته خو پوهېږې ! ؟
(( هو : زه پوهېږم خو څه وکړم ، چې زما کوښښونه درویا دقانع کېدو لپاره بې پایلې شول هغه نور په هېڅ صورت زما خبرې نه مني او وایي که بهمن په مسافرت تللی نو لږ تر لږه پته (آدرس ) خو یې ماته راکړه ترڅو یو لیک خو ورته ولیکم ؛ رویا وایي: بهمن خو یوه شېبه هم له ما پرته نشوه تېرولای ، اوس څنګه میاشتې او کلونه له ما لیرې تللې دی ؟
په همدې دلیل هغه نور په هېڅ وجه زما خبره نه مني او زه ورته دیوه دروغجن په توګه معرفي شوی یم ! )) تر لږ سوچ وروسته ځیر شوم چې حمید رښتیا وایي ، خو ماهم چاره نه درلوده ځکه ما خو ترنن ورځ پورې ټولې خبرې پټې کړې وې نو څنګه دحمید په وسیله ټولې خبرې رویا ته ووایم په داسې حال کې چې دزندان موده مې هم نږدې په بشپړېدو وه . نه هېڅ کله ، نه ، داغیر ممکنه وه ،داسې مې انګېرل چې هر څه پای ته ورسېدل او ما رویا له لاسه ورکړه دامهال مې درویا نه شتون ښه په کلکه احساس کړ خوددې ټولو سره سره به مې بیا هم ځان ته تسکین ورکاوه چې هرڅنګه کېږي باید دزمانې له تاړاکونو سره مقابله وکړم ، او کېدای شي هرڅه سم شي خو له بده مرغه دمقاومت کولو توان هم له ماکډه کړې وه ، په همدې دلیل په ناڅاپي توګه مې په ژړا پیل

ketabton.com - The Digital Library

وکړ او له خپل ملګري حمید څخه مې دمرستې غوښتنه وکړه ، هغه په ډېرې ارامۍ سره چې زه اذیت نشم وویل : ((بخښنه غواړم بهمنه په دې اړه چې زما څومره توان و مرستې مې وکړې خو اوس هېڅ هم نشم کوای ! )) په داسې حال کې ډېر خپه ، نا چار او اوتر وم خو بیا مې هم له حمید څخه هیله وکړه چې په دې اړه هرڅنګه یې چې خوښه وي ، څه کاروکړي ، څو رویا پاتې شي او دمسافرۍ خیال له دماغه وکاږي ، هغه هم په کلکه ژمنه وکړه چې تر خپلې وسې به لازیات یوځل بیا کوښښ وکړي او له دې وروسته یې له ما سره خدای په اماني وکړه او ولاړ.

زړه مې ډېر ناکراره و دزندان یوې خونې په کونج کې سوچونو پسې واخیستم اسمان لړلړ توربدو ، درښا استازو خپل ژوند له لاسه ورکاوه ، اوپرځای یې دشپې تورې تیارې او ظالمې وړانګې چې غولۍ غولۍ راروانې وې او دخاموشۍ انګازې یې خوروله ځای ونیو.

وخت بې له وقفې پرمخ روان و اوپېښو هره شیبه دلسګونو او سګونو ژوند اخښستو زه هم په یوه بوي ناک کونج کې دخپل تباه شوي ژوند او برخلیک په سوچ کې وم ژړل مې بې له دې چې زه وغواړم او که نه ، غټې او ترخې اوښکې چې یوازې قلم یې انځورکښلای شي تویېدلې . البته دا اوښکې یوازې زما دسترګونه وې بلکې زړه مې هم ورسره ژړل او وینې یې تویېدلې ، داسې احساس مې وکړ چې دلومړي ځل لپاره په رښتیني توګه دماشومانو په څېرله زړه نه ژاړم ، ټول هغه سړي چې په ژوند کې ژړاته اړکېږي او دکومې ستونزې له کبله ژاړي نو هغه وخت زما ؛ په حال ښه پوهېدای شي او زما دزړه درزا اورېدای شي او هغه وخت بیا پوهېږي چې دمجبورۍ او غم ژړا څومره ترخه او ستونزمنه ده ، سړی چې کله د ذلیل توب او غم احساس وکړي او غرور یې ترې واخیستل شي نو نور ژوندی نه دی ، او هسې دبُت په شانې جسماً موجود وي او ما هم په هغه وخت کې همداسې یو اکر درلود ، هېڅ چاره مې هم نه درلوده ، نو مجبور وم چې په دغو لمبوکې وسوځم او ځان ورسره عادت کړم.

هغه شپه مې ډېره په سختۍ او کړاو سره په زندان کې تېره کړه او کله چې سهار شو بې له دې چې دسهار چای وڅښم دزندان په غولي کې مې په قدم وهلو پیل وکړ ، له هېڅ چا سره مې خبرې نکولې او یوازې دخپلو ګونګو او مبهمو سوچونو په دریاب کې ډوب وم.

ketabton.com - The Digital Library

غرمه مې هم دبې اشتهايۍ او زړه بدوالي له امله ډوډۍ ونه خوړه او همداسې څو غرمې سهار او شپې مې ډوډۍ ونه خوړه او يوازې مې دزندان په غولي کې ګامونه اوچتول څو چې حميد مې پوښتنې ته راغی.

دهغه راتګ ماته يو ډېر بد زېری و، او ډېر کوښښ يې هم کړی و خو ، بالاخره ترې رويا شېراز ته تللې وه. ددې خبرې په اورېدو سره زه ډېر خپه شوم خو حميد ماته ډاډ ګيرنه راکوله، او راته ويل به يې چې ستا دبند وخت هم نورلږ پاتې دی او کېدای شي ډېر ژر په دې نږدې وختونو کې راخلاص شي، نو بيا ته پخپله هم کوای شې چې شيراز ته درويا ليدلو لپاره ورشې اوسربېره دبخښنې په غوښتو سره چې دادومره موده نه وې ورسره يو ښه ژوند پيل کړې او .....

که رښتيا وو ايم نو دحميد خبرو په هغه وخت کې ډېر تسکين راکاوه او څو شېبې به قرار کېدم له هغه مې هيله وکړه چې زما ترخلاصېدو دمخه دې يوځل هرومرو شېرازته ولاړشي او درويا پوښتنه دې وکړي او د ډاډګېرنې ترځنګ دې زېری هم ورکړي چې زه په دې نږدېو کې له مسافرت څخه راځم......

حميد راسره ژمنه وکړه چې ولاړبه شي خو په تلوتلوکې يې بيا هم ټينګار وکړ چې خپګان ډېر ونه کړم ، او ددې تر څنګ يې درويا يو ليک هم راکړ ي دتګ پرمهال يې ليکلی و او په هغه کې يې دخپلې سيمې پته راته ليکلې وه چې زه ورشم نو په هغې پته ورسره اړيکې ټينګې کړم.

دحميد له تګ څخه ورسته په ډېره تيزۍ خپل ځای ته راغلم او په ډيره بېړه مې درويا ليک پرانيست چې وګورم څه يې راته په کې ليکلي دي ،کله مې چې درويا ليک پرانيست نو رويا ډير ښايسته ،دزړه له سوزه او داحساساتو څخه ډک ليک يې ليکلی ؤ.

((زماګرانه بهمنه....

دا ليک ديوې غمجنې او يخې ورځې په پای کې ليکم ،اسمان ډېرو بدو تورو وريځوپوښلی دی ،او زه ډېرخپګان پسې اخستی يم ، ستا انځوراوجسم هروخت راته مخکې مخکې کېږي ،اوپرمايې خوب اوارام زهر کړي دي.

زما ګرانه بهمنه: نن ښايي زما په ژوندکې ترټولوبده اوکرغېړنه ورځ وي ،ځکه د لومړي ځل لپاره ما ديوه تريخ اوزړه دردوونکي مېښې څکه وکړه ،نن مې وانګيرله چې ته نور له ماسره مينه نه کوې او دتل لپاره دې ترک کړې يم.

ketabton.com - The Digital Library

زما ښایسته ګله ،زما ښایسته بهمنه ،ته دومره بې مینې اوبې وفا وې چې زما دناروغۍ پرمهال حتیٰ یوځل هم زما دپوښتنې لپاره روغتون ته رانغلې ،په داسې حال کې چې زما سترګو ستا انتظارکاوه ،ماتل داسې فکر کاوه چې ته به یوه ورځ ضرور زماپوښتنه کوې اوزمادغه سترې انتظاربه پای ته رسوې.
خوافسوس چې دایوه تیروتنه وه او تا ترآخرې شیبې پورې په روغتون کې زماپوښتنه ونکړه اوزماسترګوهمداسې ستاراتګ ته لارې اوشیبې څارلې.
زمادژوندهیلې ، زماډېرښایسته محبوبه ،زمادزړه سره ،زه درسره ډېره ډېره مینه کوم ،حتی غواړم عبادت دې وکړم ،خوڅه وکړم په خپله بې مینې اوبې وفا وې داته وې چې زه دې یو ځلي پرېښودم اوحتی یووړوکی لیک چې ډېر څه په کې پراته وي راته ونه لیکه ،خوزماګرانه بهمنه پدې خبره پوه شه چې زه تل له تا سره مینه کوم اوترڅوچې ژوندی یم ستا مینې ته به وفاداره یم.
ته زمادژوند د ښکلاوګل یې ،ته یوازنی کس یې چې زماویجاړ شوی زړه دې ورغاوه ډاډه اوسه چې بې له تا به هېڅوک زماپه زړه کې ځای ونه نیسي اونه به ورته ځای ورکړم.
دادرسره زماژمنه ده ،زما ګرانه بهمنه ،غواړم چې کله مړه شم نوقبرمې وسپړې او وګوره چې زماپه زړه څه لیکل شوي ،اوکه چېرې په هغې ورځ هم ستامینه زماپه برخه شوه نووبه ګورې چې زما پرزړه یې لیکلي یوازې له تاسره مینه کوم.
زماګرانه بهمنه ،ستاښایسته اوجذابې سترګې ماته الهام راکوي اوزه بې له دې هېڅ یم مړی یم ،خونه پوهیږم چې ولې دې ونه غوښتل چې هغه زماشي ،نه پوهیږم نه پوهیږم ولې دې یوازې پرېښودم اوراڅخه ولاړې ، آخرولې ؟
اې زماګرانې ګلې کاشکې چې ته پوهیدای ،څومره درسره مینه لرم ،اوڅومره مې زړه غواړي چې ستاپه څنګ کې واوسم،اوستانه بغیرخو زه هېڅ یم ،هېڅ.
زماښایسته بهمنه ،زمادژوندښکلا خوښونکیه ،زړه مې غوښتل چې تاهم لکه زما په څېرماسره مینه کړې وای.
کاشکې چې ته پوهیدای چې په داسې یوچټل اوناولي وخت کې یوه غریبه ،مظلومه اوبې کسه نجلۍ ستاپه پاک اوسپېڅلي عشق کې سوزي،لمبه کیږي چې داعشق اومینه یوازې ستاده.
بهمنه او....

ketabton.com - The Digital Library

زماګرانه ،هیله درڅخه کوم چې حداقل هېره مې نکړې ځکه زه هېڅکله تا نه هېروم .زه نن شپه چې یوه توره تیاره شپه ده ستا په پاراوښکې تویيوم ،اوبویه ووایم چې نن شپه ما لپاره داوښکو تویيولو اودغم شپه ده .
زه اوس مهال دخپلو برباد شویو هیلو پسې افسوس کوم ، او نه پوهېږم چې ستا دناڅاپې تېښتې او لیرې والي لامل څه و ؟
زما ګرانه بهمنه ، که چېرې په رښتیني توګه یوه نجلۍ مینه شي نو هېڅکله ددویم سړي مینې ته په خپل زړه کې ځای نه ورکوي ، او ای زما دزړه ټوټې زه ستا په هکله داسې یم.
زما بهمنه ، زما ډېر ګرانه ، که چېرې دې ولېدل چې کومه ځوانه نجلۍ دهدېرې پر لور بیایي نو زما لپاره یو څو ګامه دهدېرې پر لور ورسره لاړ شه او څو اوښکې پسې تویې کړه ، ځکه دغه جسد سم زما دبې ځانه جسم په څېر دی چې سوی او ایرې شوې دی ، اولکه څنګه چې له خاورې نه جوړ شوي یو بېرته خاورې کېږو .
زما ګرانه بهمنه ، نن چې دغه دخاطرو او شپېو ښار پرېږدم او ترې ځم پوهېږې څومره راته ګرانه او ستونزمنه ده او پوهېږې څومره پرې زورېږم ، دلومړۍ ورځې اشنایي او دساعتونو مزې او خوندونه چې سره یو ځای وو راپه زړه کوم او بې اختیاره اوښکې تویيوم .هغه اوښکې چې دتللې مینې او شپېو استازې کوي، دهغې مینې چې تل به زما په زړه کې ځای لري ، خو له بده مرغه چې تا هغه مینه ډېره زر وېره کړه او وېره څه چې لاپر قبر دې ورننویسته ، زما لپاره هم خدای جل جلاله یو دی او هم بهمن ، دادهرې رښتیني او پاک لمنې نجلۍ سیندکې ( قاموس ) دی چې دیو چاسره دزړه له کومې مینه کوي.
زما دزړه سره زه ځم او اطمینان لرم چې یوه ورځ به ته ددغې تللې مینې پسې خپه شي او پښېماني به ښکاره کړې ، او په ژوند کې به دې تل افسوس کوې چې زموږ مینې ولې ثمره نه درلوده .خوګرانه بهمنه دایوه خبره په یاد وساته او هغه داچې داته وې چې زموږ دمینې دېوالونه دې رنګ کړل او زموږ دزړونو ماڼدې دې وشکولې خو زه هېڅ کله درښتیني مینې په منځه تللو باندې ایمان نلرم ، مینه که په رښتیني توګه واوډل شي نو تل پاتې کېږي . او مرګ هم زړه نشي کوای چې رښتیني مینه له منځه یوسي . خو دغه نېکمرغي او خوشحالي اوس دتل لپاره له منځه تللې او مړه شوې ده ، او داسې کېدای هم شي چې زه داسې تصور کوم چې دتل لپاره مړه شوې ده .
زه یوازې دخپلې لېوالتیا او ستا په نغوته ( اشاره ) چې زه دې پوهولم چې وېره کړې دې یم له تا څخه بیله شوم ، په داسې حال کې چې زما زړه یوازې ستا دمینې پسې درزېږي او

ketabton.com - The Digital Library

لکه ویشتلې مرغۍ درپسې تېوپونه وهي تر څو چې زه ژوندۍ یم هېڅ کله به دې هېرنکړم او تل به مې په یاد اوسې ، دخدای په امان زما ګرانه بهمنه خدای په امان ای زما د زړه او ژوند عزیزه ، خدای په امان ... ))

څوک چې هېڅ کله تا نه هېروي (( رویا ))

کله چې مې درویا لیک ولوست نو لیک مې بې اختیاره له ګوتو وغورځېداو پرڅمکه ولوید زړه مې غوښتل چې چیغې ووهم او رویا ته ووایم چې زه بې وفا نه یم ، او دابیلوالی ، مصلحتي دی ، غوښتل مې چې رویا دلته وای او هرڅه یې لیدلای وای او په دې هم پوه شوی وای چې زه ولې اودڅه لپاره په زندان کې پروت یم ، اوولې یې لېدوته نه ورتلم ، خو افسوس مخکې له دې چې چیغې او کوکارې مې د رویا غوږو ته ورسېږي زما په ستونې کې زندۍ شوې او دبې پایه دریاب په څېر سوچونو کې ډوب شوم.

# شپږم څپرکی

ورځې او اونۍ تېرې شوې او په پایله کې زه دخپل پاتې شونې قید له تېرولو څخه وروسته آزاد شوم په کومه ورځ یې چې ماته خبر راکړ خوشې کېږم نږدې و چې

ketabton.com - The Digital Library

دخوشحالۍ نه لیونی شم په ببړه مې دزندان له ملګرو سره خدای پاماني وکړه او په داسې حال کې چې دهغوی د ژرخلاصېدو هیله مې هم کوله دزندان له تورو او خېجنو تمبو راووتم او خپلې جامې مې وڅنډلې.
دپسرلي یوه ښایسته او سینګار شوې ورځ وه ، ګلانو ټولنې ته رنګارنګي ورکړې وه د ونو پاڼې شنې او طبیعت په بشپړه توګه پسو ل شوی و ، دپسرلي زوږ او غوغا انسان ته نوی رنګ او قوت ورکاوه، ډېر ښایسته او پوست باد ( نسیم ) چې د ونو له پاڼو څخه تېرېده اویوه ترنمي فضایې جوړه کړې وه ، زما پر وجود ډېر خوږ او ارام ارام لږېده ، زه دښار غټو او بر لرونکو سړکونو ته ورسېدم اوس مهال له یوه کال بند وروسته بیا هم دخپلو خلکو او هېوادوالو په منځ کې وم ، دآزادۍ احساس مې په ټول وجود دخوشحالۍ واکمني کوله ،دخلکو له زوږ ، غوغا او راکړې ورکړې څخه مې بې ګڅې خوند اخېسته. هغوی آزادول او هر کار یې چې زړه غوښنه کوو یې ، یوه شبېه خو ګونګو او مبهمو سوچونو ددوی په هکله پسې راخیستی وم. خووروسته مې په ښار او واټونو کې هلکان او نجونې لیدلې چې په واټونو کې لاس تر لاس او څنګ ترڅنګ ، میده میده روان دي. او دخپلې ګاندې لپاره ځان سره نقشې مطرح کوي.
لاسي پلورونکي مې لیدل چې په خپل ماهرانه او جګ اواز چیغې وهي او خپل مال پلوري. دسینما ترڅنګ ګڼه ګوڼه خورا زیاته وه او هرچا سینما ته دتللو لپاره صفونه جوړ کړي وو ، زوږ او ځوان ، وړ او غټ ټول په خپلو کارونو بوخت ول او ددوی غوغااو شور ماشور دښه او خوشحاله ژوند زیری ورکاوه.
دنیوونونو ( څراغونو ) بېلا بېلو رڼا ګانو یو ډول ځانګړې ښکلا ښارته وربخښلې وه او ما لکه دلومړي ځل لپاره چې په دې ښارکې پېښه ایښې وي ګونګ او مبهم روان وم ، هرڅه راته نوي برېښېدل ،زړه مې غوښتل چې دجېل یوکال بند ، عذابونو غمجنیو او ستونزو څخه وروسته په آزاده توګه ښارکې وګرځم او خپلې تېرې خاطرې دویم ځلې راژوندۍ کړم ، ساعتونه بې موخې په ښارکې دخپل خلاصون دنمانځنې په یاد وګرځېدم ، دشپې نهه نیمې بجې وې چې ستړی ، ستومانه او خوشحاله دحمید کور ته ورغلم. هغه زما له لیدلو څخه ډېرخوشحاله شو او دواړو مو یوبل په غېږکې ونیول په دې وخت کې زما له سترګوبې اختیاره اوښکې را بهېدې ، حمید ددې لپاره چې دخوشحالۍ په وخت کې درویا یاد را په زړه نشي مخ راواړاوه او ویې ویل: بهمنه اوس هرڅه پای ته ورسېدل او ته یو ډېر نیکمرغه انسان یې که څه هم په جېل کې پرتاسختې ورځې تېرې شوې خو اوس

ketabton.com - The Digital Library

مهال چې را خلاص شوی یې کوای شي چې شېراز ته ولاړ شي او هلته له رویا سره نوی ژوند پیل کړي په داسې حال کې چې ما پلټنه وکړه هغه دم ګړی په شېراز کې دخپل تره (کاکا ) سره اوسېږي او ته کوای شي چې هغه په شېراز کې پیدا کړې او دنوي ژوند په هکله سره خبرې وکړئ ، په غالب ګومان تاسې به ښه او نېکمرغه جوړه یاستئ ،ځکه رویا نوره معتا ده ( پوډری ) نه ده او ګولای شي چې له واده وروسته ښه ژوند ولرئ ، او ددې دومره کړاونو وروسته یو نوی او خوشحاله ژوند پیل کړئ.

په دې وخت کې چې ستړی هم وم او دحمید دنه مزاحم کېدو هڅه مې هم کوله حمید څخه مې زیاته مننه وکړه او له ځایه راجګ شوم چې ارام وکړم، خو حمید ټینګار وکړ او پرې نه ښودم چې ولاړ شم ، نو دکور مزدور ته یې امر وکړ چې ماته ځای په همدغه خونه کې جوړ کړي ، ځو ویده شم شپه مې دحمید په کور کې تېره کړه ،دبلې ورځ پرسهار حمید څه پیسې دپور ( قرض ) په نامه راکړې او ما پرې دشېراز ټکټ واخیست په داسې حال کې چې حمید مې هم دبدرګې لپاره راسره راغلی و ورسره مخه ښه وکړه او په موټرکې سپور شوم ، ځو شېبې وروسته چې حمید راته دخدای په امانی په نغوته لاس ښوراوه موټر دشېراز پر لور حرکت وکړ ، موټر دښار له جګو او اوږدو ، ودانیو او واټونو څخه واوښت او شېراز پر مستقیم سړک سیخ شو او ... اسمان خورا تېزشین رنګ خپل کړی و اود ډېری مغازو ځراغونه روښانه ول. موټر دښار له وروستي واټن څخه وروسته دلین سړکه ته سیخ شو ، زړه مې ډېر درزېده ، سوچ مې کاوه چې په شېرازکې درویا سره څرنګه مخ شم ؟ که رښتیا ووایم نو دهغې په هکله سوچونو هم خوشحاله کولم زړه مې غوښتل چې ځنګه له موټره کښته شم رویا پیدا کړم او له هغې څخه ددې دومره مودې دناځاپي ورکېدو بخښنه وغواړم ، که رښتیا ووایم په مخکې ځل چې شېراز ته دخپل خور کره تللی وم ، چندان خوشحاله ترې نه وم نو همدا لامل وچې شېراز مې ښه نه ایسېده خو داځل مې موخه دخور کورنه و ، په داسې حال کې چې کوای مې شول دخپلې خور په ښایسته او مجلله کور کې یې هم واړوم ، خو دخور کور نه راته دسړک پریوه ځنډه پربوتل هم ښه ښکارېدل ، نه دخور کور.

له هغې مودې مې را په دې خوا له خورڅخه ډېره کرکه کوله ، هغه یوه ډېره پسته او رذیله ښځه وه ځکه پیسو او دنیا یې سترګې ړندې کړې وې او هېڅ چا یا څېز ته یې پاملرنه نه کوله.

ketabton.com - The Digital Library

خور مې ددې ټولې پانګې سره ماته لس زره تومان رانکړل ، په داسې حال کې چې زه يې نږدې ځوک هم وم او ددې لس زرو روپو له کبله ما ميا شتې ، مياشتې په زندان کې تېرې کړې . وروسته له زندان مې له ځان سره پرېکړه وکړه چې نه يوازې دخپلې خور بلکې دخپلې ټولې کورنۍ سره اړيکې ونه نيسم او ځان ترې ځنګ ته کړم او دا کار مې هم وکړ.
دهغوی ټولو څخه مې کرکه کوله ، ځکه هغوی زه ربنتينی او امين نه بللم په داسې حال کې چې هغوی په ميليونونو روپۍ درلودې اونه يې غوښتل چې دهغې څخه لس زره روپۍ ماته دپور په ډول راکړي ربنتياوايي دځينوچې پيسې زياتې شي انسانيت يې هم کمېږي .
زمادبډايه کورنۍ انسانيت هم مړشوی وو.هغوی حتیٰ په جېل کې هم يوځل زماپوښتنه ونکړه اويوځل لپاره يې هم زماتېروتنه ونه بخښله اوهېڅ کله يې ونه غوښتل چې يوځل زمادغلاد لامل پوښتنه وکړي چې ماولې غلاکړې ده ؟
پلارمې هم يوځل زماليدو ته رانغی اوهېڅ کله يې ونه غوښتل چې حقيقت له ماڅخه وپوښتي نوپه دې توګه ددغې کورنۍ سره زماتړاوکومه مانانه درلوده اوپه واقعيت کې زمااودهغوی ترمنځ يوه فاصله پيداشوې وه چې دافاصله به زمادژوند ترورستۍ سلګۍ پورې دوام ولري ،په دې توګه مادخپلې کورنۍ سره داړيکوشکېدلوپه هکله دخپل وجدان په محکمه کې خورازيات سوچ وکړ خوغيرد رويا بل هېڅ ځوک ماته دکورنۍ غړي نه برېښېدل اويوازې رويا ته مې ذهن تللوکله چې شيراز ته ورسيدم بې له دې چې سوچ وکړم کومه خورهم پدې ښارکې لرم راساً ميلمستون ته ولاړم اويوه خونه مې اجاره کړه کله چې مې ټول ځيزونه په خونه کې ځای پرځای کړل دميلمستون څخه د رويا دپيداکېدلوپه موخه راووتم اودرويا دتره پته چې راسره وه دهمغې پرلور مې حرکت وکړه ډېره شېبه دکوڅې سرکې يې ودرېدم چې ګواکې رويا پخپله دتره له کوره راووځي خونه يوازې رويا بلکې هېڅ ځوک درويا دتره له کوره راونه وتل.
په همدې پارمې مخپتيينه وکړه چې هر څنګه کېږي درويااله حاله ځان خبرکړم په دې اند دکوڅې برسرکې دوکان ته چې خاوندېې دميز ترشاه ځوکۍ کې ناست و ور روان شوم چې له هغې څخه پوښتنه وکړم کله چې وروړسېدم نويوه يخه پيپسي مې هم ورڅخه واخسته اوپه دې پلمه مې درويا دتره په هکله ترې پوښتنې اوګروېږنې پيل کړې ،دزاړه دوکانداره له خبرو پوه شوم چې درويا تره دکورنې سره يوه ورځ دمخه د دې ښار څخه بهر يوه کلي ته دسياحت لپاره تللي دي .

ketabton.com - The Digital Library

ددکاندار له دې خبرې وروسته راته ځنډ ښه ښکاره نه شو او له هماغه ځايه مستقيماً دميلمستون پرلورې روان شوم.
هغه شپه تر سهاره خوب يو نوړم او تر سهاره مې درويا په اړه فکر کاوه، کله مې له ځانه سره اند کاوه چې که رويا ما له دې دومره وخت وروسته وګوري ، مخ رانه ونه ګرځوي او ما دتل لپاره له ځانه ونه شړي، او کله به مې په خيا ل کې ليدل چې رويا له يوه بل هلک سره په ګرمو خبرو بوخته ده او کله به مې سوچ کاوه چې رويا زما له ليدلو څخه ډېره خوشاله شوې او دواړه دخوشالۍ له امله ژاړو او اوښکې تويېو.
النه دا ټول خيالونه او اندونه ول او هېڅ يوه تر دې دمه حقيقت نه درلود.
دا ټول هغه سوچونه دي چې يو رښتينی مين يې مخکې له مخکې په خپل ذهن کې جوړوي او خپل زړه ته پرې تسليت ورکوي، هغه شپه ما هم داسې يو اکر درلود او هر څه چې مې کوښښ وکړ ويده شم ونه توانېدم دومره په يو او بل اړخ واوښتم راواوښتم چې اخر سهار شو.
کله چې دلمر زرينې پلوشې دغاړه غرې غرونو څخه په ناز او نخرو راواوښتې زه دخوب له ځايه راپاڅېدم او دسهار له چای څښلو وروسته مې له ځانه سره تصميم ونيو چې نن به ټوله ورځ دشېراز په ښکليو ځايونو او منظرو کې چکر وهم.
دهمدې تصميم پر بنسټ لومړی دحافظ صاحب او وروسته دسعدي مزارونو ته ولاړم او له دې وروسته تر مازديګره پر تاريخي ليدنو او ښکلو ځايونو وګرځېدم، دشپې ستړی ستومانه مېلمستون ته ولاړم او په خپله خونه کې تر سهاره ويده شوم، دبلې روځې پر سهار د (جمشېد تخت) ته ولاړم دلمر پرېوا ته پر مهال چې کله بېرته شېراز ته راستنبدم د (کريم خان زند) داثارو دليدلو لپاره هم ورغلم، کله چې دشېراز له عمومي ښارګوټې تېرېدم يوه نه باورکېدونکې صحنه مې وليده ، لومړی خو مې فکر وکړ چې دا هر څه اشتباه ګورم خو چې کله ښه ځير شوم که کسم هغه څه چې وينم حقيقت دي.
په يوه زېړ بوخونې موټر کې دننه چې دپارک په څنګ کې ولاړ دی رويا ناسته ده او مجله لولي، او تر (ترور) شوی وم ، غوښتل مې چې وړاندې ورشم چې په دې وخت کې يو سړی د ډوډی پلورنځي (نانوايی) څخه راووت او دموټر جلب ته کېناست او مخکې له دې چې زه کوم ګام دهغوی په لور ورجګ کړم موټر حرکت وکړ.

ketabton.com - The Digital Library

هغه موټر کې چې رویا او هغه نابلده سړی پکې ناست وو ولاړ خو زه لا هاغسې په خپل ځای کې لکه بت ولاړ وم او دهغوی تش ځای ته مې کتل، په پایله کې مې د ډېر ځنډ او خوشې دربېدو وروسته په ډېره غوسه او نا ارامۍ سره دیوې ودانۍ پر لور حرکت وکړ.
اسمان کې وریځې تاوېدې راتاوېدې او دلمر کوم درک نه معلومېده ، ډېر ښایسته خوږ بادلګېده او زما وینښتا نوته یې یوه ځانګړې ښکلا ورکوله ، ما دهغه نا پېژندل شوي سړي په اړه چې رویا ورسره موټر کې ناسته وه او تردې دمه مې نه پېژندلی فکر کاوه ، کله به دې خبرې چې خدای جل جلاله مه کړه رویا او داهلک یا سړی سره ملګري ونه اوسي زوروولم ، خو کوښښ مې کاوه چې په حقیقت پوه شم ،خو بیا هم دې اندېښنې دومره زوروولم چې دجنون اکر ته نږدې وم.
داسې مې انګېرله چې زما مینه لکه چې داغل شوې او له منځه ولاړه ، او له ځان سره مې قسم وکړ که چېرې دغه ناپېژندل شوی هلک درویا ملګر اویانامزد واوسي نو ډېر بد او خطرناکه غېچ به ترې واخلم ، خونه پوهېږم چې ولې هروخت مې دغېچ اخېستلو فکر کاوه ، نه مې غوښتل چې درویا پر وړاندې کوم کار وکړم ، زړه مې نه غوښتل چې دهغې پروړاندې کوم ډول ګړ نه وکحړم اوزړه مې دې ته نغوته کوله چې زه درویا سره دزړه له تله مینه کوم. ما په رویا باور درلود . هغه څه چې رویا په لیک کې راته لیکلي ول ،هغه به نه ترېښو لاندې کوي او زه ډاډه وم چې رویا به غیر له ما بل دهېڅ چاسره مینه ونه کړي ، خو هغه ناپېژندل شوی هلک څوک و ؟
هر څومره به مې چې سوچ کاوه ذهن مې کار نه ورکاوه ، یوازنۍ دحل لاره داوه چې په خپله رویا ووینم او هغه وخت به هرڅه روښانه شي ، په همدې ګډو وډو سوچونو کې ما یوه ورځ بله هم تېره کړه ، تر څو چې بله ورځ دمیلمستون څخه دوتلو پرمهال په ناڅاپي توګه په پاتخو ( زینو ) کې له رویا سره مخامخ شوم. سم نه پوهېږم چې په هغه شېبه کې به ما څه حال درلود . خو دومره پوهېږم چې هغه شېبه ټول رپېدم ، اوښکې مې په سترګو کې ډند شوې وې او دنور تلوتوان مې نه درلود ، اوس نو رویا څو ګامه وړاندې زما پرلور مخامخ راروانه وه خو ماکې نور دومره توان نه و چې وړاندې ورشم ، همهلته یو ځل په خپل ځای کې ودرېدم ، هغه وړاندې راغله او دومره رانږدې شوه چې نور ماته مخامخ ولاړه وه ، ما په ډېره ټیټ اواز چې تا به ویل له ځاه څخه راوځي بې اختیاره ورغږ کړ : ((ته یې......رویا )))

ketabton.com - The Digital Library

هېڅ يې ونه ويل ......په کراره مې خپل لاسونه وراوږده کړل او دهغې لاسونه مې په خپلو لاسوکې راټينګ کړل ، دواړه غلي وو ، که رښتيا ووايم په داسې يوه ښکلي او هيجاني شپبه کې زموږ ستوني زندۍ شوي ول او ژبې مو ګونګې وې ،سترګې مو دخوشحالۍ نه داوښکو څخه ډکې وې ، ډېره شپبه هوا سړه وه او زموږ ترمنځ سکوت واکمن و څو شېبې وروسته بې له دې چې څه ووايو په لاره روان شو او ميده ميده ګامونه مو پورته کول .
ددې ناڅاپي ليدو له امله زموږ دواړو ژبې ګونګې شوې وې او دا چې پس له ډېرې مودې بيلتون يو له بل سره يوځای مخامخ شوي وو هېڅ يو هم دخبرو توان نه درلود زړه مې غوښتل چې چيغې ووهم ، هغه په غېږکې راټينګه کړم او په چيغو چيغو وژاړم ورته ووايم چې دادومره موده يوازې ستا په پار په زندان کې وم او ورته ووايم چې دزړه له کومې درسره مينه کوم ، خونه مې شول کولای، يانې ددې خبرو توان مې نه درلود ،او ښايي نه مې غوښتل چې هغه پوه شي چې دادومره موده دهغې له کبله په زندان کې وم ، حتیٰ حاضروم چې هغه ماته بې وفا او بې مينې ووايي خو هېڅکله مې نه غوښتل چې هغه زما دغلا او زندان په هلکه پويه شي ، خو اړ ( شرط ) داو چې آخر هم بويه خبرې وکړو او تردې زيات سکوت او خاموشي زموږ په منځ کې ښه نه وه . ددې لپاره چې دغه اکر مې بدل کړی واوسي او دخبرو لړۍ مې پيل کړې وي دهغې نه مې غوښتنه وکړه چې کوم ارامه ځای ته لاړ شو ، کښېنو او سره خبرې وکړو ، او ددې دومره ناخوالو او ليرې والو وروسته سره لږ څه بنډار وکړو . ويې منله او دواړه يو هوټل ته ولاړو او دچای فرمايش مو ورکړو ، کله چې هوټلي چای راوړاو چای مو وڅښونو رويا په ګيلو او دنکلو شروع وکړه او څومره يې چې وسه رسېده زه يې ودګلم ، زه غلې ناست وم اوهغې ته مې لېدل احساس مې وکړ چې زړه مې غواړي نورهم ورنږدې شم او ټول ژوند يې په څنګ کې واوسم او يوازې هغې ته وګورم او ښکل يې کړم ،خو دا يوازې په ګيلو او داوبوخته وه ، غير دبې وفايۍ او ګيلويې نورې خبرې نه کولې زه يوازې غلی وم او ددې خبرو ته مې غوږ ايښی و .
وروسته له دې چې ګيلې او خپګان يې خلاص شول ، دهوټلي پسې مې ورکړې او بهر ددې لپاره چې لږه آزاده هوا مو تنفس کړې وي له هوټله راووتو او په هغه لاره چې دښار له لورې راغلې وه په قدم وهلو پيل وکړ ، کله چې واټ پای ته ورسېدنو ديوه زاړه او پخواني چنار ترڅنګ چې هېڅ څوک نه ترسترګو کېدل ودرېدو په دې وخت کې هغې زما

ketabton.com - The Digital Library

په غېږکې ځان راغوځارکړ او ناځاپي يې په ژړا پيل وکړ داسې يې ژړل چې ټوله ورسره رپېده ، ماهم دخپل مهارت نه کاروا خيست او په يو ډول نه يو ډول مې غلې کړه.

په هغه خوندوره شپه کې مې احساس وکړ چې زموږ تېرې خورې خاطرې يو ځل بيا راژوندۍ شوې دي او زموږ مينه بيا ژوندۍ شوې ده او په دې دومره موده کې مو چې هرډول ستونزې ګاللې وې نورې ټولې پای ته رسېدلې او دسوکالۍ شپې مو رارسېدلې دي ، او اوس مهال چې دواړه يو ځای شوي يو دژوند خوږې شپې مو بيا پيل شوې دي.

هغه ورځ ما نېکمرغي يو ځل بيا لاس ته راوړې وه او ددې مينې لپاره ما په زړه کې دخوشحالۍ ګوړې ماتولې ،ساعتونه يې له ما سره خبرې وکړې او زه يې له خبرو پوه شوم چې زما په مينه کې وفا داره پاتې شوې ده.

کله مې چې د ژېړبخن موټر په هکله ترې پوښتنه وکړه چې هغه ورځ په کې ديوه هلک سره ناسته وه ويې خندل او ويې ويل چې هغه مې دکاکا زوی دی.

ددې خبرې له اورېدو ډېر خوشحاله شوم ، دامهال نو رويا دخبرو لوری بلې خواته واړاوه او ويې ويل چې په دې يو ورځ دوکې يې دکاکا کورنۍ ټول تهران ته ځي خودا به په کومه پلمه ترې دده په خاطر پاتې شي. درويا له دې تصميم څخه ډېر خوشحاله شوم . نا وخته شوی و او دهغې پاتېدل راته نور جايز نه ښکارېدل ، نو مخکې تردې چې دشپې تياره ټوله فضا په خپل غېږکې ونيسي او په غرونو خپلې وزرې خورې کړي . هغه مې دتره ترکوره ورسوله او ژمنه مو سره وکړه چې په دې دوو ورځوکې چې دده دتره کورنۍ اصفهان ته ځي بيا سره ووينو ، هغه دامهال چې دلنډې او موقتې مودې لپاره يو له بله بېلېدو ، هغه د ودانۍ پرلور لاړه ، کومه چې دده دتره کور سره نږدې وه هغې خدای په اماني وکړه او لاړه ، زه په داسې حال کې چې دهغې تلل مې ځارل تر ډېره هملته ودرېدم او هغې همداسې مسلسل دخدای په امانۍ په توګه لاسونه ښورول او وروسته ترهغې دخپل دتره کور په وره ورننوته ، ميلمستون ته ولاړم او درويا له ناځاپي ليدو څخه ډېر خوشحاله وم ، هيله مې درلوده چې درويا دتره کورنۍ له تګ وروسته يو څو ورځې يو ځای له هغې سره په شېراز کې تېرې کړم او دخپلې ګاندې په هکله يوه مخپټيينه وکړم او ......خودڅو لنډو ، لنډو ليدنوو روسته يوه ورځ رويا راته وويل چې دتره کورنۍ يې ټول اصفهان ته ولاړل او دا دخپل يو ډبل پېږړ تره سره د ډېر ارام په پلمه ستنه شوې ده.

په کومه شپه چې درويا تره هم ولاړ ما او رويا سره يوه ناسته درلوده ، رويا راته وويل چې دابه په يو ډول نه يو ډول خپل پېږړ تره راضي کړي چې ددې او بهمن ملګرتيا باندې غلطه

ketabton.com - The Digital Library

اشتباه ونکړي او دوی دڅو ورځو لپاره پرېږدي چې دښارڅخه بهر په یوه ښکلي ، هوا داره او منظره لرونکي ولسوالۍ کې دپام غلطېدو لپاره وخت تېرکړي.
دا کار وشو او دروپا تره وروسته تر ډېرو زاریو ومنله ، بله ورځ زه او رویا دښارپه پنځلس کیلومترۍ کې دښاره څخه بهر دیوې شانداره او مزې داره ولسوالۍ په موټر کې کښېناستو او دهماغه ځای پرلور مو حرکت وکړ .خوشبې چې زه اورویا سره څنګ په څنګ ناست وو،موټردښراز ښارڅخه دټاکلي واټن پرلورحرکت وکړ ،داځل رویاترهرځل ښه اوښایسته ښکاریده.
دموټر دشیشو له درزڅخه چې کوم پوست اومزیداره بادراتلودرویا ویښتانوته یې ښکلا ورکوله ،اولکه ګل یې خوشبویې نوره هم زیاتېده ،هغې غلې غلې دسړک دواړو خواوته دالله تعالی ،طبعي مناظرو ته کتل چې په څومره مهارت سره یې تخلیق کړي وې.
په دغو طبعي مناظرو ،غرو،رغونو اودښتو کې خلک دخپل روښانه راتلونکي لپاره په بېلابېلا کارونو بوخت ول ،ښځواوسړو څنګ په څنګ کارکاوه ،شپنو هم خپلې رمې دغرو په لمنو کې دڅرولو په موخې خوشې کړې وې او دوی په ارام د ونې سیوري ته ناست وو اوخپلې ننبې یې ویشتلې ،رویا دخدای دې عجیبه اوښکلي نظام ته په سوچ تللې وه او هر لوري ته یې ښه په ځیر ځیر کتل ،په دې وخت کې یې مخ زماپرلور راواړوه اوویې ویل:رښتیا داخلک څومره نېکمرغه دي ،دوی په دوستۍ او صمیمیت سره خپل کارونه پرمخ بیایي ،مینه کوي او په پاکۍ ،ساده ګۍ اوخلوص سره خپل ژوند کوي.
ددوی به زړه کې دچل ،دوکې ، حسد او کینې هېڅ ننبې نه لیدل کېږي ،هرڅه چې لري اودي په ظاهراوباطن دواړه یوشان دي.
نوکه خویندې اولورانې یې مینه وکړي لیونۍ دي په ریښتیني، حقیقي اوپاک زړه لیونۍ خوکه هلکان یې مینه وکړي نوترابده به په خپلو مینوکې وفاداره پاتېږي ،څنګه ،همداسې نده ؟ دسرپه ښورولو مې دهغې خبره تائید کړه دڅوشېبولپاره بیاهم مااوهغې چوپتیاغوره کړه خوپه موټرکې دننه غوغا اوهاها وه دهلکانو اونجونو ،زوړاووړتولو یواوبل سره خبرې کولې !
هریودیوې سکالوپه اړه خبرې کولې اوکله کله دا خبرې به دومره تېزې اواوچته شوې چې خلکو به ګومان کاوه چې ګواکې ننبته یا دعوه ده خوحقیقت داسې نه ؤبلکې دا سورې اوهاها دهغوخوږواوترخو خاطرووچې پخوا تېرې شوې وې اواوس یې دخپلو ملګروپه منځ کې یادولې.

ketabton.com - The Digital Library

زه اورویا په خپلومنځوکې یودبل په لیدلوبوخت وو اوداسې موانګېرله چې هرګوره هېڅوک نه وینو ،رویا کراره ناسته وه اوګومان یې کاوه چې زه دهغې له لیدلو څخه خونداخلم دهغې خبره په هغه وخت کې دومره ښایسته اومعصومه شوې وه چې زما ژبه یې له ستاینې نه ګونګه شوې وه اوپه هغه څېر مې نه شوه ستایلای ،زړه مې بې اختیاره درزیده ،هغه مې دیوې پرښتې په څېرلیدله چې غیردمینې ،پاکۍ ،او وفادارۍ بل توکی یې په څېره کې نه بریښېده.
رویایوه پرښته وه پاک لمنې اومعصومه چې په سترګو کې یې له ورایه سحراوجادو نغښتی وه اوماحساس کاوه چې بویه ددې پرښتې قدروپېژنم.
په همدې سوچونو کې ورک وم چې دموټر بریک له خیالي نړۍ راپه خودکړم اوویې ویل خپل ټاکلي ځای ته ورسیدو ،دا ډیرښایسته اوسینګارشوی ځای وو ،کله چې له موټره راښکته شو دکلي واړه ماشومان چې نجونې اوهلکان ول اودمیوډکې ټوکرۍ یې پرسروې زمونږ دښه راغلاست په موخه راغلل ،دموټرخواوشا کې عجیبه هاها اوغوغا جوړه شوه ما دیوه کلیوال ماشوم څخه میوه واخیسته او رویایوسورګل دیوې کلیوالې نجلۍ څخه دډالۍ په توګه واخیست ما رویا ته میوه ورکړه اوهغې راته هغه ګل راکړ ،ورسته چې مو یوبل ته لاس ورکړ دخلکو له منځه ووتو اودکلي دکورونو پر لورچې دموټر له تم ځای نه لرلیرې ول روان شو ،کله چې کلي ته ورسېدودخلکو په لارښوونه دکلي ملک ( وکیل ) کره ورغلو ،ځان مو ورته دښځې اومېړه په نامه ور وپېژندل اودا پلمه مو ورته وکړه چې دعسل ( رخصتۍ ) میاشتې لپاره راغلي یو ، دکلي ملک ته مو وویل چې موږدلته دیوڅوشپواو ورځو تېرو لو لپاره راغلي یو ،دکلي ملک هم په پراخه ټنډه ومنله اودکلي یوې اویا کلنې ښځې کره چې یوه خونه یې دکراه لپاره درلوده بوتلواوهغه خونه یې راته په کرایه راکړه اوددې ترڅنګ یې په زړې بوډۍ ټینګارهم وکړچې زموږښه پالنه اوسمبالنه وکړي ، بوډۍ چې په ملاهم کړوپه شوې وه له موږ څخه ښه پالنه وکړه اوهغه خونه چې دکورسره یې نږدې وه زموږپه واک کې راکړه ،دبوډۍ یوه بیداره اوژوندۍ ښځه وه مننه موورځنې وکړه ، لکه څنګه چې غرمه نږدې شوې وه نو رویاهم یوه نیم خامه هګۍ راپخه کړه اوپه ګډه موډوډۍ وخوړله ، رویالږه ستړې شوې هم وه نودواړه بیده شوو.

ketabton.com - The Digital Library

مازیگرپرمهال دکلي ښایسته ،اوپسول شوي غرونوته دچکرلپاره لاړو آسمان صاف اوشین ؤ.لمرخپلې وروستۍ آتشیني وړانګې دغروشاته پټولې غرونه دپسرلي په شنوپوښل شوي وو اولمنې یې دطبعي ګلانو څخه ډکې وې.

ماواوهغې دخپل سري راشنه شویوګلانو په منځ کې په قدم وهلوپیل وکړاو د سحرایي ګلانوپه منځ کې بې له کومې وېرې دخوندونوپه نړۍ کې روان وو ،په لاره کې به چې هغې کوم سورسحرایي ګل ولیدهغه به یې له بوټي راوشکاوه اوماته به یې په ډېره مینه راکړ مابه هم هغه ګلان چې زمامحبوبې راکول ګېډۍ کول ،دسحرا ښلا ښل اورنګارنګ ګلان موسره ټول کړل اوهمداسې روان و څویوه لښتي ته ورسېدوچې ګردچاپېره ځنې ونې ولاړې وې،مورږهم په ډېرې مینې اوتلواردیوې ونې لاندې ودرېدو ! زمورږخواوشاسره سپین ،زیړ او... سحرایي ګلان غوړېدلي ول ،اوبه هم په یوه تنګ ځای کې یوه سندریزه فضاجوړوله ، اویوخاص موسیقیت یې دې سیمې ته وربخښلي وو.

اسمان هم خپل رنګ لړلړ کماوه اودورځې واکمني یې شپې ته سپارله ،دوه کوترې چې یوه سپینه اوبله توره وه دپروازپه حال کې وې ،مادطبیعت دښکلا نه خوند اخیسته اوکه رښتیاووایم نوتراغیزې لاندې یې هم راغلی وم ،رویا چې ډېروخت را څخه لیرې وه ، خواته مې رانږدې کړه ، په غېږکې مې ټینګه کړه اوښه خوندوره بیچو(مچو ) مې ترې واخیسته.هغې ددې مچو پروړاندې چوپتیا غوره کړه او څو شېبې ورسته یې موسکا پر شونډو خوره شوه اوزما سترګوته یې وکتل.

یوځل مې بیا هغه په غېږکې ټینګه کړه اوشونډې مې دهغې پرشونډوکېښودې ،داځل لکه څوک چې دخُمار له اکره راوتی وي،لا سونه یې زماتر غاړې حلقه کړل اوخپلې ګرمې ،شرابي شونډې یې زماپه شونډوکې کېښودې.

دهرې مچوسره مودمینې لمبې لاپسې زیاتېدې او څوشېبې وروسته مې په بشپړه توګه دهغې دبدن ګرمي احساس کوله ،هغې لکه څانګې ، د ونې په خوا کې خپل سر زماپرولي ایښی ؤ ،اوویښتان یې زماپرمخ لکه ملهم ،ورو ورو مړل.

په دې حال کې چې زمورږ مچوګانې پرله پسې یودبل شونډې ښکلولې ،دې په لړزېدلي اوازوویل:((وېرېږم بهمنه... وېرېږم... ))

ومې ویل: دڅه شي څخه ؟))

ځواب یې رانکړ ،لاسونه مې له ملا څخه یې خلاص شول ،سره ګلان دځمکې پر مخ ولوېدل هغې وژړل ،فکر مې وکړ چې زما دکړنې (کار) څخه لکه چې خپه شوې ده په

ketabton.com - The Digital Library

همدې دلیل مې په غېږکې ټینګه کړه اودبخښنې په غوښتو سربېره مې ورته وویل چې مینه درسره کوم او دخپل ناځاپي کړنې بیا هم بخښنه غواړم ،په خدای مې ورته قسم یاد کړ چې مینه ورسره لرم ،هغې په داسې حال کې چې داوښکو ډکې سترګې زما پرلور راواړولې او یوې خوندورې موسکا یې شونډوته دګلانوڅېره ورکړه زماپه غوږ کې یې وویل:

**بهمنه زه هم قسم کوم که چېرې له مرګ سل کاله وروسته مې قبر وسپړې او زړه مې شته وي نو وبه ګورې چې پرې لیکلي یې دي یوازې له تا سره مینه کوم**

په داسې حال کې چې دتل لپاره به زموږمینه ژوندۍ وي اودواړه به خپل قسم په یاد ساتو او وفاداربه یې اوسو.

که څه هم زه هېڅکله تردې دمه دخپلې مینې څخه نه یم غافل شوی اوتر څو چې ژوندی یم وفاداربه یې اوسم.

په دې نه هېریدونکو شېبو کې دڅه مودې لپاره زه اوهغه دواړه د ونې لاندې ولاړ وو او ورسته په داسې حال کې چې ځوبېلابېل ډولونه ګلان موسره راټول کړي ول دکلي پرلورروان شو دلارې په منځ کې داسې یو ځای ته ورسېدو چې غرونه سره غاړه غړۍ شوي ول اوغرېکې منعکس کېده اوبېرته اوربدل کېد ه په دې ځای کې زه هم د رویا په غوښتنه ودرېدم او هغې چې سترګې زما په سترګو کې خنبې کړې ،نارې کړې:

بهمنه مینه درسره کوم ....غږ په غرونوکې تاوراتاو شواوبېرته زموږ غوږوته را ور سېد ،په ځواب کې یې ما هم په چیغووویل:

( زه هم تاستایم ،اوحاضریم چې ځان.... )

لاسونه یې زما پر شونډوکېښودل اوپرې نښودم چې خپله خبره بشپړه کړم .په دې وخت کې مې خبره په غرونو کې وڅرخېده اوواپس منعکس شوه.

وروسته له دې چې زموږ دخندا کتهارټول غرونه محاصره کړي ول بېرته دخپلې خونې پر لور روان شو ،له نیم ساعت مزل وروسته خپلې اجاره کړې خونې ته ور سیدو دخونې وره سره مو بوډۍ ښځه ولاړه وه اوښه تود هرکلي یې بیا هم وکړ د شپې ډوډۍ لپاره یې ډېرښایسته اوخوندور کلیوال ماسته راکړل له هغې مومننه وکړه اوخپلې خونې ته ننوتو او وروسته له ماښامي چې رویا راتیارکړی و،په خبرو موپیل وکړ،په هماغه نه هېرېدونکوشېبوکې چې موږدواړه یوځای وو ما ځان نړۍ کې دځمکې پرمخ نېکمرغه

ketabton.com - The Digital Library

احساس کاوه ،په هغه نه هېرېدونکو او زړتېرېدونکو شېبوکې چې موږدواړه سره یوځای وو رویا ثوځوځلې قسم وکړ چې دزړه له تله را سره مینه لري اومادهغې دمینې پروړاندې ځان نا چاراوذلیل احساساوه ،که رښتیا ووایم دهغې دمینې څرګندولوپر وړاندې ما هېڅ نه درلودل ،چې ورته مې بیان کړې وای ،غیرله دې چې عملي مې ورته ښودلې وای چې زه هم ورسره دزړه له کومې مینه کوم.
هغه شپه ما اوهغې دخپلې مینې په اړه په ساعتونو خبرې وکړې ،نږدې دشپې دولس بجې وي چې دیوې ښایسته اونه هېرېدونکې ورځ په یاد مودخوب ځایو نو پرلوري چې رویا تیارکړي ول ولاړو ثوشبې وروسته دسپوږمۍ په رڼاکې چې د رویا بدن ته یې یوډول ځانګړې ښکلاورکوله زما غېږکې پرېوته او ویې ویل :(آه ، زما ښایسته ګله ،زما بهمنه ،زما دژوند هیلې اوامیده ،زما ګرانه اومحبوبه.... )
بې له دې چې کومه ګناه یا خطا وکړوترسهاره یودبل به غېږکې لکه دوه صمیمې ملګري په خواږه خوب ویده شو.

# اووم څپرکی

وخت په تېزۍ تېرېدو،ما او رویا په ښکلې اوسینګارشوي کلې کې دخوښۍ شپې اوورځې سبا کولې ،هره ورځ به چکر،تفریح اوآس څغلولوته تللواودشپې به خپلې کرایه شوې خونې ته تللواوارام خوب به موکاوه ،ما اوهغه دواړه چې سره یوځای وو اوشپې او ورځې مو په خوښۍ تېرولې لذت وړ،خوله بلې خوستونزه داوچې هم ما اوهم رویا سره پیسې مخ په خلاصېدو وې اوستونزمنه خولاداچې درویا تره او کورنۍ بېرته په دې نږدېوورځوکې له اصفهان څخه شیرازته راتلل ،پایله داشوه چې یوه شپه ما اوررویا تصمیم ونیوچې سبا سهار به په خېر سره شیرازته ولاړ شو،زه چې څنګه شیرازته ولاړم نوله هغه ځایه به تهران ته ولاړشم اوځانته به دڅه کار ، او روزګارغم وکړم ،اوخپل ویجاړ شوی ژوند به بېرته راجوړکړم او رویابه هم دغه حال خپل تره ته وای څوتره یې دپلارسره خبرې وکړي اوپلاریې راضي کړي چې موږ دواړه دهغوی په خوښې اومشوره واده وکړو.
دهمدې مخپتینې پرېنسټ موسبا دکلي له ملک ،سپین سرې بوډۍ ، او ټو لو هغو کلیوالواونوروخلکوسره چې په دې څوشپوورځوکې یې له موږ سره ملګري شوي ول

ketabton.com - The Digital Library

،خدای په امانې وکړه اودشېرازښارپرلورموحرکت اوچې کله ورسېدو نو رويا دخپل تره کره ولاړه اوژمنه مووکړه چې سبابه په خيرسره ووينو ،به کومه ليدنه کې چې سبا ما اورويا سره درلوده خپلې ټولې وروستۍ خبرې مې ورته وکړې اوومې پتييله چې زه به تهران ته ولاړشم ځانته به يومناسب اوښايسته کاروګورم ،وروسته له هغې به راشم اودرويا له پلاره سره به خپله د واده خبره وکړم.

کله چې سره بېلېدو رويا يوځل بيا راغاړې وته اوقسم يې وکړچې هېڅکله به بې وفايي ونکړي ،غيرله مابه بل هېڅ چا سره مينه ونکړي اويوازې مرګ کولای شي چې زموږ په منځ کې بيلوالی راولي،هغه مهال زموږ د دواړو سترګې له اوښکوډکې وې يو له بل څخه جلا شواودراتلونکي ليدنې پرېکړه موپه تهران کې وټاکله .ديوې نړۍ هيلواوغوښتنوسره او د رويا له هغې مينې سره چې دم ګړۍ رايادېده دشېراز د شپې موټروپه يوه موټرکې کښېناستم اوتهران ته ولاړم کله چې ورسېدم نو نږدې سهار و لومړی خو مې زړه و چې دحميد دوی کره ولاړ شم خو چې کله مې له ځانه سره سوچ وکړ ، نو دا راته ښه ونه ايسېده ځکه زه دحميد پور وړی وم ، او ما سره هېڅ پيسې هم نه وې ، نو له ځان سره مې هوډ وکړ چې ترڅو مې همدلته ځانته يو مناسب کار نه وي پيدا کړی دحميد کورته نه ورځم ، ځکه اوس څه بل ډول ګومان ونکړي نو همدا لامل و چې ترو ( راساً ) درميلمستون پرلور ورغلم او يوه خونه مې په کې اجاره کړه ، سبا ورځ چې راته کوم ځای معلوم و اوڅوک مې پېژندل ټولوته ورغلم خو له ټولو ناهيلې راغلم او بېرته مې په ميلمستون کې ستړي اوستومانه واړول ، څو ورځې همداسې سرګردانه او لالهانده دکار پسې وګرځېدم ، هر دفتر ته به چې ولاړم غير دمنفي مې بل ځواب نه اورېده ، اوس مې نو کار داو چې هره ورځ به مې داعلاناتو د ورځپاڼې لومړي کالمونه لوستل چې چېرته او کوم دفتر څوک جذبوي ، کله به مې چې دکوم دفتر اعلان وليد نوسمدستي به مې ځان ور ورساوه خو له بده مرغه هلته هم دپېژند ګلوۍ ناروغي وه ياني خبر به شوم چې ددفتر رئيس صاحب دلته دخپل يارانو او دوستانو ، زامن ، لورياني يا دهغوی کوم بل څوک جذب کړي دي او زموږ بست نوربشپړ شوی دی !

په پايله کې دمجبورۍ ورځې دحميد کورته ورغلم ، حميد زما په ليدلو ډېر خوښ شو ماهم ورته دخپل راتګ څخه ترديې دمه ټول حال ووايو ، پوه شو چې له يوې خوابې کاره يم او له بلې خو ا پيسې نلرم نو ولاړ او له پلار څخه يې څه روپۍ دخپلې اړتيا په نامه واخيستې او ټولې يې ماته راکړې او ټينګار يې راباندې وکړ چې دستونزو پروړاندې

ketabton.com - The Digital Library

ودربړم ، ځو یو مناسب او ښه کارپیدا کړم له هغه مې مننه وکړه او دخپل میلمستون پته مې ورکړه ، نږدې یوه میاشت کار پسې وګرځېدم او ډېر کوښښ مې وکړ چې یو مناسب کار ځان ته پیدا کړم او درویا پسې په مرکه ولاړشم خو بیا هم له بده مرغه چې بریالی شوم .

یوه ورځ چې ډېرخپه په میلمستون کې ناست وم ، حمید راغی او یو لیک یې راکړ چې رویا د ده دکور په پته ماته را استولی و ، خو حمید ډېر مهم کار درلوده نو له ما ځخه یې اجازه وغوښته او ژمنه یې وکړه چې بیا هم زما لیدو ته راشي ، دحمید له تللو وروسته ما په بیړه درویا لیک راخلاص کړ او په لوستلو مې پیل وکړ خو دهرې کرښې په لوستلو مې دسترګو دید پسې کمېدو او نږدې و چې په ټپه کښینم ، کله مې چې لیک بشپړ کړ نو ومې ویل نه ، باور نه کوم ، هغه څه چې مې لوستي دي حقیقت وي. هرو مرو یې رویا د دې لیک لیکلو ته اړکړې ده !
خو نه ، دا د رویا لیک و ، مګر رویا خو قسم کړی و چې ترابده به زما سره مینه کوي رویا خو به تل دمینې او صمیمت خبرې کولې ، نو څنګه یې ټولو شیانو ته دپای ټکي کېښود او ټول هغه څه او اړیکې چې زما او ددې ترمنځ وي سره ویې شکولې. شاید ددې لیک یوه موخه به داهم وه چې زه د رویا دوی کورته په مرکه ورنشم په هرحال ددې خبرې دسپیناوي او مشورې لپاره دحمید کورته ورغلم ، دلیک ټول متن مې ورته شفاهي ووایه او هیله مې ترې وکړه چې یوه دحل لاره راته وښایې او په دې هکله راسره مرسته وکړي نو لکه څنګه چې درویا دتره دکور ټیلیفون نمره راسره وه نو دحمید ځخه مې هیله وکړه چې خور یې هم له موږ سره لاړشي. ځو یو ولسي ټیلیفونځي ( P.C.O ) ځخه ورته ټیلیفون وکړي او رویا ټیلیفون ته راوغواړي او څنګه چې رویا غوږی واخیست نو ټیلیفون ماته راکړي چې زه په خپله ورسره خبرې وکړم او حقیقت معلوم کړم.
حمیدښه کلکه ژمنه وکړه او ټول جریان یې خپل خورته ووایه او وروسته درې واړه دیوولسي ټیلیفونځي پرلور روان شو ، ماشېرازته زنګ وواهه ، کله چې درویا دتره په کور کې چا غوږی پورته کړ نو ما سمدستي غوږی دحمید خورته ورکړ دحمید خور درویا پوښتنه وکړه او ټینګاریې وکړ چې غوږی رویا ته ورکړي ، خو مخامخ (مقابل ) لورې ووېل چې رویا له خپل نامزد سره دواده سامانونو داخیستلو لپاره تللې ده او شونتیا لري چې ډېره وځنډېږي.

ketabton.com - The Digital Library

کله مې چې داخبره واورېده نو نږدې وچې په چیغو چیغو وژاړم ، اوس مې نو باورو کړ چې دالیک پخپله رویا لیکلی و ، په همدې دلیل حمیداوخورېې ډېر ټینګار وکړ چې دهغوی کره ولاړشم ، خو دهغوی څخه مې بخښنه وغوښته او وروسته تردې مې ورسره خدای په اماني وکړه او په ډېرکرغېړن اکر له هغه ځایه دمیلمستون پرلور رارو ان شوم ، کله چې میلمستون ته راورسېدم نو درویا لیک مې یو ځل بیا پرانیست او په لوستلو مې پیل وکړ ، رویا په دې لیک کې داسې لیکلي ول:

(( زما ګرانه بهمنه !

سلام ګرانه ، یوه میاشت زما او ستا دلېدنې څخه تېره شوه ، خو تا بیا هم دخپلې کړې ژمنې په خلاف زما پوښتنه ونکړه او یو ځل مې هم پوښتنې ته رانغلې. زما سترګې تل منتظرې وې او ستا لیارې یې څارلې ، خو تا بیا هم هغه ددغې کړاو څخه ونه ژغورلې ، رښتیا چې یوه میاشت ډېر وخت دی چې دانسان په ژوند کې بدلونونه راولي ، ته بویه زما دژوند په اړه ډېر ځیر واوسې او زماژوند ته ډېره پاملرنه وکړې په د ې دومره وخت کې زما پلار ارام ناست دی او زما دژوند په هکله بېلابېلې مخپټیینې کوي چې له بده مرغه ستا ډېر ځنډېدل لامل شول چې زه دهغه دغوښتنو څخه یوې غوښتنې ته تن کېږدم.

زما ګرانه بهمنه ، ممکن دا زما وروستی لیک وي چې تاته یې دراستوم ، خو له تا څخه هیله کوم ، پرځای ددې چې له ما څخه کرکه وکړې دا لیک ، زموږ دمینې دوروستۍ خاطرې په څېر له ځان سره کلک وساته ، په هرحال دا تا پورې اړه لري چې څه پرې کوي. که نه غواړې چې ویې ساتې ، نو ویې شکوه ، ویې سوزوه او هرڅه چې دې زړه غواړي هماغه چم پرې وکړه.

زما دزړه سره ،زه چې اوس دالیک تاته لیکم نو شپه له نیمې تېره ده ، یوه ډېره توره او تیاره شپه او شاید خطرناکه هم !

ښه پوهېږم چې په دې دومره اوږده مهالې واټن کې تا زمالپاره ډېر بې خرته کارونه کړي دي او شاید یوه شپه هم زما له کبله په ارامه او اوسیله ویده شوې نه اوسې خو اوس چې دالیک لیکم هیله کوم چې نازکې او ښایسته سترګې دې هرګوره په ګلورین خوب وېدې شوي وي.

څومره درسره مینه کوم ، حتی دومره مینه درسره کوم چې اټکل یې هم نشم کولای ډېرمې زړه غوښتل چې یوځل بیا تا وګورم او هغه څارونکو سترګوته ووایم چې نور زما څار ونکړي ځکه نن شپه چې دمیاشتې وروستۍ شپه هم ده هرڅه پای ته رسېدلي دي.

ketabton.com - The Digital Library

نن شپه تړتولو شپو هم توره او هم تیاره ده ، رښتیا نن شپه نهه ویشتمه شپه ده او سپوږمۍ هم له اسمان څخه مروره شوې او تللې ده . خو سهار سهار چې لمر بیا خپلې زرینې وړانګې خوروي او خلک بیا خپل کار له سره پیلوي نوره به دلته نه یم .
رښتیا زه نور نشم کولای چې دلته پاتې شم !زه اوس په زوره داحمد چنغله ( نامزد ) شوې یم ، لکه څنګه چې پخپله هم ښه پوهېږې چې زما دلیوالتیا په خلاف داکار شوی دی ، او احمد چې له هرډول مهارت او مکارۍ څخه چې کاراخیستی زما پلاریې راځې کړی. او ته یې دیوه بدمرغه او بدفعله سړي په توګه ورته پېژندلی یې او وروسته له هغې یې په خپله ګرنه ( اصطلاح ) زه ددې لپاره چې ژغورل شوی واوسم او ژوند مې له تباهۍ نه بچ شوی وي خپله کړې یم......
پلار مې چې هم یو بدمرغه او ځان غوښتونکی سړی دی ، داحمد خبرې یې منلي او بې له دې چې دخبرې سپیناوی وکړي زه مجبوره کړم چې داحمد سره ګډ ژوند پیل کړم او تاکل شوې چې په دې نږدې راتلونکې کې سره واده وکړو .
زما ګرانه بهمنه ، له بده مرغه باید ووایم چې داڅو ورځې کېږي چې مادا احمد په وسیله خپل تېر عمل ( پوډر ) له سره پیل کړل ، زه اوس یو ځل بیا بده او چټلې نجلۍ شوی یم او ستا په څېر دیوه پاک او سپېڅلي انسان هېڅ کله ښځه کېدای نشم ، زه اوس فاسده یم او باید لکه احمد دفاسدانو او پلیتو خلکو سره واوسم ، پلارمې په دې خبره چې زه به داحمد سره واده وکړم ډېر خوشحاله دی ، ځکه احمد پېژندل شوی دی. هرڅه ورسره دي ، پیسي لري ، دشهرت څښتن دی ، او بالاخره موټرې او نور توکي لري او زما پلار هم ددې پیسوپسې نه ګرځي چې دایې له کومه کړي او آیا دحلالې لارې یې ګټلې او که له حرامې ، هغه ته یوازې پیسې ارزښت لري او بس !
اصلاً هغه نه غواړي چې دانسان باطن وګوري یوازې دظاهر پسې یې ګرځي او داحمد په څېر هلکان چې دده زوماني شي نو هغه خو پرځای پرېږده خو افسوس دا چې زما پلار هېڅ کله ماته ونه کتل او څه یې چې زړه غوښتل هماغه یې وکړل چې ښه بېلګه یې دادی نننۍ ورځ ده چې دخپلو غوښتنو لپاره یې زما ژوند قربان کړ.
زما پلار له دې پیوستون څخه ډېر خوشحاله دی ، او داحمد پښې شاه هم دهغه دموټرو مال ، دولت ، نفوز ، او نورو شیانو په اړه خبرې کوي ، دهغه پاملرنه یوازې همدې توکوته ده . خو دانه ګوري چې احمد څومره پست او بې شخصیته انسان دی چې په دې اړه داحمد په اړې څېرې راسپړلو کې زما زیارونه هم عبث شول او زما چیغو او کوکارو

ketabton.com - The Digital Library

زما دپلار په زړه باندې زره اغېزه هم ونکړه ، او هماغه خپله رنډه ( ضد ) يې ټينګ کړی دی او غواړي چې زه او احمد سره واده وکړو . شايد ډېر مور وپلار همداسې وي ، هغوی فکر کوي چې نېکمرغي او خوشحالي يوازې په پيسو او دولت کې ده ، دداسې مور وپلار لپاره هېڅ کله دا ارزښت نلري چې دغه پيسې له کومې لارې لاس ته راځي آيا حلالې دي او که حرامې ، هغوی حتیٰ خپلې پېغلې خويندې او لوڼې زړو سړوته هم دپيسو پروړاندې ورکوي او که ساده يې ووايم نو خپل اولاد او دزړه ټوټې دپيسو پروړاندې پلوري او په دې اړه هېڅ کله سوچ هم نه کوي چې زموږ دلورانو ګانده به څنګه وي ؟ !

زه هم ددغو غلطو او احمقانه فکرونو قرباني يم چې مورپلار مې دخپلو غوښتنو قرباني کړې يم .

احمد زه ګواښلې يم چې څومره ژر کېدای شي دغه ښارپرېږدو ، ځکه هغه زما اوستا په هکله په هرڅه پوهېږي ، نوددې لپاره چې کومه ستونزه ورته پيدا نشي ، غواړي چې موږ چېرې لرې ددې ښاره څخه ولاړ شو او هلته ښه په ټينګ ټونګ خپل واده ونمانځو .

بهمنه ، له تا څخه په ډېر درنښت هيله کوم چې ددې سکالو پروړاندې کلک او غلط غبرګون ښکاره نکړې ، ځکه زه نور واقعاً ستا په ښه نه راځم او ددې لپاه چې زه بيا هم په پوډرو روږدې شوې يم نو ته هم داځل زما ددرملنې توان نلرې نو هيله کوم چې ما هېره کړې او رښتيا احمد هم داکار په قصدي توګه کړی دی ، ځکه چې زه يې تل په پنجوکې محاصره اوسم او بيا هم له تا څخه هيله کوم هغه کوم رحم ، زړورتوب او ځواني چې ستا په وجود کې ده دهمغې له مخې ما وبخښې او ما دتل لپاره هېره کړئ. سبا به زه او احمد زما دخاطرو له ښار څخه کډه وکړو خو زما زړه به همدلته پاتې وي. ځکه يوه نجلۍ يو زړه لري او کله چې هغه چاته ورکړي نو غير له هغې هېڅ کله هغه بل چاته نشي ورکولای .

زما په اړه خو همداسې دی . زما ګرانه بهمنه ، زما مينې او هيلې ، له تا څخه هيله کوم پرځای ددې چې اوښکې تويې کړې ، خپل زړه ته غم ورکړې او په غوسه شې کوښښ وکړه چې ما هېره کړې . او زما لکه دغره په څېر عظيمه ګناه راته معاف کړې ، البته يوازې همد ا يوه غوښتنه زما نه ده بلکې بله غوښتنه هم شته هيله لرم چې زموږ دپاکې او رښتينې مينې په پار ورته داحترام په سترګه وګورئ ، او زما دګناه کارې ، ناولې او پلتي نجلۍ چې په خپلو ګناهونو کې به سوځم او کېدای شي په همدې ګناهونو کې مړه هم شم ، هيله ومنې ! !

ketabton.com - The Digital Library

زما ګرانه دالیک به هغه وخت تاته در رسېږي چې زه به نور ستا په څنګ کې نه یم او ته به ما همداسې سر په سر ښکنځې او لعنت به راباندې وایې ، تل به مې له بې وفایۍ او دغه ناکاره کړنو خبرې کوې، خبرې څه چې اوښکې به هم لکه سیلاب تویېږي ! خو دزړه سره: ته بویه هېڅکله اوښکې تویې نکړې ، وخانده ، دومره وخانده ، چې ټول غمونه دې په خنداکې ورک شي.

وروسته له هغې ماسره ژمنه وکړه ، که چېرې دې په کومې نجلۍ سترګې خوږې شوې او دزړه مراندې دې ورسره وګنډل شوې نو په رښتینې او حقیقي توګه ورسره مینه وکړه ،دومره مینه چې زه دې بیخې هېره شم !

دا دیوې مظلومې نجلۍ عاجزانه غوښتنه ده چې دژوند تروروستۍ شېبو پورې یې درسره مینه کوله.

بهمنه ! زه هغه وخت ستا له مینې خبره شوم او پرې پوه شوم چې زما زړه نور مړو او خپله مې هم په فساد کې ډوبه شوې وم ، نو په همدې وخت کې و چې زه په یوې نوې سکالو پوه شوم ، او ډېر زیات تعب مې وکړ ، له هغې حقیقت څخه خبره شوم چې تا له ما څخه پټ کړی و او زه چې کله ترې خبره شوم نو په خپل ځای کې همداسې وچه شوم او له ډېر هیجان اوستاله قربانۍ نه په ژړا شوم چې حتی لکه باد چې پاڼه رپوي ورسره رپېدم هم ، خوستا له نیت او خلوص څخه بویه دهمداسې کارونو تمه وکړو ! نه پوهېږم په کومه ژبه او په څه ډول له تا څخه مننه وکړم ، ددې لپاره چې زما ددرملو له کبله دې پوره یو کال په جېل کې تېر کړ او دغلا په نامه هغه دروند او وزمین پېټی دې په خپلو ولو واخیست خو هېڅ کله دې ونه غوښتل چې زما ابرو او عزت برباد شي.

زه نه پوهېږم چې څنګه ستا داډول مینه او قرباني جبران کړم ، هېڅ نپوهېږم چې څنګه ؟ هېڅ کار هم نشم کولای غیر له دې چې ستا مېړانې ، مینې او انسانیت او سړي توب ته په کراتو کراتو آفرین ووایم، او اوس چې تا نشم لیدلای نو مجبوره یم چې ستا انځور ( عکس ) ته په ګونډو شم او لکه مار اوښکې پسې تویې کړم.

تا هرڅه حتی ، کورنۍ ، کار، ابرو ، عزت او ....نادیده ونیول ، هرڅومره ملامتي تورونه اوپېرې دې په سرواخیستې او زما درملنه دې وکړه ، خو زه دې ددې دومره کارونو پروړاندې څه کولای شم ، هېڅ ، بس یوازې هېڅ !

ketabton.com - The Digital Library

ربنتیا دامهال زما ژبه بنده شوېده زړه مې مړ شوی دی او روح مې هم نه پوهېږم چې څه پرې شوی دی. نورمې سترګې دکاغذ پرمخ کرښې نه وینې او لاسونه مې هم دلیکلو توان نلري ، اوښکې مې نورنه پرېږدي چې خپل لیک وغځوم.

اوه ، زما خدایه نور دخپل زړه درزا اورم ، وینه مې بدن کې وچه شوېده ، لاسو او پښو مې کار پریښی دی.

ستا دښایسته سترګو سره نوره خدای به اماني کوم ، اوښکې تویيوم ، او بیا هم هیله کوم چې ما وبخښه ، زه یوازې ستا څخه بخښنه غواړم !

هیله منه یم ، چې دګاندې مینه او ژوند کې دې خوشحاله واوسې ، دومره خوښ او خوشحاله چې خپل تېر ژوند دې هېر شي چې ګوندې تا هم ((رویا ))په نامه دکومې نجلۍ سره مینه کوله .

په دې توګه له تا سره دتل لپاره خدای په اماني کوم او هیله لرم چې په خپلو کارونو کې بریالی واوسې ، هغه څوکه چې دژوند ترپایه پورې تانه هېروي او دتل لپاره تاسره مینه کوي ، ستا رویا . ))

درویادلیک له پرله پسې لوستلو څخه نږدې ول چې لیونی شم خو یوازې مې په اوښکو بسنه کوله او لکه څنګه چې ډېر ناکراره وم له میلمستون څخه بهر راووتم دساقي خانې پرلور چې دمیلمستون سره نږدې وه روان شوم او ښه ډېر شراب مې وڅښل ، وروسته له هغې بې له دې چې کومه موخه ولرم او یا چېرته کارولرم په کوڅو سرشوم ، په یوې او بلې کوڅې کې ګرځېدم.

زما دژوند بربادي له همدغه ځایه پیل شوه ، اوس نو زما ژوند رنګ نه درلود او نور نو دیو ښه او مناسب کارپسې نه ګرځېدم ،هرډول کاربه چې په مخه راغی دخپلو شرابو داخیستلو لپاره به مې کاوه ، حتی موټرې به مې هم وینځلې ځکه چې پسې لاس ته راوړم .

کومې پیسې مې چې ددې لارې لاس ته راوړلې په هغې به مې هره شپه شراب څښل او ساقي خانوکې به ورپسې ګرځېدم ما دځان سره تصمیم نیولی و چې ځان تباه او برباد کړم ، او زما دبربادۍ لپاره ترټولو ښه لاره همدا وه .

شپه او ورځ به مې دخپل غم دلیرې کیدلو به پار دومره شراب څښل چې حتی نور به ګنګس او مست شوم او لږې شېبې لپاره به دشرابو په زور هرڅه رانه هېر شول.

ketabton.com - The Digital Library

رښتیا هم که دغه کار اومستي نه وای نو پوهېږم چې څنګه به مې ددغې غمونو او رنځونو پروړاندې مې مقاومت کړای وای او څنګه به ددغې غمونو څخه تښتېدلای وای او شاید که ساقي خاني نه وای نوزه به تراوسه دغمونو او رنځونو دلاسه خاورې شوی وم . یوازې دساقي خانو غېږې وې چې دځو تېرېدونکو شېبو لپاره یې زما هرڅه هېرول ، ځینې شپې خو به مې دومره شراب وڅښل چې خپل واک به مې له لاسه ورکړ او دساقي خانې څخه به دراوتللو پرمهال دديوالو نو سره ټکر کېدم او هماغسې مست او خوشحاله به مې ځان په رانښکودو ، رانښکودو یو کونج ته رساوه او هملته به ترسهاره ویده وم ،ددې لپاه چې په کراتو کراتو یې زندان او روغتون ته په همدغې جرم بوتل شوی وم نور نو دهر ځای پازه والو زه پېژندلم او چې چېرته به پروت وم نو چا به راسره کار نه درلود . زه اوس یو بشپړ شرابي شوی وم او یو داسې شرابي چې ګومان مې کاوه که شراب ونه څښم نو مړ به شم ، کله به چې شراب راونه رسېدل نو ډېر بدځان درد او لړزې به پسې واخیستم ، پښې او لاسونو به مې کار پرېښنود ، ژبه به مې وچه شوه ، او ستونې به مې داسې بند ، بند کېده چې ما ویل او س ګواکې مړ کېږم.

هره ورځ به مې تربلې ورځې زیات شراب څښل ، دومره به مې وڅښل چې دخلکو به راباندې زړه خوږېده او همداسې پرله پسې به یې راته نصیحت کاوه چې نور دا فضول او بې ځایه شراب څښل بس کړم.

هغوی به ویل که زه همداسې شراب څښلو ته ادامه ورکړم نو لیرې نه ده چې یوه ورځ دهمدې ساقي خانو په یوه کونج کې همداسې بې کسه او بې وسه مړ شم ! او ما چې یوازې دمرګ غوښتنه درلوده نو خپل کارته مې ادامه ورکوله او هېڅ ډول وېره مې له مرګه څخه نه درلوده ، خو له بده مرغه چې دمرګ هم زه وېر شوی وم او په هېڅ ډول کړنو مې پوښتنې ته نه راتلو .

زه یو جوارګر وم داسې جوارګر چې دخپل ژوند په ( دو ) کې مې هرڅه بایللي ول ، یوازې غرورمې پاتې و . هغه غرور چې دمینې له چینې څخه یې اوبه څښلې . او همدا مینه وه چې ماورته دخپل ژوند څخه هم ډېر ارزښت ورکړی و. عجیبه خو داوه په ساقي خانې کې به چې زه کله دچاسره مخ شوم نو هغوی به هم زما په څېر د ورته ناروغۍ څخه سر ټکاوه او ساعتونو ، ساعتونو به سره ناست وو ، چې په پای کې به موږ ټولو یوځای دډېر خوږ و او ترخو خاطرو وروسته سره ژړل.

ketabton.com - The Digital Library

ښه مې ياد دي چې يوه شپه يو ځوان سره مخامخ شوم چې هغه هم په مينه کې ماته خوړلې وه او ماسره يې يوځای شراب وڅښل ،ددې له کبله چې ما ډېر ژړل او اوښکې مې تويېولې نو زما ژړا ته ټينګ نشو او خدای په اماني يې وکړه او ولاړ دهغه له تګ وروسته زما ژړا زوره وره شوه ،اودومره کوکارې مې وکړې چې په ساقې خانې کې ټولوناستو کسانو اوربدلې اوپه لوړاواز مې درويا نوم په وار وار تکراراوه اوپرځمکه ،ځمکه مې سرواهه .په دې وخت کې يوه ښځه چې تل يې شراب ځښل اوزما څوکۍ ته مخامخ ناسته وه اوزما دژړا څخه هم اريانه دريانه شوې وه مخ زما پر لور راواړاوه اوويې ويل:

(ملګريه ،زما واوره ،هېڅکله دښځې پسې مه ژاړه )

هغې ته مې وويل( اخرما خودهغې سره دزړه له کومې مينه کوله ،نشم کولای چې هېره يې کړم ،نشم کولای.)

په تېزۍ سره زما دخبرو په منځ کې راولوېده او ويې ويل:(يوه ښځه که هرڅومره ښايسته حسينه ،زړه راښکوونکې او....اوسي هېڅکله ستا په يوې اوښکې هم نه ارزي ، زما واوره ، ديوې ښځې له کبله هېڅکله اوښکې مه تويېوه او...

خوايا ما کولای شول چې درويا پسې ونه ژاړم ،اوآيا ما کولای شول چې هغه هېره کړم !

نه هېڅکله ،ما نشو کولای چې رويا وېره کړم ،نو همدا لامل و چې دخپل غم غلطولو لپاره به مې شراب څښل.

رښتيا شراب څه ښه شی و د دردمنو لپاره اوياهم زما لپاره ؤ ،ما په ځينې شپې دشرابو په څښلو کې دومره افراط وکړچې نوربه بې هوښه شوم ،دومره شراب به مې وڅښل چې ځيګربه مې سوځيده اوځان به مې اورواخيست اودومره به بې ډبه شوم چې دخپل ځان واک به مې دلاسه ورکړ.

يوه شپه چې دعادت سره سم يوې وړې ساقې خانې ته ننوتم نوتصميم مې ونيوچې ترنوروشپوزيات شراب وڅښم .همداسې پرله پسې مې دشرابوغوښتنه کوله دساقې خانې مالک څوځلې شراب راولېږل خوما همداسې پرله پسې پيکونه (ګيلاسونه) په سراړول ،اخرمې دومره افراط وکړچې داشپه نورله پښووغورځېدم اوځای په ځای لکه معيوب کښېناستم ،اوترلږې شېبې وروسته بې هوښه شوم چې وروسته بيا راته دساقې خانې خاوند کيسه وکړه چې کله بې هوښه شوم نو حالات مې خراب شول هغه دوارخطايۍ له امله ډاکټر راغوښتی وچې ما معاينه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

ډاکټرله معاينې وروسته امرکړی وچې هرڅومره ژرکېږي ما روغتون ته بوزي دساقي خانې خاوند هم چې لاس اوپښې شوې و سمدستي پوليسوته خبر ورکوي اوټول حالات ورته بيانوي ،پوليس امبولانس راغواړي اوما روغتون ته رسوي.
نږدې شل ساعته به روغتون کې بې خوده (بې هوشه ) پروت وم خوکله مې چې سترګې وغوړولې نا څاپه دررويا سره مخ شوم چې زماسر ته ولاړه وه !!
اوه ، زما خدايه ، آيا اشتباه خو مې نه کوله ، او آيا دا زما رويا وه ، چې دډاکټرانو سپينه چپنه يې په ځان کړې وه او زما دمرستې لپاره راغلې وه ؟
په هرحال په هر اکر کې چې وم ډېر خوشحاله وم ، کوم حال چې ما پيداکړی و ډېر ترې خوشحاله وم او که رښتيا ووايم نوددې ټولو ستاينه هم نشم کولای ، بيا هم هرڅه چې ول زماپه زړه کې ول او ما ترې ډېرخوند اخيسته.
زړه مې غوښتل چې دروغتون له کټ څخه راټوپ کړم او رويا په غېږکې واخلم او له هغې مننه وکړم چې يو ځل بيا هم زما پرلوري راغلې ده ، زړه مې غوښتل چې چيغې ووهم او هغې ته ووايم چې اوس هم ورسره مينه کوم او ستاله کبله په دغې اکر کې راښکېل شوی يم !
خو افسوس چې توان مې نه درلود او ددې شيمه مې هم نه درلوده چې کومه خبره په ژبه راوړم ، يوه شېبه همداسې اريان دريان پاتې وم ، او له هغې څخه مې سترګې نه اړولې ، هغه هم همداسې غلې زما سرته وولاړه وه ، او ماته يې ځيرځير کتل ، خو زما پر لور کتل يې سوچه پردې ول ، داسې برېښېده چې ګواکې زه او هغه سره هېڅ نه پېژنو .
لږ وخوځېدم او ځان مې ځای پرځای کړ . هغه هم ټيټه شوه ، لاسونه يې زما پرسينه کېښودل اوپه ارامۍ سره يې وويل:
((لطفا مه خوربږه ...... ) )
آه ، زما خدايه !دا درويا غږ نه و ، خير دا نو رويانه وه ؟
دا زما مينه او هيله نه وه ؟نه هغه دروغتون نرسه وه ، خو عجيبه داوه چې کټ مټ درويا په څېر وه ، او داسې ګومان کېده چې دوه جوړې خويندې دې واوسي . ډېره شېبه مې همداسې اريا دريان ورته کتل او هغه هم بې له دې چې څه ووايي غلې ولاړه وه ، او په رډو رډو يې ماته کتل ، په دې وخت کې يوه بله نرسه خونې ته راننوته او هغې ته يې وويل:
(( شهلا جانې ، نامزد دې راغلی دی ، غواړې تا ووينې ، ګومان کوم څه کار درسره لري ، زه ولاړه شه ، ترڅو چې ته بېرته راستنېږې زه ددې ناروغ خيال ساتم او...له دې خبرو

ketabton.com - The Digital Library

وروسته هغې نرسې چې دروپا سره کټ مټ ورته والی درلود . او نوم يې شهلا وه له خونې ووته.

دهغې له وتو وروسته چې زما حال هم لا څه ښه شوی و دنوې رانوتې نرسې څخه مې دشهلا په اړه پوښتنې او ګرو ېږنې وکړې. نوموړې نرسې وويل: که رښتيا وايم نو شهلا اوس ، اوس دې روغتون ته راغلې ده او زه هم ورسره لا دومره صميمي نه يم او زه يې په هکله دومره معلومات هم نلرم.،

دشهلا دنامزد په هکله مې ترې پوښتنه وکړه ويې ويل: په دې هکله هم دومره معلومات نلرم ، خوکوم سړی چې شهلا وايي نامزد يې دی ښه ويلون غږونکی دی، چې کله ناکله دشهلا سره هم تمرين کوي ، ځکه شهلا ښه اواز لري او دشهلا له قوله دغه سړی دوه مياشتې مخکې په يوه ميلمستيا کې دشهلا سره مخ شوی وروسته له هغې چې کله دې سړي دشهلا اواز اوريدلی نو هغې ته يې دتمرين وړانديز کړی چې ورسره تمرين وکړي ، شهلا هم دغه وړانديز منلی او تمرين يې ورسره پيل کړی دی چې په همدې لړکې ددواړو دپېژندګلوۍ په بهير کې سره نامزد شوي دي ، نو په دې اساس هره ورځ چې دشهلا ددندې وخت پای ته رسېږي دهغې نامزد راځي او دواړه سره يو ځای کورته ځي.

ددې لپاره چې نرسه پرما بدګومانه نشي او زما ګرو ېږنې پرې ناوړه اغېزه ونکړي نورې پوښتنې مې ترې ونکړې ، زما معلومات دشهلا په اړه همدومره ول ، خو په دې هم ښه پوهېدم چې هغه کټ مټ زما دورکې شوې په څېروه ، که چېرې ددې او روپا پيدا ايښت په يوه وخت کې او يو ځای کې شوی وای نو ما به هېڅ کله هم ګومان نه وای کړی چې دادې شهلا اوسي ، په دې اکر کې چې زه په همدې سوچونو کې ډوب وم ډاکټر را دننه شو او ماسره يې په خبرو پيل وکړ او زما دحال پوښتنه يې وکړه ، ديوې وړې او سرسري کتنې وروسته چې دويم ځلې روغ شوی وم اوهغه دچا خبره دمرګ له خولې بچ شوی وم راته مبارکي وويله په دې وخت کې شهلا بېرته راستنه شوه ډاکټر چې شهلا وليده نو دهغې بلې نرسې سره چې تردې دمه مې دهغې نوم هم زده نه و ، ووتل اوزه او شهلا يې يوازې پريښودو . دهغوی له تګ وروسته ما غوښتل چې دشهلا سره دخبرو لړۍ پيل کړم ، خو له بده مرغه چې دخبرو کولو توان هم راکې نه و.

هغې زما دملاستې ځای جوړ کړ اوروسته له دې چې پوښتنه يې راڅخه وکړه چې څه شي ته اړتيا لرم او که نه راسره خدای په اماني وکړه او لاړه ، دتللو پرمهال يې ماته وويل که چېرې مې کوم شي ته اړتيا پيدا شوه نو دټالۍ ( زنګ ) ښټن دې ووهم

ketabton.com - The Digital Library

دهغې له تګ څخه وروسته مې یوې نا څاپي کرکې ټول بدن محاصره کړ او لامل یې هم همدا چې ددې نجلۍ ( شهلا ) په لیدلو راته درویا خوړېږي او ترخې خاطرې را په یا دشوې .

په هرحال په هغه بحراني شېبه کې له هغې څخه مې ډېربد راغلي ول او نور په هېڅ وجه حاضرنه وم چې په دې ساعت کې هغه ووینم.
په همدې موخه کله چې ډاکټر مې خونې ته راغی او زما په کتنې یې پیل وکړ ماورته دخپل ژوند ټوله کیسه وکړه او له هغه څخه مې وغوښتل چې نور شهلا زما دچوپړ لپاره راوانه ستوي او دهغې پرځای یوه بله نرسه زما ددرملنې او خونې ارامتیا لپاره راولېږي ، ډاکټر ومنله او دهغې پرځای یې راته یوه بله ډېره تېزه ، بد رنګه او کم اوسېلې ( حوصلې ) نرسه راولېږله ، دغه نرسه نسبتاً غمجنه او غوسه ناکه برېښېده .
په هرحال هغه چې هرڅه وه ماته دشهلا څخه ډېره ښه و ، دې نرسې په ډېر زړه سواندې زما پالنه کوله . نه پوهېږم چې ډاکټر دې ته څه ویلي ول چې پرما دومره مهربانه وه او ځینې وخت خو به لاساعتونه زما دچپرکټ ترڅنګ ناسته وه او ماسره به یې خبرې کولې او ما ډېرکوښښ کاوه چې ددغې غمجنونتوب او خپګان لامل چې ددغې نرسې په څېرې کې له ورایه برېښېده پیدا کړم ترڅو چې یوه ورځ په خبرو کې دهغې له خبرو څخه پوه شوم چې هغه دخپل بدن دبدرنګ والي څخه رنځ وړي او دخپګان آر لامل یې هم همدا دی. داسې برېښېدل چې هغه ډېره مغروره ده او په هېڅ وجه راځي نه ده چې کوم سړی دهغې دصورت دبدرنګوالي له کبله په هغه رحم وکړي او یاپرې زړه وسوزوي او مینه ورسره وکړي ، نو همدا لاملو چې دې موضوع یې غم لاپسې زیا تاوه .
ددې نرسې دخپګان دلامل په پوهېدو ډېر خپه شوم او دځان سره مې وویل چې ربښتیا هم طبیعت څه کارونه کوي ، یوه ښځه دومره ښایسته پیدا کړي چې دحسن ملکه شي او بله دومره بدرنګه شي چې حتی څوک ورته ګوري نه ، او پخپله هم له ځانه وېره کوي او تښتي .
ددې ترڅنګ دې ټکي ته هم ځېر شوم چې نومو ړې نرسه نه غواړي په دې هکله ترې ډېرې پوښتنې او ګروېږنې وشي . نو دخبرو لوری مې بل لورته واړاوه . بله ورځ هغې دخپل کار په پای کې ، کله یې چې غوښتل له خونې څخه ووځي مخ زما پرلور راواړاوه اوویې ویل : ربښتیا ټاکل شوې چې سبا دناروغانو دروحي درملنې په موخه دروغتون په تالارکې یوه غونډه یا کنسرت دڅو خوږ ژبو سندغاړو او هنرمندانو په ګډون جوړ شي ، ستاسې هم

ketabton.com - The Digital Library

اوس دخدای ( ج ) په فضل حال لږ ښه شوی او کوای شی چې په دې کنسرت کې ګډون وکړئ ، هغې سره مې ژمنه وکړه چې هرو مرو به ورځم ، سبا زه سره دځو نورو ناروغانو چې لږ ځه يې حال ښه شوی و دروغتون ځانګړي شوي تالار ته چې کنسرت په کې ترسره کېده ورغلو ، دې کنسرت ته دهېواد ډېر تکړه او پېژندل شوي هنرمندان راغلي ول چې دناروغانو لخوا په خورا چکو چکو او چيغو بدرګه شول.

په دې وخت کې ناڅاپي ویاند خبر راکړمېرمن شهلا چې دروغتون يوه ډېره لايقه او ماهره نرسه ده او مېړه يې چې يو پېژندل شوی ويلون غږونکی دی غواړي په خپل خواږه او زړه راښکوونکي اواز ستاسې چوپړ په پاريو څو خوندوري سندرې ووايي.

شهلا دخلکو دهاها او بدرګو له منځه ددريځ مخې ته جګه شوه او ترځنګ يې يو بل سړی هم روان و چې وروسته خلکو وويل دايې نامزددی ، دواړو په ګډه په خپل زړه راښکونکي اواز سندرې ويل پيل کړل.

د شهلا نازک او زړه راښکوونکي اواز دباور وړنه و ، مخکې تردې مې هم د شهلا داواز په اړه ډېرې ستاينې اوردېدلې وې خو هېڅ کله مې فکر نه کاوه چې دهغې اواز دې دومره زړه راښکوونکي ، جذاب او خوندوروي.

هغې په دومره شور او زوږ سندرې ويلې چې هرڅومره کلک او سخت زړه يې نرماوه کله يې چې لومړۍ سندره پای ته ورسېده نوخلکو دومره بدرګه کړه او دومره چکې چکې يې ورته ووهلې چې ترډېره يې دتالار فضا نيولې وه ، نو همدا د اورېدونکو غوښتنه وه چې هغې څو نورې سندرې هم وويلې ، بيا هم ګډونوالو ټينګار کاوه چې څو نورې سندرې هم ووايي خو شهلا بخښنه وغوښته اوورته يې وويل چې تردې زيات وخت نلري ، او هيله يې وکړه چې ترې خپه نشي ، په داسې حال کې چې بيا هم خلکو په ځټاکو بدرګه کوله ددريځ څخه راښکته شوه.

کله چې کنسرت پای ته ورسېد زه هم دخپلې خونې پرلور روان شوم په داسې حال کې چې دخپلې کړنې څخه چې دنرس شهلا په برخه کې مې کړې وې ډېر پښېمانه وم.

د شهلا اواز پرماژوره اغېزه کړې وه دهغې اواز يوه نغمه او يو ترنګ و چې دزړه له تله يې اوبه څښلې او دحنجرې له لارې يې زړونو ته ژوند ورباښه. دهغې اواز دومره خوندور او زړه راښکونکی و چې ما په رښتينی توګه ځان دهغې داواز مين باله.

ketabton.com - The Digital Library

ځيني وخت دا شونتيا هم شته چې ځيني لاملونه په انسان ژوره اغېزه وښندي او ورسته دهماغې لاملونو پروړاندې دانسان اند بدلون وومومي ، دشهلا په اړه ما هم همداسې يو اکر درلود او اند مې دهغې په اړه په بشپړ توګه بدل شوی و .

حيران وم په دې چې هغې ددې دومره زړه راښکوونکي او از سره سره ولې دسندرو فن نه وټاکلی يا ولې سندر غاړې شوې نه وه ، شايد کوم لامل به يې درلود چې زه يې په اړه نه پوهېدم له هغې ورځې وروسته نور ما دشهلا څخه تېښته نه کوله ، بلکې ليوال وم چې دهغې سره خبرې وکړم خو کله به چې موقع لاس ته راغله او دواړه به سره مخامخ شونو هغه به زما له مخې تښتېده او هڅه به يې کوله چې له ما سره مخامخه نشي.

سره ددې چې هغې ته مې ځوځلې ځواب وراستولی و او دغلط پوهېدنې څخه مې په کراتو کراتو بخښنه غوښتې وه خو هغې بيا هم ددې ټولو خبرو سره سره ما سره سم چلند نه کاوه دې اکر تر ډېره ادامه درلوده ، ترڅو چې يوه ورځ ډاکټر زما دکتنې لپاره راغی کله يې چې زما دوسيه او کتنه ( معاينه ) بشپړه کړه ويې ويل:

(( خوشحال يم په دې تاسې ته خبر درکوم چې ستاسې صحت په بشپړه توګه ښه شوی دی او تاسې کوای شئ چې کورته ولاړ شئ ! ))

ددې لپاره چې يوځل بيا په بشپړه توګه ښه شوی وم ډېر خوشحاله وم ، ځکه پوهېدم چې نورمې دناروغې مهال پای ته رسېدلی دی. غوښتل مې چې ژنګه دروغتون څخه رخصت شوم ، ولاړ شم او دځان لپاره کارپيدا کړم او په دې توګه وکولای شم خپل ژوند بيا له سره جوړ کړم. په همدې موخه مې دډاکټر څخه هيله وکړه چې دهماغې ورځې پرمازيګر ماته رخصت راکړي. ډاکټر هم اړوندو ځانګو باندې په دې اړه ماته امر راکړ. دهغې ورځې له غرمې وروسته مې خپلې جامې دروغتون له دفتره واخيستې او وروسته دخپلو ګاونډيانو ناروغانو خونوته دخدای په امانۍ په پار ورغلم او رورو سته له هغې څخه دنرسانو خونې ته هم ولاړم ترڅو دشهلا او يو شمېر نورو نرسانو سره خدای پا ماني وکړم له نېکمرغه شهلا هم په خونې کې وه او څنګه يې چې سترګې پرما ولګېدې ، بې له دې چې څه وو ايي له خونې بهر ووته او زما دخبرې ځواب چې دخدای په امانۍ لپاره راغلی يم همداسې پاتې شو.

په داسې حال کې چې دشهلا ددې کار څخه سخت ناخوښه شوی وم نورو نرسانو ته ورغلم او دخدای په امانۍ ترڅنګ مې ځانګړې مننې هم له هرې يوې څخه وکړې او بخښنه مې

ketabton.com - The Digital Library

ترې وغوښته چې زما سره په دې دومره وخت کې په تکليف شوې وې، وروسته له هغې همداسې ترو ((مستقيماً )) له روغتون څخه ووتم.
کله چې د وروتو ( دروازو ) له چوپړ کوونکو سره په خداى په امانۍ بوخت وم ، يوه نرسه په منډه ، منډه راغله او يو وړليک يې ماته راکړ او راته يې وويل چې شهلا راکړى دى.
ما هغه په جيب کې واچاوه او دچاپړاسيانو سره دخداى په امانۍ نه وروسته د روغتون څخه ووتم.
دروغتون څخه بهر آزادې هوا ماته يو ډول ځانکړى خوندراکړ چې زما روح يې تازه کړ ، داسې مې انګېرله چې ژوند په خپل طبيعي اکر پرمخ ځي او هرڅوک په خپلو کارونو بوخت ول ، دپنځ څرخ هماغسې په خپل اکر ګرځېده او دانسانانو برخليک يې لټاوه ، دهغو انسانانو چې ډېرى يې دژوند له خوږو او ترخو سره بلد نه وو او هماغسې په احمقانه توګه يې خپلو هڅوته دوام ورکاوه ، چې دتل لپاره ژوندي پاتې شي !!
زه هم ديو ډېر وخت بستربدو ، ستونزو ، اوکړاونو څخه وروسته دهمدغې خلکو په منځ کې بېرته په عادي اکرراغلى وم ، دهغو انسانانو په منځ کې چې سره يو ځاى اوسېدل ، خيانت يې کاوه يو دبل پښې يې وهلې ، يو له بل سره يې ښه کول ، يو له بل څخه يې غچ اخيسته او بالاخره دا چې خپلې موخې ته درسېدو په خاطر يانې يوازې دژوندي پاتې کېدو په پارنه بلکې دژوندکولو په پار وو راغلى وم.
حتىٰ داسې انسانان هم په دې ټولنه کې ژوند کوي چې يوازې دانسان نوم لري نور هېڅ ډول سپي توب او لوفري ترې پاتې نه ده .

زه هم ديو څه وخت وروسته بېرته همدې ټولنې او همدې انسانانو ته چې هم ښه او هم بد په کې اوسېدل راغلى وم. په داسې حال کې چې برخليک لاهماغسې زما په ژوند لوبې او نخرې کولې.

ketabton.com - The Digital Library

# اتم څپرکی

هغه شپه زه دويم ځلي هغه ميلمستون ته چې ترمخه مې په کې ځان ته خونه په کراه نيولې وه ورغلم خو داځل يې هغه خونه بل چاته په کرايه ورکړې وه او ماته يې بله کوټه راکړه کله چې کوټې ته لاړم نو يوه شېبه خو همداسې په کوټې کې بې موخې ګرځېدم راګرځېدم څه شېبه وروسته دکوټې په يوه کونج کې کښېناستم او په ښه ژور سوچ کې ډوب شوم تېر شوی ژوند راته په ياد شو يوه شېبه خومې بې واکه وژړل، داسې ګومان مې کاوه چې ممکن په ژړا مې لړزړه سپک شي او څه غم مې کم شي.

ketabton.com - The Digital Library

خو له بده مرغه چې اوښکو مې هم زړه ته تسکین رانکړ ، دغم مراندو مې لاهماغسې زړه سکونده ، او په ارام يې نه پرېښودم ، په همدې وخت کې ول چې ناڅاپي د ((شهلا )) ليک را په زړه شو ، هغه مې له جيب څخه رابهر کړ او ومې لوست ، هغې په دې ليک کې د ډېرسپما څخه کاراخېستی و او خُلاصه يې ليکلی و چې داسې و : پرون زموږ نامزدي لغوه شوه ، که غواړې چې ما ووينې نو زما پته داده ... دوه درې ځلې مې کاغذ واړاوه راواړاوه خو نور څه په کې نه ښکارېدل ، دشهلا ددې کار څخه چې يو دم يې خپله ګروهه بدله کړې وه ، ډېر خوشحاله شوم او په داسې حال کې چې حيران هم وم ليک مې ونغښت او دخپل پطلون په لانديني جيب کې مې کېښود او دامې دځان سره وپتيیله چې که چېرې وخت راسره پيداشو او مناسبه موقع په لاس راغله نو يوځل به سرورښکاره کړم په هغه شپه کې مې بېلابېلو او ډول ډول فکرونو ذهن محاصره کړ ، کله خو به مې وويل چې همدا اوس دشهلا کورته ولاړ شم اوورته ووايم چې ما نور ددې اکره وژغوري ، ددې لپاره چې دا درويا سره کټ مټ ورته والی لري نو زما سره دې واده وکړي چې درويا ياد پرې تازه کړم او په دې پلمه به زړه ته مې هم تسکين وشي.

خو ډېر ژر پښېمانه شوم او ديو ډول نا اشنا کرکې احساس به مې وکړ او ددې لپاره چې هغې تردې کچې درويا سره ورته والی درلود نو ما به رنځ وړ ، سربيره پردې کله چې زه په روغتون کې بستر وم او ددې کړنې به را په زړه شوې نو نور به هم پسې غوسه شوم ، نو همدا لامل و چې په دې شپه مې دهغې کورته له ورتګ څخه ډډه وکړه او داکار مې دګاندې مخپټيينې لپاره پرېښوده ، وروسته تردې دسلګونو سوچونو سره په خپل ځای کې پرېوتم او سګرېټ مې ولګاوه ، خو لکه څنګه چې ټوله ورځ ګرځېدلی وم او بې ګچې مې دستړيا احساس کاوه نو سګرېټ مې په نيمايي کې مړ کړ او يوه شېبه وروسته په درانه خوب ويده شوم.

دهمدې شپې پر سبا دنورو ورځو په پرتله چې هره ورځ به روغتون کې راپاڅېدم ناوخته راويښ شوم ، دمخ او لاسو وينځلو اودغه راز دسهار چای څښلو وروسته له ميلمستونه رابهر شوم ، تصميم مې ونيو چې لږ دښار په پراخه ارتو ، اوښايسته پارکونواو ځايونو کې وګرځم ، تر څو ددې څو روځو دناروغۍ ستړيا او خپګان چې ماپه روغتون کې تېرکړې وجبران کړم اولږخپل پام هم غلط کړم ، دهمدې مخپټيينې په پارلومړی ((نادري )) پارک ته ولاړم ، وروسته له هغې چې هغه ځای مې په بشپړه توګه وکوت داسلامبول پارک له لياري لاله زار پارک ته ولاړم ، په دې ځای کې د موټوټګ راتګ ، دلاسي

ketabton.com - The Digital Library

پلورونکو شور او هاها ، دکورونو ، مغازو ، او په سلګونو نورو شیانو موجودیت چې په ټولنه کې یې یو خاص ډول نظام جوړ کړی و ډېر خوند راکړ ، ځکه زه ډېر وخت دروغتون په ارامه او زړه نیونکي چاپېریال کې رابنکېل شوی وم او اوس آزادۍ فضا ډېرخوند راکاوه.

ډېره شېبه دخلکو په منځ کې یوه خوا اوبله خوا وګرځېدم ، آخر مې تصمیم ونیو چې دوخت تېرولو لپاره سینما ته ولاړشم چې په همدې نږدیو کې وه ، سینماته ولاړم خو دفلم پیل کېدو ته لاوخت پاتې و نو ځکه دسینما اجاره دارانو هم ټکټونه نه خرڅول او په تمه ول ترڅو وخت یې راورسېږي ماهم ددې لپاره چې نوبت مې نیولی وي ډېر لیرې ولاړ نشوم او په سینما کې مې دلګول شویو انځورو نو په لیدلو پیل وکړ ، وروسته له هغې دمیوې داوبو یوه دوکان ته ننوتم ، ترڅو دفلم پیل کېدو پورې همدلته کښېنم او اوبه به هم وڅښم ، خو دمیوې اوبه مې لانه وې څښلې چې په ولې مې یو لاس کېښودل شو ، کله مې چې مخ شاته واړاوه نوحمیدوچې دیوې ډېرې ښایسته نجلۍ سره څنګ په څنګ او لاس په لاس راته مخامخ ولاړو ، یو بل ته مو سره غېږه ورکړه او مخونه مو سره مچې کړل ،وروسته له دې هغه ، هغه نجلۍ چې ورسه څنګ کې ولاړه وه او دخپلوانو له ډلې څخه یې وه ماته راوپېژندله دحمید له لیدلو څخه ډېر خوشحاله شوم که رښتیا ووایم نودروغتون دفارغېدو څخه وروسته مې ښه حال نه درلود او بله دا چې دهغه ډېر پوروړی هم وم نو ځکه یې لیدوته نه ورتلم ، نو په همدې موخه کومه ښایسته او نازکه نجلۍ چې دهغه سره ولاړه وه ما دهغې له کبله په خپله خوله مهرولګاوه او دخبرو وار مې هغه ته ورکړ ، ډېر ټینګار یې وکړ چې سره یو ځای واوسو ، دناکامه مې ومنله په یوه ټیکسي کې سپاره شو او هغه نجلۍ مو خپل کورته یې ورسوله او دخدای په امانۍ نه وروسته حمید بار بار خپګان څرګند کړ چې ولې مې ددې پوښتنه په دې دومره وخت کې نه ده کړې نو په همدې کې دحمید په نغوته دپهلوي واټ ته ولاړو ، بیا هم دحمید په غوښتنه یو رستورانت ته ننوتلو او دډوډۍ فرمایش یې ورکړ ترڅو چې ډوډۍ رارسېده ماټول هغه څه چې پرما تېر شوي ول حمید ته کیسه وکړه.

وروسته دډوډۍ له خوړولو یوه شېبه غلي او بې خبرو کښېناستو ، حمید په داسې حال کې چې سترګې زما په وجود کې خښې کړې وې بې له سریزې وویل:

((رښتیا بهمنه ، دبستر په وخت کې دې کله ورځپاڼې هم لوستلې ؟ ))

((نه ، ډېر کم ))

ketabton.com - The Digital Library

یوه شېبه یې چوپتیا غوره کړه او وروسته له هغې په داسې حال کې چې د یوې کرغېړنې خبرې څرګندتیا یې کوله ، وویل : (( بهمنه غوارم یوه پوښتنه له تاوکړم ، آیا اوس هم دپخوا په څېر له رویا سره مینه کوې ؟ )) البته که څه هم هغې زه هیرکړی یم ،خوزماتل په یادده اوتل یې ستایم.

غوارې داډیر وخت چې دې نه رویا لیدلې اونه یې له حاله خبریې په باره کې ځینې معلومات ترلاسه کړې اودرته یې ووایم ،که غوارې چې درته یې ووایم نوترهرڅه دمخه به راسره ژمنه کوې چې ناکراره کېږې به نه ،اونه به هم کومه ګډوډي را منځته کوې.

فکرمې وکړ چې شاید داحمد اورویادواده په هکله راته څه ووایې په همدې موخه مې ورته وویل اوورسره مې ژمنه وکړه چې نه خپه کېږم.

بیایې هم مکث وکړ داسې برېښېده چې ګواکې ډارېږي خوزه یې چې په اکر پوه شوم اوګومان مې کاوه داحمداورویا دواده په اړه راته څه وایي نوپه کراتو ،کراتومې ورسره ژمنه وکړه اوټینګارمې وکړ چې هېڅکله نه خپه کېږم ځکه مې قسم هم وکړ په یوډول ناباوري مې ژمنه ورسره وکړه ،ځیرځیریې راته وکتل ورسته له دې یې کوښښ کاوه چې خپل عادي اکروساتي یوه شېبه خویې حاشیه رویې وکړه دمرګ اوژوند په هکله یې خبرې وکړې اوویل یې چې موږټول بویه په مرګ ګروهه ولرو ځکه یوه ورځ نه یوه ورځ ټول مرو ،زه پوه شوم چې دی حاشیه رویې کوي او غوارې چې ددې لارې بالاخره آره خبره چې درویا اواحمد واده دی راته وکړي ، نوځکه هم ما بیا هم ټینګاروکړ اوقسم مې یاد کړ چې زه هېڅ ډول ناکراي نه کوم ، نوهیله کوم چې خبره ډیره اوږده نکړي اوخپله موخه راته ووایي داځل یی به تشویش وویل: څه وخت مخکې مې په کور کې ورځپاڼه لوسته چې ناڅاپه مې داحمد اورویا په نامه دیو هلک اویوې نجلۍ په انځور سترګې ولګیدې خبره ،مې ورته دټوکې په ډول غوڅه کړه اوورته مې وویل : (اوورسره لیکل شوي ول چې دواړو واده کړی دی !).

( نه لیکلې یي وچې ، په ډیره ناکراری یي بیاهم مکس وکړ ! )

و مې ویل: (څه یی لیکلې ول ؟)

(لیکلې یي و .....هغوی دواړه په یوه ترافیکې پېښه کې مړه شوي دي !!)

مایوسانه اوپه نه باورئ مې وویل:

(مړه شوي دي ؟!)

(یانې رویا مړه شوې ده ؟)

ketabton.com - The Digital Library

( له بده مرغه هو کې هغه مړه شوه او په ډېر ویاړ هم مړه شوه )
ددې ناڅاپي خبرله اورېدو څخه ډېر ناراحته شوم ،یوډول اذیت اولړزې مې ټول بدن محاصره کړ ،غاښونه مې سره جنګېدل ،غوښتل مې چې په خپل ټول توان سره چیغې ووهم اووژاړم خو اوښکې مې هم وچې شوې وې.
په ډېرې ستونزې مې خپلې شونډې خلاصې کړې اوله حمید څخه مې پوښتنه وکړه
(آخر څنګه مړه شوه ؟)
وروسته له دې چې ځواب ته په تمه شم خپلو خبروته مې ادامه ورکړه اوورته مې وویل: نه ،هېڅ کله نه ،زه باور نشم کولای ،هغه وخت مې نولاسونه مخ ته ونیول اوپه چیغو چیغو مې وژړل اوحمید ته مې په ژړا ژړا کې وویل :عجیبه بد بخته انسان یم ،عجیبه مسکین اوبې وزلی انسان یم او.... !
حمید چې زما اکرولید نوزما په ډاډ ګیرنې یې پیل وکړ اوکوښښ یې وکړ چې ما غلی کړي اویا مې پام بلې خواته راواړوي خونه کېده ،که هر څومره مې کوښښ وکړ چې زړه تسکین کړم نه کرارکېده ،آخر حمید اړ شو اوراته یې وویل غلی شه بهمنه ،کوښښ وکړه چې ځان کنټرول کړې اودرستورانت نظم وساتې.
ما هم ددې لپاره چې حمید سره مې ژمنه کړې وه اوقسم مې هم یاد کړی و نو سره ددې دومره ډېرو ستونزو اوغمونو مې کوښښ وکړ چې ځان کنټرول کړم او ټول بوج په خپل زړه واخلم:
وروسته مې له حمیدڅخه وغوښتل چې ټول بهیر راته په بشپړه توګه په تفصیل سره ووایي هغه هم چې په تاسف سره سر ښوراوه ،پېښه یې راته داسې بیان کړه:
څه وخت مخکې مې یوه ورځپاڼه لوسته چې ناڅاپه مې د پېښو په مخ کې داحمد اورویا انځورونه ولیدل چې ورلاندې لیکل شوي ول : دوه ځوان نامزادان چې دخپل واده دکارونودترسره کولو لپاره ښارته روان ول په یوه ترافیکي پېښه کې دشېراز په ښارکې خپل ژوند له لاسه ورکړ.
په داسې حال کې چې په ورځپاڼوکې خبریالانو دشېرازاواصفهان دلارې خبرورکړی ؤ رویا دموټر جلب ته ناسته وه چې په یوه نامعلوم لامل دشېرازاواصفهان دلارې په منځ کې موټر یوې کندې ته دلوړې موړې څخه لویدلې او وروسته یې اور اخیستی دی چې په دې اورکې دواړه سوځېدلي اومړه شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

څېړونکو د پېښې لامل دموټردسرعت تېزوالی اود ډرېوربې احتیاطي ښودلې ده ،
دڅېړنکوپه اند پېښه دموټر تېزوالی اودرویا بې احتیاطي وه چې کندې ته خطا شوی دی
اودواړه مړه شوي دي ،خودمرګ څخه یي درې ورځې وروسته یو لیک زما لاس ته
راورسېده ،ډېرتریخ اوزړه دردونکی لیک ؤخو حقیقت تل بویه ومنو ،یانې درویا پېښه
دپولیسو اوڅېړونکو په اند یوه ترافیکي پېښه وه خو آره خبره داده چې دایو تصادف نه
بلکې پلان شوی کارؤاوپه قصدي توګه شوی دی ؟
دغه لیک رویا دشېراز له تګ څخه مخکې زماپه پته رالیږلی ؤ، اوکله چې مالیک
پرانیست نو پوه شوم چې لیک ستالپاره لیکل شوی دی ،خو لکه څنګه چې له تا څخه
خبرنه وم اونه دې راته پته معلومه وه نو لیک مې دځان سره وساته په دې وخت کې
حمید یولیک د خپل څنګ کې ور بکس څخه راوکېښ اوماته یي راکړ په چټکۍ سره مې
لیک پرانیست اوپه لوستلو مې پیل وکړ ،رویات په دې لیک کې د سلام اونېکوهیلو
څخه وروسته داسې لیکلي ؤ: زما ګرانه بهمنه ،ژوند ژر یا وروسته پای ته رسېږي اومور
ټول به یوه ورځ مړه شو ، یو شمېر په ما شومتوب کې مرې ،یو شمېر په ځوانۍ کې اویو
شمېرهم په زړه ښتا وبوډاتوب کې ،خو هرومرو بویه مرګ ته تسلیم شو .
مرګ حتمي دی اوله انکار کولو څخه یي ځان تېرویستل نه دي په کار،موږ بویه په نړۍ
کې هرڅیزته دفناکېدونکوپه توګه وګورو ،حتی مینه هم په دې دومره شور ،زوږ
اولړمون خورئ سره یوه ورځ پای ته رسېږي خو ځینې داسې خلک هم شته چې رښتیني
مینه کوي خاطرۍ یې ژوندۍ پاتېږي ،اودخپلې مینې یادګار غواړي دتل لپاره ژوندی
اوتل پاتې وساتي نوزما هیله داده چې زموږ مینه هم همداسې تل پاتې واوسي.
ماپه خپل تېرلیک کې چې تاته لیکلې ؤ داسې لیکلې ول چې خپل ژوند ته په عادي توګه
دوام ورکړه او دامې هم ویلې ول چې ما داحمد سره کوژدنه کړې ده ،نو اوس ټاکل شوې
چې موږ په دې نږدیو کې تهران ته ولاړ شو اوهلته دخپلو څوخپلوانو اوملګرو سره ووینو
او وروسته له هغې دخپل واده په پار یو ښارته ولاړ شو اوښه په درز کې واده وکړو .
حتی په دې کچه چې دواده دسپین کمیس سره چې داسمان دپرښتو جامه ده سره سره هم
دخپل مېړه سره یو ځای واوسم چې داکار ما زوروي او رنځ ترې وړم.
شاید تاته ترننه پوې داپوښتنه راولاړه شوې وي چې داحمد سره زما اړیکې دومره
ټینګې شوي دي چې زه دې وېرکړی یم ،خو ډاډه اوسه ،هېڅکله به پرې نږدم چې احمد
خپلې موخې ته ورسېږي ،ما تصمیم نیولی دی چې یا تا سره ژوند وکړم او یا مړه شم ،خو

ketabton.com - The Digital Library

اوس چې په دې ونه توانېدم چې ستا سره ژوند وکړم نو مرګ مې غوره وباله ، نه پوهېږم چې څنګه ددغې ستونزمن او کرغېړن ژوند څخه ځان خلاص کړم خو په هر حال دا کار کوم.
ډاډه اوسه دالیک به هغه وخت تاته درولېږم چې زما مرګ ته نور ډېرکم وخت پاتې وي او هغه وخت به یې ته ترلاسه کړې چې زه نوره په دې نړۍ کې نه اوسم ،خو لکه څنګه چې مې په مخکینې لیک کې درته لیکلي ول ،حتی راضي نه یم چې زما لپاره یوه اوښکه هم تو یه کړې اوتاته زموږ په پاکې مینې قسم درکوم چې هرکله دې کومې نجلۍ ته زړه لیوالتیا وښوده هغې سره زما په خاطر دمینې تار وځغلوه اوزموږ دګډ ژوند مړې خاطرې پرې راژوندۍ کړه اوپه دې هم ډاډه اوسه که چېرې تا داکار وکړ نو زما روح به ارام اوسي.
بهمنه ،پوهېږم چې ته زما د رضایت لپاره دا کارکوې او هرومرو یې کوې ،خو هیله کوم چې داسې کوم تصمیم ونه نیسې چې زما روح په عذاب کړي.
زه غواړم چې ته خپل ژوند ته ادامه ورکړې اوټولوته دا زبات کړې چې سره ددې چې لومړی ما اوبیا زمانې دې وزرې درماتې کړي دي خو ته دا توان لرې چې خپل ژوند ته په سمه اوعادي توګه ادامه ورکړې او دپخوا په څېر یې پرمخ بوزې.
رښتیا هم به ټولنه کې ډېرې داسې پېښې پېښېږي چې انسان دخپل قانوني حق څخه محروم کوي چې دابې عدالتې دژوند په هره برخه کې لیدل کیږي.
او آر لامل یې هم دادی چې ډېر بې باکه اوچړوس خلک دمقام ،څوکۍ ، پیسو ، او......ترلاسه کولو په موخه داکارکوي.
خوزما ګرانه بهمنه ،ډاډه اوسه چې دخدای ج عدالت تل په دې نورو قوانینو او عدالتونو حاکم وي ،اوهغه کسان چې دخپلو کټو لپاره دنورو ګټې او ژوند ته زیان رسوي په دې دې پوه شی چې یوه ورځ یې آخرمرګ سرته راځي ،اوهغه وخت مجبوردی چې ژوند سره یاپه خوښه اویاپه بې خوښۍ مخه ښه وکړي ،خو په یقینې توګه په دې نړۍ کې دښو اوبدو کارونو نوم تل ژوندی پاتېږ ي،زما کورنۍ هم اړه ده چې زما ترمرګ وروسته په دې ننګ اوغیرت سره چې زما په برخه کې یې کړې دي نوم ژوندی پاتې شي.
په واقعیت کې دا همغوی (کورنۍ ) ول چې زما ژوند یې را خراب کړاوزه یې دخپلو غوښتنو قرباني کړم ،خو همدا مرګ ؤچې زه یې له دوی څخه وژغورلم اوهېڅ کله ددوی غوښتنوته تسلیم نشوم او اوس دادی نږدې دی چې په ډېرې سرلوړې ور ودانګم اودتل لپاره ځان ددې لانجمنې نړۍ څخه فنا کړم.

ketabton.com - The Digital Library

زيات له دي درته نور مزاحمت نه کوم اوديوه ښه ژوند هيله درته کوم اوداهم بايد ووايم چې نه پوهېږم په کوم ساعت اوپه څه ډول خپله طرحه پلې کوم.خو په هرحال داليک به زما ترمرګ وروسته تاته دررسېږي !
دا مه هيروه چې ما په تا باندې په خپل مخکيني ليک کې ژمنه کړې وه اوقسم مې درباندې کړی ؤ چې ته به زما خبره منې اوزما ترمرګه وروسته به خورا وړوکی غبرګون هم نه ښکاره کوې ،داځکه چې که سبا خدای مه کړه ته کوم عادي کار هم وکړې خلک به زموږپه مينې باندې ملنډې ووهي اوډرامې به پسې جوړوي او ډاربېږم لا په دې چې خلک به وايي ما دخپلې بد نامۍ تاب نه درلود نوځکه مې ځان وژلی دی ،نوجوته ده چې ته دخلکو دا توهين زما په برخه کې نشې زغملای ،زه مطمينه يم.
ښه ګرانه له تاسره خدای ج په امانې کوم ،اوستا څخه هيله کوم چې دټولنې دخلکو په اند زه نامزد لرم نوددې ليک ترلوستلو ورسته داليک وسوزوه.
هغه څوک چې تل تا نه هيروي(رويا )
دليک ترلوستلووروسته مې بدن ټول کلک خوږېده اودکرکې اور مې په وجود کې مړ شو،اوس راته هرڅه څرګند شوي وو.
رويا زموږدپاکې مينې ددرناوي په پار دموټرچلولو په وخت کې په قصدي توګه موټرکندې ته ورمخامخ کړی دی اودخپل ځان په مرګ يې دخپلې مينې ټينګښت اوپايښت څرګند ګړی دی.
هغې دهغه قسم په اړه چې زموږ دمينې په هکله يې راسره کړی ؤ اودخپلې دوستې په هکله چې تردې دمه ما غلطه انګيرله ،ځان قرباني کړئ ؤ.
هغې لکه څنګه چې يې په خپل ليک کې ليکلې ول ددې دردونکي اوزړه زورونکي ژوند څخه دابديت پرلورردانګلې ول ،خوزه لاتراوسه دهغې په خوښه اوهيله ژوندی ګرځېدم اوپه دې کارمحکوم شوی وم يا داسې ګومان مې کاوه چې ګواکې دهغې اواز مې په ټول بدن اورېده چې چيغې يې وهلې : ( زما ښايسته ګله ،که سل کاله وروسته مې هم قبر راوسپړې اوزړه مې شته وي ،نووبه ګورې چې پرې ليکلې يې دي: يوازې له تا سره مينه کوم )
رښتيا انسان دژوند دپېښوپوراندې څومره کمزوری دی اورښتينې مينې په هکله هم.
انسان هرکله دخپلې رښتينې مينې لمبې په يو ډول نه يو ډول بلوي خو د زمانې تاړاکونه اوتبره بادونه يې په ډېر ناړامه توګه مړه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

رویا هم دمینې یوه لمبه وه چې دمرګ په رارسیدو سره یې دتل لپاره مړه شوه اوزه اوس یوازې دژوند ترخواوتیارو ته پاتې شوم اوترهغې به په همدې تیاروکې اوسم څوزه هم تیاره شم اووجودمې ددې نړۍ څخه پناه شي.
قسم یادوم چې دژوندپه دې تیاروشپېوکې مې دمرګ غوښتنه کوله ،غوښتل مې چې مړشم اودژوند ترپایه پورې نور همداسې ستونزې ونه وینم ،خوکله مې چې درویادلیک کرښې راپه زړه شوې نو ځان ته به مې ډاډ ورکاوه اوکوښښ مې کاوه چې اوس لپاره دمرګ غونډله (جمله) له خولې څخه وغورځوم اوهیره یې کړم ترڅوپه دې توګه وکولای شم درویاغوښتنې اوهیلې ته مې درناوې کړې واوسي.
نه پوهېږم چې رویا ولې زماد داسې اکرپه هکله اند ونکړاوولې یې زه دخپل مرګ وروسته داسې پرېښودم اوپه دې توګه یې وغوښتل چې زه دژوند ترپایه همداسې غمونه وزغمم ،په داسې یوه دردېدونکې شېبه کې مې څه کولاتی شول چې وکړم ما دخپل ژوند یو ډېرارزښتمن څیزاوکس له لاسه ورکړی ؤ ،ولې باید زه ژوندی پاتې شوی وای ؟
ځواب مې خپلوپوښتنوته نه پیداکاوه ،یوازې داچې لکه څنګه چې هغې ویلې ول چې ژوندی پاتې شم اوغمونه وزغمم څویوه ورځ زه هم دهغې په څېرددې فانې نړۍ څخه دتل لپاره کډه وکړم.
کله چې مې دا اند وکړنوناڅاپه مې په کټ کټ او چیغوچیغو په ژړاپیل وکړ،داسې چې هرڅوک زمونږ مېز سره نږدې ناست وزمونږمېزته ځیرشول ،حمید چې زما دا حال ولید نو زما لاس یې ونیو اوپیسو دورکولو وروسته یې درستورانت څخه بهرراویستم.
هېڅ څیز د پخواسره توپیرنه درلود یوازې ماتوپیرکړی ؤځکه زه اوس ذلیل او مسکین شوی وم اودیوساعت مخکې خوښۍ اوسوکالۍ ښنه راکۍ اوس نه برېښیده ،زړه مې سخت راښکېل شوی ؤ اوسترګومې هم تورکاوه ،شاید که حمید له ما سره نه وای څوځایونوکې مې چې واک له لاسه ورکړنوولیدلی به وای .مرال مې دیوساعت مخکې سره ځمکې او اسمان توپیردرلودهیله مې کوله چې ای کاش هغه شپه چې دساقې خانې په یو کونج کې بې سده شوی وم اوډاکټرانوروغتون ته بولی وم اوبسترکړی یې وم چې داکارېې نه وای کړی اوهلته ترسهاره مړوای څومره به ښه ؤ ،خوافسوس چې داکار ونه شو.
درویا له مرګ نه وروسته به ژوندماته څه خوند راکړی وای یا څه ارزښت به یې راته درلودای ،دهغې مرګ اوداسې په نره مرګ یوځل بیازما په زړه کې حماسي مینه

ketabton.com - The Digital Library

راژوندی او په ولولو کړه او داسې مې وپتییله چې په دې زمانې کې هم داسې خلک شته چې د ربښتینولۍ او مینې لپاره ځان قربانې کوي.

درویا مرګ زما زړه اوجرات دواړه ووژل ،اودا احساس چې زه به وروسته هم ژوندی پاتېږم ډېردردولم اوکړولم ،اودتل لپاره به مې ژړل ،خوحمید به راته ډاډ راکاوه ،نه پوهېږم چې په دې ورځ به په دې لار څرنګه دحمید سره تللی وم خوځیروم چې حمید په بشپړه توګه په پوره هوښیارۍ زما کړوورو ته ځیردی.

حمید په دې شپه پرېښودم چې میلمستون ته ولاړشم اوخپل کورته یی بوتلم ،شپه مې دحمید په کورکې په ډېرتکلیف اوستونزی سره سباکړه.

ټوله شپه ویښ وم اوخپلې تېرې خوږې خاطرې مې راپه یادولې ،اودهغوی په را یادولوبه دمره ناکراره شوم چې نږدې ول لیونی شم.

دسهارپه وخت کې چې حمید وکتل ډېرپه ستونزه کې رابښکېل یم نودوه ډوله ګولۍ یې راکړې ،که څه هم مانه خوړې خوپه زوره یې رابانې وخوړې اوشېبه وروسته په ښایسته خواږه خوب ویده شوم ،خودې خوب له نورو خوبونو سره ډېرتوپیردرلود ، یانې که خوږهم ؤیوډول غم او رنځ په کې پوښل شوی ؤ.

ketabton.com - The Digital Library

# نهم څپرکی

مهال بې له ځنډه پرمخ تللو،زما ناکراره روحیې بدلون نه وموندلې ،حتی دورځوپه تېریدوهم ونشوکړای چې زما څخه درویا مرګ وېرکړي ،هره ورځ به مې دهغې اوقهرمانۍ په هکله یې فکرونه کول اودهغې نېکې خاطرې به مې رایادولې او دا چې له هغې څخه راوروسته دهغې په غوښتنه او دالله په رضا ژوندی پاتې وم ډېر رنځېدم ،خوافسوس چې غیر دسوځید واوزغم څخه مې بله چاره نه درلوده ، سر بېره د رویا په مرګ بې کارۍ اووزګارتیا هم رنځولم ،او نورمې ددې مخ نه درلود چې له چا څخه پور واخلم.

ددې لپاره چې هم بوخت اوسم اوهم مې یو څه پیسې لاس ته راوستې وي په چټکۍ مې دکارلټون پسې پیل وکړ اودامې وپتییله چې دهر ډول ابرومنداواعزتمندکار وړاندیزکه راته وشي نوهرومروبه یې کوم چې په دې توګه وکولای شم هم دنده پیدا کړم اوهم خپله ګانده جوړه کړم.

نو لکه څنګه چې ددولتي اوشخصي کارونو څخه نا هیلی شوم د ډریورۍ اسنادو (لیسنس) په فکرکې شوم او دهمدغې اسنادوپرپنسټ دډریورۍ په لټه کې شوم که ګوندې کوم ځای کې ډریوري پیداکړم خو بیا هم له بده مرغه چې حتی په کوم ځای کې چا دډریور په توګه هم له ځان سره ونه نیولم ،هرځای ته به چې ولاړم نویوازې همدا ځواب به مې اورېده ،زموږ داستخدامي کارلښتلیک ( لست ) بشړ دی اونویو کسانوته اړتیا نلرو.

کله چې دټولو ځایونوڅخه نا هیلې شوم نو دیوکریایۍ مدیرپه وسیله مې خپل تعلیمي اسناد سره د ډرېورۍ اسنادو دکاریابۍ وزرات ته واستول.

ketabton.com - The Digital Library

دوزارت په غولي کې ډېرې خلک ولاړوو ،زه هم په نوبت ددوی سره یوځای ودرېدم ډېر وخت همدلته ضایع شو ترڅو چې راته وار راورسېد ،کله مې چې غوښتل خونې ته دننه ننوزم ،چوپړکوونکي (ملازم ) له مټه ونیولم اوراته یې و ویل : ښاغلیه ، بخښنه غواړم لاتراوسه ستاسې وارنه دی رارسېدلې !

وروسته یې یوځوان ته چې د ودانۍ ترڅنګ د پاتخو ( زینو ) سره جوخت ولاړؤنغوته وکړه ، ما داځوان تردې دمه په نمبرکې نه ؤلیدلی ویې ویل ( وارد دغه ښاغلي دی نه ستاسې !)

دچوپړکوونکي دې خبرې سخت په غوسه کړم اوپه نارو اوسورو مې پیل وکړ اوپه زغرده مې ددې ملازم نه سروټکاوه ،زما به چیغواوغالمغال دوزارت یوماموراو دخپلې خونې څخه رابهرشو ،کله چې ما ته رانږدې شو نوچپ چپ یې راته ولیدل اوبیایې وویل ولې دې چیغې جوړې کړې ښاغلیه ؟ چوپړکوونکی وروړاندې شو په داسې حال کې چې حق په جانبه څېره یې غوره کړې وه ورته یې وویل چې د دې ښاغلي وار لانه ورارسیدلې اوغوښتل یې چې په زوره دننه شي اواصلاً واردهغه بل ؤخوداچې ما پرینښودنونوموړي په چیغواوکوکاروپیل وکړ.

دچوپړکوونکي له دې درواغوڅخه سخت په غوسه شوم اوډېرې غوسې نه نږدې ؤچې لیونی شم ،په داسې حال کې چې دغوسې نه ټول لړزېدم د ولاړو کسانوڅخه مې مرسته وغوښته اوهیله مې ترې وکړه چې دوزرات مامورته حقیقت ووایي څو رښتیا اودرواغ سره روښانه شي او دملازم دابې ځایه ادعا جوته شي.

خوله بده مرغه د ولاړوکسانو څخه هېڅ چا ګواهي ورنکړه چې حقیقت څه شی دی ، څکه دوی ډارېدل که چېرې ګواهي ورکړي نوداسې نشې چې نوموړی ماموریې کارورخراب کړي اویایې ورته ونکړي.

کله چې پوه شوم چې داټول دډاره څه نه وایي نوپه ناکرارۍ اوغوسه مې ټول حال ورته ووایه اوورته مې وویل چې دا ډارنان دخپل ډارله کبله داکارنکوي اوددې په څنګ کې مې داهم ورزیاته کړه چې داچوپړکوونکي دخلکوڅخه بډې اخلي اوخلک بې نمرې تاسې ته درلیږي اوزما څخه یې هم رشوت وغوښته خوداچې ما بډې ورنکړه نوداسې جاراوجنجال یې جوړکړچې تاسې ته دا زبات کړي چې زه ګواکې ددې ځای ارامه فضا خرابوم.

ketabton.com - The Digital Library

زما خبرې په نومورې مامور برعکس غبرګون وکړ اوناڅاپه يې له ګرېوان څخه ونيولم اوليرې يې غوځارکړم ،اوهغه وخت يې امروکړچې سمدستي غونډه جوړه کړي اوزما پرورانډې څه وليکي ،غونډه جوړه شوه او زما پرورانډې يې داسې وليکل چې ماد رسمياتو پرمهال دنومورې وزارت ديوه پاک اوصادق چوپړکوونکي شخصيت اودندې ته توهين کړی اوهغه مې ګوابنلې دی.اوددې ترڅنګ مې دوزارت خانې نظم اوارامتيا ته هم زيان رسولی دی ، ما چې کله داخبره واوريده نورمې بله خبره ونکړه او درېدل راته بې ځايه ښکاره شواودخپل راتګ څخه دې وزارت ته ډېرپښېمانه شوم.

هغوی دجوړې شوې غونډې پربنسټ زه دپوليسوماموريت ته وسپارلم او د پوليسو سرماموربې له دې چې زما خبرې ته غوږ کېږدي ،زما دوسيه يې وليکله او د اجراتو لپاره يې قضايي مقاماتوته ولېږلم.

په څېړنتون (تحقيق خانه ) کې مې ټول بهيرهوبه هو اوټکې په ټکې څېړونکي ته ووايه ،هغه هم ځيرو اوپوه شوچې زه رښتيا وايم ،زما پرورانډې يې چل سازي کړې اوهسې خوشې په خوشې يې راته دوسيه جوړه کړې ده ،نوزما پرحال يې ډېرافسوس وکړ او زړه يې راباندې وسوځېد ،نوامريې وکړچې ما ژژترژره خوشې کړي.

کله چې دڅېړنتون څخه بهرراووتم نوبيا هم بې کاره اولالهاند وم يوه شېبه خوپه واټونواوپارکونوکې وګرزيدم اووروسته له هغې ميلمستون ته ولاړم ،کوټه مې دځان پسې کلپ کړه اوپه ژور اند ډوب شوم ،غوښتل مې چې په هرډول کيږي ځانته کارپيداکړم.

په همدې فکرکې ډوب وم چې نا څاپه مې خپل هغه ملګری راپه زړه شو چې ګاراج يې درلوده ،مخکې ما دخپل پلارموټرپه همدې ګاراج کې دراوه اودګاراج څښتن ترحده زيات ماته درناوی درلود،په کراتوکراتويې له ماڅخه غوښتي ول چې که چېرې کوم کاريا ستونزه راته پيدا شوه نوهغې ته ووايم ،سمدستې دميلمستون څخه راووتم او راساً دګاراج پرلوري ولاړم له نېکه مرغه هغه مې په خپل کاري دفترکې پيداکړ دګاراج خاوند زما پر پريشانه اوګډوډ اکر ډېر تعجب وکړ.

بې له مقدمې مې ورته ټول هغه څه چې پرما تېرشوي ول وويل اوله هغه څخه مې وغوښتل چې دشونتيا په صورت کې که کوم کار راته پيدا کولای شي پيدا يې کړي

ويې وپوښتل:

«آيا کولای شې چې په ټکسي باندې کاروکړې ؟»

ketabton.com - The Digital Library

په خوشالۍ مې ورته وويل:
«هو کې ،بلې !»
ويې ويل:
«ډېره ښه ده سبا سهاردوخته راشه اوټکسې دګاراج څخه بوزه » اوددې ترڅنګ يې څه پيسې هم دپورپه ډول راکړې چې خپل سراوصورت منظم کړم په ډېره خوشالۍ مې دګاراج خاوند څخه چې کوم کار يې ماته پيداکړی ؤ ،مننه وکړه اورسره مې دخدای په اماني هم وکړه اوبېرته ميلمستون ته راغلم داچې دومره مودې بې کارۍ وروسته مې کار پيداکړی ؤ ډېرخوشاله وم ،په دې توګه ما اوس کولای شول چې سر دسبا څخه کاروکړم اودخپل ژوند رکودي اکرپای ته ورسوم.
بله ورځ مې خپل سراوصورت منظم کړ اولږدوخته له خوبه راويښ شوم اوراساً دګاراج پرلوولاړم ،دګاراج خاوند يو وړوکې ټکسي زما په واک کې راکړ اوزه هم بې له ځنډه دموټر په چوپړ بوخت شوم.
سره ددې چې په لومړيو کې مې دښارځينې سيمې نه وې ليدلې اويا نه وم بلد خو وروسته ،وروسته چې وګرځېدم بلد شوم اوپه داسې شرايطو کې مې چې کوم کارپيداکړی ؤ ترې خوښ اوراضي وم.

ketabton.com - The Digital Library

# لسم څپرکی

شپږمیاشتې په همدې ډول تېرې شوې ترڅویوه شپه مې غوښتل چې چلوکباب وخورم دچلاوکباب هوټل سره نږدې یوه دتورټکرۍ ولاښځه ولاړه وه اولاس یې راکړکه څه هم مانه غوښتل چې سورلۍ بوزم اوډوډۍ خوړلوته روان وم خوبیا مې هم نا څاپې بریک ونیو ،که څه هم نه پوهیدم چې ولې مې په بریک پښه کېښوده ، خوبیامې هم بریک ونیو ،دتورټکرۍ ښځنته بې له دې چې څه ووایي موټرته راوخته اودیوه واټ پته یې راکړه ،لا به سل متره نه وم تللې چې د تورټکرۍ ښځنتنې خپل ټکری له سره لرې کړا وپه خپل دستکول کې یې کېښوداوهغه وخت یې په کرار اواز زه مخاطب کړم اوراته یی وویل:
« سلام بهمن خانه !»
په تعجب مې سروګرځاوه که کسم شهلا ناسته ده اوپه خندا ماته ګوري ، دشهلا له لیدلو ډېر خوشاله شوم هغې هیله وکړه چې ټکسې ودروم ،همدا کارمې وکړ هغه دشا سیټ څخه راکښته شوه اومخکې سیټ ته راغله اوماسره څنګ کې کښېناسته ،زموږلومړنۍ خبرې دشهلاګیلې اودنګلې وې چې له ما څخه یې کولې ،په همدې ګیلو،ګیلوکې هدف ته ورسیدو ،شهلا را څخه هیله وکړه اوکه رښتیا ووایم نو بلنه یی راکړه چې دماښام ډودۍ سره یو ځای وخورو ، ورسره مې ومنله اوکورته یې ولاړم ، شهلا دمیلمنو خونې ته بوتلم اوخپله دمړۍ تیاربدو لپاره پخلنځي ته ولاړه داخونه په خورا سلیقې سره سینګارشوې وه.
دمېز په سر یوډېر ښایسته دسرو ،شنو ،ژېړو .... مصنوی ګلانو ګلدانونه ایښودل شوې وو ،ددې ترڅنګ ډېر ښایسته اوخوندورې تابلوګانې هم په خونه کې راځړېدلې وې چې

ketabton.com - The Digital Library

خوني ته يي ځانګړې ښکلا ورکوله اودغه راز د رنګارنګو څراغو نو رڼاګانو هم يوډول سينګاراوښکلاکوټې ته ورکړې وه.
شهلادماښام ډوډۍ تياره کړه اوپه يوه ګرم چاپېريال کې موسره يوځاى وخوړه، وروسته هغه جګه شوه اودګلدان پرلوري ولاړه اودګلدان څخه يي يوسورګل را وشکاوه اوماته يې راکړاو ويې ويل:
بهمنه زه داسورګل تاته درکوم پوهېږې چې سورګل څه......
هغه وخت مې ددې خبره په نيمايي کې غوڅه کړه اوهغه مې په خپله غېږکې را ښکېل کړه ،احساس مې وکړ چې هغې دسره ګل په راکولو سره دخپلې مينې څرګندتيا وکړه نو څنګه چې په دې وخت کې بې کوره اوبې اوره وم نو ددې مينې څخه مې په خلاصه غېږه هر کلې وکړ،داځکه چې په ګانده کې دګيلو او دنګلو موقع پاتې نشي.
درويا دژوند ټوله کيسه مې ورته وکړه او ورته مې وويل که زما تېرې شوې سهوې يي بخښلې وي نوهيله کوم چې راسره واده وکړي.
ويې منله اوخوورځې وروسته چې حميد هم راغلې و اودشهلا يوشمېرخپلوان هم شته ول واده موسره وکړ،په دې توګه زموږنوې ژوند پيل شو اوزموږدزوى په پيداکېدوموخوشالې لاپسې زياته شوه ،نولکه څنګه چې مې په ژوند کې ډېرې ماتې ،ناکامۍ اومايوسۍ انګيرلې وې نونه مې غوښتل چې زما زوى اومېرمن دې هم وزغمي اويا دې پرې داسې يواکر راشي که څه هم دشهلا پلارخورابډايه اودشتوخاوند ؤ اوپه واروار راته شهلاويلي وچې (کازرون ) ته ولاړشوهلته ددې پلارسره يوځاې واوسېږوخومانه منله اوداخپل حقيراونا څيزه ژوند راته ددې دپلارپه ارام اوسو کاله ژوند په کراتوکراتوخورانبه ښکارېده.
کومې خوارې اوکړاونه چې ما دخپل ژوند دښه والي په پار پيل کړې ټولو ځاى ونيو اوپه لږ وخت کې مو ژوند خورا ډيربدلون وموند اومايه ډيرې خوشالۍ او سوکالۍ سره دخپلې مېرمنې اوزوى په څنګ نېکمرغۍ ورځې تېرولې ،دې لړۍ همداسې غځونې کولې اوموږدخپل ژوند څخه لذت وړ،ترڅويوه ورځ دکازرون څخه دشهلا دپلارفکس راغى چې په ډېربداوکرغيړن اکرکې راښکېل ؤ،اوغواړي چې شهلا ووينې ، ددې تلګراف (فکس) په رارسېدوسره موږشپې دشپې دکازرون په لور روان شوخولږناوخته ورسېدو، ځکه دشهلا پلارزموږله ورتګ څخه درې ساعته وړاندې مړشوى و،سبا دهغه جنازې ته دکازرون ډير خلک راغلي ول چې په دې ډله کې ددې دپلارملګري اوڅه

ketabton.com - The Digital Library

خپلوان اوګاونډي هم وو موږيوه اونۍ وروسته دټولو مراسمو له ختمېدوسره سم بېرته تهران ته راستانه شوو.

ددې بډایه سړي له مرګ څخه وروسته دده مال شهلا اوخورته یې په میراث پاتې شو ،اوهمدا ما ل اودولت لامل شو چې شهلا په نا ځاپې ډول بدلون وکړي هغې په دې پلمه چې نه غواړم خپل پخوانی کارپرېږدم اوهغه کورچې دایې غواړي لاړشو ، راسره بد چلند شروع کړاودخپل زړه کارونه یې کول ،دپلارمیرات دومره بې خوده اومغروره کړه چې هېڅکله یې نه په چا اونه په کوم څیز پاملرنه کوله ،اویایی ددې خیال ساتلې وای حتی اوس یی زما خبروته هم ارزښت نه ورکاوه هغه اوس هره شپه دجوارۍ اوشپو غونډوته تلله ،هغې به په دې غونډوکې نڅا کوله سندر ې به یې ویلې ،شراب به یې څښل اوهرډول کړنې به یې کولې په پایله کې به په ټیټ سرچې ټولې پیسې به یې بایللې وې اونشه به وه کورته راتله. هغې ددې ټکې څخه چې دنارینه اوښځینه جوارګرو دمحفل شمعه یا رڼاوه خوند اخیسته اود یوډول سرلوړی احساس به یی کاوه اوددغې ډلې له خبروڅخه چې ډیرښایسته اوزړه دردونکی اواز لري خوند اخیسته اولږه پاملرنه یې هم نه پرما اونه زما پرزوی کوله ،په دې ډول زه ساده او مسکین لاهم په دې تمه وم چې یو ه ورځ به شهلا ددې لیونتوب څخه لاس واخلې او بېرته په خپل لومړني ساده اوعادې ژوند ته مخه وکړي خونه هېڅکله نه داټول زما ساده ګې اونېک نیت و.

زه یوازې دخپل زوی دبرخلیک اوخوشالې ته اند ښمند وم اوداخوشالي یوازې درویا په لاس کې وه یانې اوس دخدای ( ج ) څخه وروسته یوازنۍ کسه رویا وه چې کولای یې شول په خپلې رویې اونېکواخلاقو هغه ښه وروزي.

ماډېرکوښښ وکړ چې شهلا ددې کارونوڅخه منعه کړم اودخپلواړیکواوزوی په خاطرهغه بېرته خپل عادي اکرته راوګرځوم اونوریې دجوارګرۍ اوګډاپه غونډوکې پرې نږدم خودې کارنه یوازی ګټه ونه کړه بلکې زما دزوی روزنه اوپالنه هم زما پرغاړه شوه ،یانې هغه به اوس ډېری شپې ترسهاره دجوارګرۍ اوګډاپه غونډوکې ناسته وه اوسهارسهاربه په داسې حال کې چې نیشه به هم وه کورته راغله.

بیامې هم څوځلې ورته وویل چې لاس ددې ناوړه کارونوڅخه واخلې اونور خپل عادي ژوند ته دوام ورکړي خوګټه یې ونه کړه اوزما خبروباندې یې غوږ هم ونه ګراوه ،سره ددې چې پوهیدم شهلا دجوارګرۍ په غونډوکې ګډون کوي ،ګډیږي ،سندرې هم وایې ،شراب څښي او .....

ketabton.com - The Digital Library

خو په دې هم ډاډه وم چې هغه به زمادزوی په خاطر هېڅکله زما سره خیانت ونکړي او هېڅ کله به زمادزوی سرچاته ټیټ نکړي ، خوای کاش چې په هماغه لومړیو کې مې نه وای پرې ښې چې دومره آزاده شي اودومره بې باکه وګرځي چې پایله کې مې برخلیک داسې شي.
هغه ورځ به مې هېڅکله هېره نشي چې ماپه ګاراج کې موټرجوړاوه اودساعت ستنه دورځې په درې نیموځرخېده چې دسرای څوکیدارراغږکړاووویل چې په ټیلېفون کې دې څوک غواړي په منډه دفتر ته ولاړم اوغوږې مې پورته کړچې دهغې لورې یوناپېژندل شوي کس خبرې کولې اوداسې څه یې ویل چې ماته هېڅکله دمنلوو وړنه وو ،داکس بې له دې چې خپل نوم ماته وښایي یوه پته یې راکړه اونوربې غوږې کېښود.
دیوډول حیرانتیااوسستوالي سره لاس اوګریوان شوم، غوږې مې له لاسه ولویده ، دسرای څوکیدار رامنډې کړه اوغوږې یې پرځای کېښود، پوښتنه یې راڅخه وکړه، ښاغلیه حال موخراب نه دی ، ورته مې وویل ، ولې ښه یم ورسته له هغې هغه مړې خولې چې په مخ اوتندي مې پیداشوې وې پاکې کړې اودګاراج څخه وتم اودهغې پتې پرلورروان شوم کومه چې ناپېژندل شوي سړي راکړې وه.
ما داکورډېرښه پېژانده که ناپېژندل شوي کس ما ته سمه پته راکړي وي نوباید څوشېبې وروسته زما مېرمنه ددې کورڅخه چې دحمید پلارپورې یې اړه درلوده اوڅوورځې مخکې یې له خاوند څخه اخیستې ؤ راووځي.
زما لپاره دمنلو وړنه وه چې زما مېرمن ،زما دزوی موردې ،زما دصمیمې اونږدې ملګري سره په دې کورکې یوازې واوسې.
نه داغیرې ممکنه وه ،داهېڅ کله زمالپاره دمنلووړنه وه اونه مې شول کولای چې داهرڅه ومنم ،په همدې ترتیب مې دځان سره وویل چې ای کاش دناپېزندل شوي سړي خبره دروغ وي .اوای کاش داټیلیفون چاراته دقصد اوکینې له مخې کړی وي چې غواړي دخلکو ګډژوند اوکورنۍ نظام سره خراب کړي.
زړه مې غوښتل چې په خپل وجودکې دګومان اوتردیدنیلې (ریښې) وچې کړم ،دهرشي په اړه مې کولای شول چې اند وکړم ،غیردشهلا اوحمید دخیانت په اړه هغه هم زما سره ،آخرڅنګه مې کولای شول باوروکړم چې زما صمیمې او آن دژوند ملګری هغه څوک چې زما دژوند په خوږواوترخواوټولوهغوستونزوکې چې زه به ورسره لاس اوګریوان وم لاس راکاوه ،ماسره داسې لوی خیانت وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

که داسې وي نو انسان نورپه خپل ژوندکې پرچااعتماداوباوروکړي ،خونه په واقعیت کې داخبره دروغ ده اوکوم سړي دحسادت اوکینې له مخې داخبره کړې ده ،دخدای ( ج ) دربارته مې دبې نیازۍ اوتمنا لاسونه اوږده کړل اوترې مې وغوښتل چې زما د وړ زوی اوبې ګناه زوی له کبله داهرڅه وزغوري او پرې نږدي چې زما ښایسته اوحسینه مېرمن ، زما دزوی مور،په یوه ناوړه ناروغۍ اخته شي په داسې ناروغۍ چې دبېرته راستنیدو لاره ترې نشته.

خولازما دعاګانې پای ته نه وې رسېدلې چې دکور وربېرته شو،سمدستې مې ځان یوڅنګ ته کړچې ښکاره نشم اوڅوک مې ونه وینې ،په دې وخت کې یوه ښځه چې په تورټیکري کې یې ځان په بشپړه توګه رانغاړلی ؤاوهېڅ دپېژندلو شونتیا یې نه وه له هغه کوره راووته اووروسته ،دخدای په امانۍ څخه چې حمید ورسره تروره بورې دبدرګۍ لپاره راغلی ؤ په یوه ټیکسي موټرکې سپره شوه ،دنوموړې کور ور وتړل شواوموټرهم حرکت وکړ،ماهم یوبل ټکسي پسې ونیو اوهدایت مې ورکړ چې هماغه ټکسي وڅاري (تعقیب کړي ) هغه چې زما پریشانه اکرولید زما غوښتنه یې ومنله اودهغه بل ټکسي په تعقیب یې پیل وکړ.

ترڅوچې دې موټرزموږدکوسره بریک نه ونیولی ماګومان کاوه چې داټول درواغ دي اوهېڅ حقیقت نلري اودازما ښځه نه ده خوکله چې موټرزموږ دکورسره بریک ونیو نوشهلامې ولیدله چې خپل ټکری یې قات کړاوپه دستکول کې یې کېښود او وروسته له هغې دموټرڅخه پلې شوه .حقیقت راته لږڅه روښانه شو ،هغه حقیقت چې هېڅکله مې باور پرې نشوکولای اوهېڅکله مې هغه نشول منلای.

ژوند راته بد ښکاره شو په هغه شېبه کې مې دټولوزاویو څخه دحمید او شهلا خیانت وانګیرل ،دخپل مرحوم اوبې ګناه ماشوم پرحال مې ډېرافسوس وکړ ، خو وروسته مې بیا هم دهمدې ماشوم له کبله چې سبا په ټولنه کې ژوند کوي اویوموقف ته رسېږی ځان کنترول کړاودټکسي چلوونکي نه مې مننه وکړه اوزه هم پلې شوم.

رښتیا ستاسوڅخه پوښتنه کوم ښاغلی قاضي که تاسې په داسې یواکرکې زما پر ځای وای نو څه به دې کړې وای ؟

ایا چیغې اوکوکاری موکولې ،آیا هغه مو وژله اوکنه او که هېڅ موهم نه ویل اوغلي کښېناستئ چې ښځه مو له تاسې سره خیانت وکړي اوتاسې یې ننداره وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

اوتاسې ښاغلي وکيل .که تاسوزماپرځای وای آیا همداسې غلي کښېناستئ اوننداره موکوله اوپرېښودل مو چې عزت اوشرافت مو په بازارکې ليلام شي.
نه هېڅکله نه د ډېرې غوسې اودرد له لاسه به ليونی شوی وای ،اوپه چيغوچيغوبه موټوله نړۍ خبره کړی وای چې ستاسې مېرمنې ، ستاسې داولادمورا وستاسې محبوبې ستاسې سره خيانت کړی دی.
اوتاسې ښاغلي وکيل ،آيا نشئ کولای چې په داسې يو اکر کې ديوه ربښتيني او صادقه مېړه زړه درک کړئ ،نو که تاسې هم زما پرځای وای نو اوس به موخپله پرېکړه بدله کړی وای اوويل به موچې تاسې اشتبا کړې ده اوهغې له ماسره خيانت کړی دی اوزه هېڅ پړنه يم اوکه چېرې داپوښتنه کوئ چې موړ.بويه دهغې دسپيناوي لپاره هم وخت ورکړوترڅوسم باور وکړو نوستاسې په ځواب کې بايد ووايم چې هوکې ،بويه هغې ته وخت ورکړل شي چې خبرې وکړي اودځان سپيناوې وکړي.
خودابايد هم ووايم چې داکاربه دکورني قانون لپاره يو ډېرلوی خيانت وي اوداټول به هغه څه وي چې نه يوازې زما په اند بلکې د نړۍ پرمخ دټولو انسانانو په اند د منلو او زغملو وړ نه وي او بويه چې داسې وګړو ته حق هم ورنکړل شي، څو د ټولنې غونډال سره وپاشي.
نو په دې اساس بويه عجله او تادي ونه کړئ، لکه څنګه چې ما ونه کړه او ښايي تاسې اوس دې ته هم به تمه اوسئ چې ما څه وکړل او نور څه پېښ شول.
ياني غبرګون مې څه ډول و ، نو هيله کوم چې ښه راته غوږ.کېږدئ او بيا قضاوت وکړئ.
د شهلا پسې جوخت زه هم کورته ننوتم او هغې په هغه وخت کې زماله ليدو څخه يو ټکان وخوړ، ويرې او نارامۍ يې ټول بدن محاصره کړۍ و او له ډاره ټول بدن يې لړزې نيولۍ و.
هېڅکله يې فکرنه کاوه چې په دا وخت دې زه کورته ورشم او يا داسې بدشور ما شور وکړم. زه هم په داسې حال کې چې ډېرې غوسې نيولۍ وم چغې مې کړې او ورته مې وويل: پست فطرتې حد اقل زموږ په معصوم او کوچنی بچی خو رحم وکړه، په هغه زوی چې ته يې مور او زه يې پلاريم ، مګر تا په خپله ماته د واده وړانديز نه و کړې، مګر تا راسره ژمنه نه وه کړې چې ته به ماته يوه وفاداره مېرمنه اوسې، نو اوس ولې غواړې چې زموږ ژوند تباه او برباد کړې.

ketabton.com - The Digital Library

ولې؟ ځواب راکړه، اخر ولې زما صميمي ملګرى حميد دې د خپل خيانت لپاره وټاکه ، موټر يې درلود ځکه ، شيک او ښايسته يې اغوستل ځکه ، د بډايه او مالدارې کورنۍ غړى دى ځکه او که د ښو اخلاقو خاوند او ساعت تېرى انسان دى ځکه، کوم يو ، ها ، کوم يو ؟

ولې تاسې ښځې دومره پس فطرته او بې شخصيته هستۍ چې انسان نور په خپل ژوند کې په هېڅ چا حتیٰ په خپل ملګري هم اعتماد او باور نشي کولاى.

اخر ولې دې زما له داسې ملګري سره چې له وړکتوبه سره يو ځاى راستر شو او تر دې دمه مو يوله بل سره مرستې کولې، مينه موکوله... خيانت وکړ او هغه دې هم په خپلې ناوړې ناروغۍ کې راښکېل کړ. اوس نورنو انسان بويه په چا اعتماد وکړي؟

مسلماً پرهېڅ چا نه او دا بې اعتمادي تاسې ښځو زموږ د سړيو په منځ کې راپيدا کړې ده. ولې په دې کارونو زموږ پاک سپېڅلي او بې جوړې ملګري راڅخه بېلوئ؟ که دوستي او ملګرتيا همداسې ده نو لعنت دې وي په داسې ملګري او ملګرتيا ، او که داسې نه وي نو ولې زما لپاره داسې شوه؟ اخر ولې؟

زما د خبرو پرووړاندې غلې شوه او يوازې سکوت يې غوره کړ، سريې ښکته ځوړند کړ او يوازې اوښکې يې تويې کړې او ما ټول شرم له پوره ځانګړتياوو سره د هغې په وجود کې وليده.

زړه مې غوښتل چې په پښو کې مې ولوېږي او د کړې ګناه څخه يې راڅخه بخښنه وغواړي او راسره ژمنه وکړي چې نور به خپل عادي اکر ته راستنېږي.

زماپه وجودکې لا اوس هم زموږ د زوى له کبله د بخښنې عاطفه ژوندۍ وه، اودې بخښنې او عاطفې کواى شول چې زموږ د دواړو ژوند وژغوري.

په همدې موخه مې په ارام او شمارلي اواز مخ په ډېر مهربانۍ د هغې پرلور واړاوه او ورته مې د نصيحت به ډول وويل، وګوره شهلا ، تېر شوي تېرشول راځه اوس دې د خپل زوى د راتلوونکي په اړه لږ سوچ وکړه او خپل مخکيني ژوند ته راوګرځه، زه مطمين يم چې د خپلو کړو کارونو څخه پښېمانه يې، همداسې نه ده؟ لکه څوک چې له خوبه راويښ شوى وي سريې راجګ کړ او ويې ويل:

( که پښېمانه يم نو څه کار کولاى شم؟ )

( ژمنه وکړه چې نور به خپل دغه بد او ناوړه افعال نه تکراروې او نور به دغه کارونه چې تر دې دمه دې کول نه کوې. )

ketabton.com - The Digital Library

( یانې ما بخښې؟ )
(که په ربښتیني او واقعي توګه راسره ژمنه وکړې او د خپلو کارونو څخه پښېمانه شې نو د خپل او زوی د ګاندې لپاره او په ټولنې کې د خلکو پروړاندې د خپلې د بدنامې له کبله دې بخښم. )
(ژمنه کوم بهمنه، ژمنه کوم او په خدای قسم یادوم چې پس له دې به تا لپاره یوه وفاداره مېرمنه او د زوی لپاره مهربانه مور واوسم).
په داسې حال کې چې لړزیده او اوښکې یې تویولې ځان یې زما په غېږ کې راغوځار کړ او په نیمه ژبه په غوځو، غوځو غونډلو او ویینو چې اوښکې ورسره هم بدرګه کېدې راته وویل، ته څومره ښه یې بهمنه، ته څومره مهربانه یې بهمنه، ته څومره...
دا چې په دې توګه بریالی شوی وم، چې رویا خپلو کړنو ته ځیر کړم او توبه پرې وکاږم چې خپل ار ژوند ته بېرته راوګرځي، ډېر خوشاله ووم او د ارامۍ احساس مې کاوه او دې ارامي ما اوزما د زوی لپاره د یوه ښه راتلونکې درې کسیزه کورنې زیری راکاوه.
شهلا یوځل بیا تېر او ساده ژوند ته راوګرځېده او دا هغه څه ول چې ما یې هیله درلوده.

# یو لسم څپرکی

ketabton.com - The Digital Library

په دې وخت کې تورن چې ډېر سترړی مالومېده د څوشېبو لپاره چوپتیا غوره کړه، سترګې یې په ناپایه غم کې ورکې وې او شونډې یې هم وچې شوې وې، داسې برېښېده چې ګواکې نور څه نه لري چې محکمه کې یې بیان کړي او د ټول ژوند برخلیک یې همدا و.

یو ډول ځانګړې چوپتیا د محکمې فضا محاصره کړې وه. په محکمه کې ناستو ټولو ګډونوالو خپلې ساګانې په خپل ستوني کې زندۍ کړې وې او غوږ غوږ ول چې د بهمن دژوند یا داستان پاتې برخه واوري.

په دې وخت کې قاضي القضات په ارامۍ سره سرراپورته کړ او تورن ته یې وویل: (لطفاً ادامه ورکړئ...)

تورن اوبه وغوښتې اوبه یې ورته راوړې او په یوه دمه یې وڅښلې، او وروسته له هغې چې ډېرخپه او ناکراره برېښېده پاتې کیسه یې داسې پیل کړه: له هغې ورځې وروسته نږدې پنځه میاشتې زموږ په کرارۍ او خوشالۍ تېرې شوې، شهلا واقعاً په بشپړه توګه بدلون کړی و او حتی اوس له پخوا څخه لا ښه د کورسمبالښت ته ځیر وه. اوس به چې هره شپه کورته تللم نو هغه به مې لیدله چې زموږ د ماشوم او نازولې زوی سره په لوبو بوخته وه، ددې کارله لیدو څخه به مې خوند اخیست او زماد ټولې ورځې ستړیا به ددې صحنې په لیدلو ختمه شوه. ما یو ځل بیا نېکمرغي لاسته راوړې وه او دې لړۍ تر ډېره غځونې کولې، ترڅوچې یوه ورځ د ګاراج خاوند راته وویل، چې د کوم ضروري کارلپاره (آبادان) ته ځي او زه هم بویه ورسره ولاړ شم، لکه څنګه چې له هره پلوه ډاډه او مطمینه وم په پراخه تنده مې ورسره ومنله او هماغه شپه مې ټوله خبره خپلې مېرمنې شهلا ته وویله.

سهار د وخته د ګاراج خاوند سره دابادان پر لور روان شوم. نږدې دوه اونۍ زه او د ګاراج خاوند په ابادان کې ووچې یوه ورځ یې راته خبر راکړ چې سبا سهار دواړه (خُرم) شهر ته ځو او حداقل شپږ ورځې هلته (خرم شهر) کې پاتې کېږو.

کله چې بېرته تهران ته راستنېدو ډېر خوشاله وم. په تلګراف (فکس) کې مې خپلې مېرمنې (شهلا) ته خبر ورکړ چې شپږ ورځې وروسته انشاالله کور ته درځم او وروسته له هغې مې خپلې مېرمنې او زوی ته څه ډالۍ واخیستې، خو له نېکه مرغه د ګاراج خاوند کارپه نوموړي ځای کې په دوه ورځو کې پای ته ورسید، او زه د تلیګراف د پیغام څخه ځلور ورځې مخکې خپل کور ته ورسیدم. کله چې مې د ګراج خاوند سره خدای په

ketabton.com - The Digital Library

اماني وکړه نو په موټر کې د خپل کور پر لور را رهي شوم همدا چې د ځو ورځو مسافرۍ وروسته خپل کورته راتلم او خپله مېرمن او زوی مې ليدل ډېر خوشاله وم، خو نه پوهېږم چې ولې هېڅ په هېڅه مې زړه درزيده او داسې ګومان مې کاوه، چې ګواکې کومه ناوړه پېښه راپېښېږي.

کله چې د کور سره دموټر څخه پلې شوم نو دموټر پيسې مې ورکړې او دکور ټالۍ مې ووهله ، خو چا ور راته پرانه نيست. څوواري مې دکور ټالۍ ووهله خو هېڅ ځواب مې وانه ورېد.

ډېر خبر شوم چې داځه پېښه شوی ، خو وروسته مې فکر وکړ کيدای شي چې زوی او مېرمن مې دکور سامان او ترکارۍ اخيستلو لپاره بهر وتي وي.

نو دا مې وپتييله چې په دېوال کورته ورواوړم ، خو په دې خت کې سيمه ييز پوليس چې زموږ دکور سره نږدې ولاړ ول او همدلته يې پوسته هم وه پوه شول چې زه دکور خاوند يم ، نو راغلل او ماته يې يو ليک چې دهمدغې ځای دپست رسوونکو له خوا چې شهلا ليکلی و او دوی ته يې سپارلی و راکړ. دوې له ما څخه رسيد واخيست او دخدای پامانۍ څخه وروسته لاړل ، کله مې چې ليک پرانيست نو ديوه ترخه حقيقت څخه خبر شوم. زوی مې دکور داوبو په حوز کې دلويدلو له امله مړ شوی و ، او څېړونکو زما مېرمن دتحقيق لپاره بولې وه.

ستړی او ستومانه د دېوال خواته ورنږدې شوم او اخيستې ډالۍ مې ددېوال له لارې کورته ورخطا کړې او زه هم ددېوال له لياری کورته وروا وښتم او خپلې کوټې ته ورغلم.

په ټولو ځايونو کې چوپتيا او سکوت خپلې وزرې خورې کړې وې ، په الماری کې مې دزوی انځور دخندا په اکر کې ليدل کېده په حيرانۍ او ژړغوني اندازمې انځورته وکتل حتی دژړا توان مې هم نه درلود. دکوټې په يوه کونج کې مې دماشوم او بې ګناه زوی وړ کټ پروت و او داسې احساس مې کاوه چې دټولو دېوالونو څخه غم او خپګان وريږي ، په همدې سوچونو کې ډوب وم چې نور به هېڅ کله دخپل ماشوم زوی ژړا او خندا وانه ورم او هېڅکله به ددې کوکارې په کوټې کې انګازې جوړې نکړي چې دغې خبرې نږدې سوځولی وم. داکور نور دتل لپاره غلې شوی و او ددې خاموشۍ څخه دمرګ بوي تللو ، ما بايد په ناباورۍ داتريخ حقيقت منلی وای ، چې زما زوی مړ شوی دی ، زما هغه زوې چې ما دادومره وخت دهغه لپاره کوښښ او زيارکاوه چې ګانده يې روښانه کړم ، خو اوس چې هغه نشته څرنګه دهغه مرګ ومنم او څرنګه بې له هغه ژوند وکړم.

ketabton.com - The Digital Library

دکړکۍ خواته نږدې شوم ،ساعت ته مې وکتل چې دشپې یولس بجې وې ، خو دشهلا څخه هېڅ خبرنه و ، یانې هغه تراوسه هم نه وه راغلې ، زما دسترګو لید دحوض هغه اوبو پر لور وروا وښت چې زما زوی یې له ما څخه اخیستی و او زه یې دخپل زوی څخه جلا کړې وم.

دسپوږمۍ رڼا هم داوبو په منځ کې پرقېده ، دد بوال په څنګ کې یوه سپینه پیشو ولاړه وه او زما دراوړو ډالیو پرلوري یې برګ ، برګ کتل.

ډول ، ډول سوچونو او فکرونو پیسې را اخیستی وم ، ماته یوځل بیا دتېر عشق او مینې خاطرې را په یاد شوې او یو ځل بیا درویا کړنې را په یاد شوې ، یو ځل بیا سوچونو پسې واخیستم چې درویا سره مې مینه پیل کړه. رویا بستر شوه ، روغه شوه او با الاخره مړه شوه ، دشهلا سره بلد شوم ، زوی مو وشو ، لږ را غټکی شو او اوس دادی مړ شو ، او بله دا چې اوس مې مېرمن لا څېړنې او تحقیق ته هم تللی. ای خدا یه داڅه حال دی.

ډېره شېبه سوچ وړی وم چې یو وخت کې راپه خود شوم که کسم دشپې درې نیمې بجې وې ، لږ مې حال را ښه شو ، دکوچ پرلوري ولاړم او کراره په کې کښېناستم ، سګرټ مې ولګاوه او بیا هم په سوچ کې ډوب شوم ، لا په سوچ کې وم چې د وره اواز مې تر غوږو شو ،ښه ورته ځیرشوم ګورم چې چاد وره په کلپ کې کلي ور اچولې اوخلا صوي یې.

یوه شېبه وروسته ورخلاص شو ،هرګوره شهلاکورته راننوته ،لومړی خوماته ځیرنشوه خوکله یې چې څراغ ولګاوه نوماته یې پام راواوابښت،له وېرې اوهیجان څخه په خپل ځای کې ودرېده.

هغه کوم فکس چې ماورته رالېږلی و اودې ته مې دراتګ ورځ ویلی وه حیرانه شوه چې څنګه دخپلې ټاکلې ورځې څخه دمخه راغلې یم ، مخکې راغله اوزماسره نږدې پرځمکه کښېناسته اوبې اختیاره یې په ژړا پیل وکړ، خوناڅاپه یې ژړابس کړه اوویې ویل:

(( زه نوره ستا په دردنه خورم ، ماته طلاق راکړه ، زه دبل سړي سره مینه لرم پرحمید مینه شوې یم )).

لیونی شوی وم ، ځان مې په ډېرې ستونزې کنټرول کړ اوترې مې وپوښتل:

((آیا هغه هم له تا سره مینه کوي )).

دامهمه نه ده ، داچې زه ورسره مینه کوم بسیاده، ته بویه ماته طلاق راکړې ، ځکه زه اوس نوره ستا په درد نه خورم)).

ketabton.com - The Digital Library

نه پوهېږم چې څه حالت به مې درلود ،ځکه زوی مې هم مړشوی و ،اوس زما ټول اند دزوی دمرګ په هکله و اودې خبرې ته اصلاً هېڅ ځیر نه وم.
((که چیرې تاته طلاق درکړم نوزمامینه اودزوی مرګ به مې څنګه شي ؟ ) ).
یوه کریحه اوله ملنډو څخه ډکه موسکایې وکړه اوبې له دې چې زما اکرته ځیرشي ویې ویل ((کوم زوی؟ هغه خومړشوی دی ) ) ناڅاپه برق ونیولم ،اولکه چیتا یا پړانګ له ځایه پاڅېدم ،ځان مې ښه په درز کې لړزېده،وینومې دسترکوپردې ونیولې . اودځان په کنټرولولونوربریالی نشوم ،لکه ټپی مارمې دهغې پرلور ور ودانګل اوبرغل مې پرې وکړ،هېڅ نپوهېدم چې څه کارکوم،همدومره پوه شوم چې دهغې وینښتان مې له لاسونو څخه تاوکړل ،سترګې یې برقې برقې راوتلې وې اوله خولې څخه یې دشرابو ناولې اوګنده بوی راتلو په زاریو اوعُذر یې پیل وکړ،خوزه په خودنه وم ماداسې اکر نه درلود چې دهغې خبرې واورم یاونغوږم یو ډول ځانګړی کرکې اونفرت مې پرذهن برغل کړې و.
په هغه شېبه کې راته خپل هرڅه برباد شوي ښکارېدل اوپس له دې راته نور ژوند ،خونداورنګ نه درلود.
همداسې دغوسې اوغضب نه لړزېدم ، لاسونه مې دهغې دستوني څخه حلقه کړل اودخپل بدن په ټول توان سره مې دهغې ستونی زورکړ،رنګ یې شین اوتور واوښت، سترګویې عجیبه اکر غوره کړ اووجودیې لکه ماته شوی څانګه له واکه ووت اوهماغسې مې خوشې کړه اوپه داسې حال کې چې ډېر سخت ناارامه اوبېړنی اکرمې درلود له کوره ووتم اوډېره شېبه په واټونو او پارکونو کې ګرځېدم چې له هغې وروسته لاړم اوپولیسوته مې ځان وسپاره ، پولیسوهم ماموریت ته بوتلم اودادې دماموریت له لارې لړۍ په لړۍ تردې ځایه راورسېدم.
نورپاتې شونې خبروباندې تاسې هم ښه پوهېږئ.
ماچې تر ننه پورې چوپتیاغوره کړې وه اوپه خوله مې مهر لګولی و ،دهمدی لپاره چې دخلکواوټولنې په منځ کې بې آبه اوبې عزته نشم نودادې تاسې اړکړم هغه څه چې مانه غوښتل په ژبه راوړم راباندې مو وویل اودټولنې اوچاپېریال په مخ کې موبې عزته اوبې حیثیته کړم ، زه نن دخپل ژوند د کړاونوپه څرګندولو سره یو څوک یم بې برخلیکه.
اوس ماته د ژوند ښه اوبد هېڅ ارزښت نلري ،ژوند ماله ماته راکړې اودټولنې په منځ کې یې نا بوده کړم. نن چې هغه څه ماوویل هېڅ ډول دلیل ورته نلرم او تېنګار هم نه کوم چې

ketabton.com - The Digital Library

تاسې ښاغلي قاضي اوقاضيان زما خبرې اوڅرګندونې ومنئ ، خو هيله من يم چې زما دچوپتيا اوسکون په رازخوحداقل پوه شوي واوسئ چې همدا زما لپاره بس اوکافي دي.

زه تل دبې آبۍ نه ډارېدم اونن چې مې دا راز ټولوته څرګند کړاوټولوګډونوالوپه منځ کې مې هرڅه په ژبه راوړل نواوس هيله کوم چې مړشم اوددې بې مانا اوکړېدونکي ژوند څخه خلاصي ومومم.

زه اوس په يوې وژني تورن يم اوپه خپل جرم اعتراف هم کوم ،خوپه هرحال زه يو انسان يم ،داسې انسان چې دټولنې څخه بې زاره وي اوپه ټولنه کې يوازې وي.

حتىٰ زوی يې مړشوی ،مينه يې مړه شوې ،ښځه يې مړه شوې اوخپله به هم يوه ورځ مړشي.

زړه مې غواړي چې تاسې ښاغلي قاضيان چې زه موځماکمه کړی يم اوپه حقيقت کې دټولنې رهبري هم په غاړه لرئ ، په دې پوه شئ چې که څېرې کوم ځوان قرباني کيږي دناسالمې روزنې اوغلط چاپېريال له کبله کيږي حتیٰ تاسې هم نشئ کولای دعوا وکړئ چې خپل اولادونه مودټولنی نن يا سبا لپاره په خورا ښه توګه روزلي دي ، نوراشئ اوهغه ډول چې ټولنه اوچاپېريال يې غوښتنه کوي وروزئ دمينې، دعشق دژوند اودټولوشيانوپه هکله ورسره په بې پروايۍ خبرې وکړئ اوهغه پرده چې ستاسې اوهغوی ترمنځ فاصله اوواټن پيدا کوي ليرې کړې.

که څېرې مين شول نوکوښښ دې وکړي چې خپلې مينې ته درناوی ولري اوکه څېرې کومه ستونزه ورته په ټولنه کې پيداشوه نوکوښښ دې وکړي چې په همغه لومړيو کې يې حل کړي ځکه که څېرې اوږده شوه اوغځونې يې وکړې نوشونتيايې شته چې زما په برخليک اخته شي.

زه نن په يوه داسې ځانګه ناست يم چې هره شېبه يې د وچېدوشونتيا شته خو دا تاسې هستئ چې دټولنې دځوان کول ( نسل ) اوځانګودوچېدومخنيوی کولای شئ اودهغوی ژوند خوندي ساتلای شئ.

له تاسې ټولوڅخه مننه کوم چې زما خبروته موغوږ کېښود اوپه پوره اوسيلې مووااورېدې ،تاسې ټول کولای شئ چې په ازادانه توګه زما په حق کې قضاوت وکړئ اورايه صادره کړئ.

په هرحال ماته اعدام اوزندان دواړه يودي اوله تاسوتولوڅخه هيله هم کوم چې هېڅ ډول رحم اواستثناعات زماپه برخه کې په پام کې ونه نيسئ اوډاډه اوسئ که څېرې داعدام

ketabton.com - The Digital Library

حکم هم راته واوروئ نوخوشاله به شم ،ځکه دیودردونکي او رنځوونکي ژوند څخه به خلاص شم.
که رښتیا ووایم نودزندان دکړېدلي ژوند اودهرځل ژوندي کېدواومړه کېدوڅخه به وژغورل شم اودابه موراسره لوی احسان هم کړی وي ، نورنوڅه خبرې نه لرم او چمتویم چې دمحکمې حکم واورم چې زما په برخه کې څه حُکم صادروئ.
ناڅاپه دګڼونوالوهاها اوغوغا دمحکمې ارامه فضا خرابه کړه تورن په داسې حال کې چې اوښکې یې له سترګوڅڅېدې اولکه اوبه رارواني وې په خپله ځوکۍ کښېناست دمحکې رئیس دتفریح اعلان وکړ اودخپلو قاضیانو سره یوځای دمجلس یا شوراخونې ته دپرېکړې په موخه ننوتل.
څلورساعته دمحکمې قاضیان دشوراپه خونه کې ول ،هغې نه وروسته په داسې حال کې چې دټولوپه بدن کې دسترېانښې له ورایه ښکارېدې له خونې راووتل ، د هغې نه وروسته تفریح خلاصه شوه اودمحکمې رسمیات بیا پیل شول ،دمحکمې قاضي دتورن لپاره پنځلس کاله دبامشقت بند اعلان وکړاومحکمه پای ته ورسېده.
مجرم په داسې حال کې چې په بشپړه توګه غلې ولاړ و دمحکمې دابلاغیې اسناد یې لاسلیک کړل اوبې له دې چې دځان دسپیناوي یا قید دکمېدوپه پا رڅه ووایي په ټيټ سر دموظفوپولیسو سره یوځای دجېل پرلوري روان شو.
دبهمن دمحکومیت خبر دهماغه ورځې په پیل کې ورځپاڼوخپورکړاوډېری خلکو چي دبهمن دژوند کیسه په ورځپاڼوکې ولوسته نو ناڅاپه په ژړاشول ،اودغه کیسه دیوڅه وخت وروسته بېرته په خاموشۍ بدله شوه اوله هرچا څخه هېره شوه.

په داسې حال کې چې دبهمن دژوندتریخ برخلیک په دې ځای کې پای ته ونه رسېد اوهغه یوازې څومیاشتې په زندان کې پاتې شو ،ځکه دڅومیاشتووروسته یوه ورځ دزندان پازه والو د اوړي په یوه ګرمه ورځ کې دهغه توراوشین شوی جسد دزندان له یوه کونج څخه پیداکړدهغه جنازه یې دعدلیې روغتون ته بوتله ترڅودمړګ لامل یې پیداکړي چې دڅه شي په وسیله مړشوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

عجیبه خوداده چې دبهمن له جنازې سره جوخت یوساعت وروسته دیوه روغتون څخه دیوبل ځوان مړی هم دعدلیې روغتون ته دکتنې (معا ینې ) لپاره راوستو ،چې وروسته معلومه شوه چې دادویمه جنازه دبهمن ملګری (حمید ) و.
دحمید دجنازې له څېړنو څخه معلومه شوه چې دحمید له واده څخه دوه میاشتې وروسته چې کله هغوی دخپل واده دتفریح ( عسل ) میاشت لپاره بهرته تللې ول ، نوحمید په خپل وروستي موډل موټرکې ناست ودموټردسرعت دتېزوالي له کبله موټردکوم څه شي سره ټکرکړی اومېرمن یې په دې پېښه کې مړه شوې ده نوپه دې پېښه کې حمید هم ټپي شوی و اوڅه موده وروسته لیونی شوی دی اوبالاخره داچې څوورځې وروسته په یوه روغتون کې یې ځان وژلی دی.
نوپه دې توګه پنځ (طبیعت ) اوټولنې له حمید څخه دبهمن غچ اخیستی و اوهغه یې دمرګ ترپولې رسولی و.
دحمیدجنازه خپلوانویې له روغتون څخه بوتله اودبهمن جنازه هېڅ یوخپل یې بونه تله اونه یې دده پوښتنه وکړه . نوپه دې اساس دولت دهغه جنازه پورته کړه او د روغتون په امبولانس کې یې دښارعمومي هدیرې ته بوتله اوهملته یې خاوروته وسپارله ، خو کله چې دبهمن دجنازې امبولانس دعدلیې له روغتون څخه وتلونو دآسمان هم سترګې ژړغونې وې اوباران په وربدو پیل وکړ، شاید دا درویااوښکې وې چې دباران په توګه له اسمان څخه راښکته کېدلې اودخپل محبوب اوعاشق په ناوړه اوکرغېړن برخلیک یې ژړل.
هغه یې هدیرې ته بوت اوڅو سپین ږیرو بوډاګانو یې جنازه خاوروته وسپارله خو نومړي هېڅ څوک نه درلودل چې دهغه پسې وژاړي اوغټې غټې اوښکې پسې تویې کړي اویایې هم په قبردګلو ګېډۍ کېږدي.
هغه په یوازوکې یوازې ؤ.....
شاید دخپلې وینا له مخې یې نومړی هغه څوک ؤچې:
زوی یې مړشوی .....مینه یې مړه شوې ....مېرمن یې مړه شوې ......اوبالاخره خپله یې هم مړه شوی ؤ.....

پای

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*